افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معينيت

د سلام پوهنتون
د شرعياتو پوهنځۍ
د فقه او قانون ماسترۍ پروګرام

# د ښځو په میراث کې د شریعت مقاصد

(د ماسترۍ رساله)

محصل : خليل الرحمن "صديقي"

اشراف : استاد وزير محمد " سعيدي"

سنة ۱۴۰۲ش موافق1445ق

افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معينيت

د سلام پوهنتون
د شرعياتو پوهنځۍ
د فقه او قانون ماسترۍ پروګرام

# د ښځو په مېراث کې د شريعت مقاصد

(د ماسترۍ رساله)

محصل : خليل الرحمن "صديقي"

اشراف : استاد وزير محمد " سعيدي"

سنة ۱۴۰۲ش موافق1445ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## علمي معاونیت

### د فوق لیسانس برنامو آمریت

### د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقهې او قانون ماستری برنامه

---

# تــصـديـق پـــانـــه

ښاغلی ( خلیل الرحمن ) د ( محمد صدیق ) زوی د ID: SH-MSF-S1401-901 نمبر لرونکي، د فقهې او قانون د ( لسمی ) دورې محصل، خپله د ماستری مرحلې رساله چې عنوان یې دی:

<u>( د ښځو په میراث کې د شریعت مقاصد )</u>

په 19/11/۱۴۰۴ هـ ل نېټه بریالیتوب سره دفاع کړه او د حـــکم پلاوي د ارزونې پر بنسټ د 92 (نمرو په عدد) نوی دوه (نمرو په حروفو) ور وګرځېد، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي غړي :

| شماره | داستاذ نوم | مسئولیت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور نجیب الله صالح | دحکم پلاوي غړی | |
| ۲ | دکتور عبدالملک ثاقب | د حکم پلاوي غړی | |
| ۳ | استاد وزیر محمد سعیدي | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

د فوق لیسانس برنامو آمر..........................

علمي مرستیال ..........................

**ډالۍ**

دا رساله زما ګرانو والدينو رحمهم الله تعالى ته ، د ژوند ملګرې،او خپلو زيار کښو اولادونو ته ،چه په سختو ورځو کې يی د مشکلاتو په ګاللو سره بيا هم زما د مخکې تللو لپاره يی قربانۍ ورکړې، او بيا هغه چاته ډالۍ ده چه زه يی پوهنې او د پوهې حاصلولو ته هڅولې يم،او زما د هيواد هغه سپيڅلي شهيدان چه يواځېنی هدف يې د الله جل جلاله رضا ترلاسه کول او دې وطن کې د اسلامي نظام استحکام وو،همدا رنګه خپلو زيارکښو ټولو استادانو جناب دکتورمصباح الله عبدالباقي،محترم دکتوررفيع الله عطاء،محترم دکتورنجيب الله صالح ، محترم دکتور اواب صافی، محترم دکتور عبدالله حقيار،مناقش استاد دکتور عبدالملک ثاقب او خصوصا رهنما استاد محترم استاد وزير محمد (سعيدي) صاحب ته چه زما سره يی د رسالې په ليکلو کې يی ډيره مرسته او لارښونه کړيده ، دشرعياتو پوهنځي د ماسترۍ څانګې د بورډ آمر صاحب جناب دکتور مخلص او اداري ملګري يې ادريس جان وغيره ، دپوهنتون جناب علمي او اداري مرستيالان، اداري کارکونکي اوزما د صنف ډير محترم د اخلاقو او علم نمونه ملګرو علمای کرامو ته چه زه کم علمه او بې علمه يې په دې سن وسال کې د ځانونو سره په صنف کې په ډير ادب او احترام برداشت کړم يې ډالۍ کوم .

منڼه

خليل الرحمن (صديقي)

## مننه

لومړی د خپل پرودګار اوسپيڅلي رب ډېر شکر اداء کوم چه ما ته یی دا توفیق راکړ او په ما ګنهګار بنده یی د علم زده کولو احسان وکړو، او دعلم د زده کړئ لاره یی راته آسانه کړه، او د ماسترئ د اکمال توفیق یی را په برخه کړو،بیا د عالی تحصیلاتو د محترم وزارت څخه هم منندوی یم چه په دې شرایطو کې محصلینو ته د زده کړې زمینه برابروي، او د سلام پوهنتون د ریاست د عالي مقام څخه ډېره زیاته مننه کوم چه ما کم علمه او نا توانه ته یی د یوې اوږدې وقفې څخه وروسته يي یو ځل بیا د زیاتو علومو او د اعلی درجاتو د حاصلولو لپاره زمېنه برابره کړه ، ترڅو وکولاې شم چه لا مخکې لاړ شم، همدا رنګه د شرعیاتو پوهنځی ماسترئ بورډ څخه هم زیاته شکریه اداء کوم چه هر وخت یی راته پوره رهنمایی او هم یی راسره زیاته همکاري کړی ده،په تیره بیا د خپلو ډېرو محترم او قابل د قدر ټولو استادانو څخه ډېره مننه کوم چه د علم په ښودلو او د هر قسم سوالاتو په ځوابولو کې یی راسره همکاري کړیده ، الله جل جلاله دې سلام پوهنتون ته نوره ډېره ترقي ورکړي ترڅو په نړیواله کچه د نړیوالو پوهنتونو سره په یو صف کې ودریږي،او د خارج هیوادونو محصلان په افتخار سره په سلام پوهنتون کې د زده کړو لیوال شي، او د علم حاصلولو لپاره د سلام غیږې ته راشي.

## د بحث خلاصه

دا بحث د ښځو د مېراث او په هغه کې د شریعت د مقاصدو په هکله ترتیب شویدې، چه د ډېرمشفق او مهربانه محترم استاد وزیر محمد (سعیدي)تر اشراف او لارښونې لاندې ترتیب او تکمیل شوه چه خلاصه په لاندې توګه ده:

1. په دې بحث کې به د میراث او مقاصدو پیژندنه، اهمیت، ضرورت،په تفصیلي ډول بیان شوی دی.
2. په دې بحث کي د میراث ارکان، شرایط، اسباب،دلایل،موضوع ،غرض، فضیلت، شرف، د اسلامي شریعت د نورو شرائعو څخه امتیازات، سرچینه،اهم اصطلاحات،د میراث تاریخچه په تفصیل ذکر شوی دي.
3. په دې بحث کې د دې پوښتنې ځواب چه ولې د اسلام مقدس دین ښځو ته د نارینه په تناسب نیمایی میراث ورکړی دی.
4. همدا رنګه په دې بحث کې د رسالې د لیکلو میتود،مشکلات ،د میراث حالات،او د ښځو په میراث کې د شریعت مقاصد،د مستشرقینو او د هغوی عقاید او اعترضات، او په پای کې د ټول بحث نتیجه، وړاندیز په تفصیلی شکل ذکرشوی دی.

## فهرست


.................................................................................................................................أ

ډالۍ .....................................................................................................................................أ

مننه.......................................................................................................................................ب

د بحث خلاصه ........................................................................................................................ ج

مقدمه.........................................................................................................................................1

د موضوع پيژندنه: .......................................................................................................................1

د موضوع اهميت............................................................................................................................1

د موضوع د غوره کولو اسباب..........................................................................................................3

د تحقيق اصلي پوښتني ...................................................................................................................4

د مېراث او د شريعت د مقاصدو په هکله مخکېني تحقيقات او د تحقيق ضرورت او نوښت ..............................4

پخواني تحقيقات......................................................................................................................... 4

د تحقيق مواد ............................................................................................................................. 5

د تحقيق روش او مشکلات ............................................................................................................. 5

خطه (پلان)...................................................................................................................................7

لومړي فصل د ښځو ميراث او د شريعت د مقاصدو فلسفه.....................................................................10

لومړی مبحث : د ښځو د مېراث پيژندنه ........................................................................................ 11

لومړي مطلب : اهم اصطلاحات .............................................................................................. 11

دويم مطلب : د مېراث د علم مبادئ.......................................................................................... 13

دريم مطلب: د ښځو د ميراث اصطلاحي او فقهي تعريف ................................................................ 13

دويم مبحث: د ښځو د مېراث فلسفه، مقاصد او تطبيقي ابعاد ............................................................... 17

لومړی مطلب: د ښځو د مېراث تاريخي وضعيت ............................................................................. 17

دويم مطلب: د ښځو د مېراث فلسفه او شريعت مقاصد .................................................................... 17

دريم مطلب:د ميراث حکمت او اهميت د شريعت له نظره ................................................................ 18

دريم مبحث: د ښځو د مېراث تاريخچه............................................................................................ 24

لومړی مطلب: د اسلام څخه د مخه د ښځو مېراث......................................................................... 24

دويم مطلب: په ځينو موجوده ټولنو کي د ښځو ميراث .................................................................... 31

درېيم مطلب: په اسلامي شريعت کې د ښځو مېراث ....................................................................... 33

څلورم مطلب: د اسلامي شريعت د نورو قوانينو څخه امتيازات........................................................... 36

پنځم مطلب: د اسلام په مقدس دين کي ښځېنه ؤ ته د مېراث د ورکړې دليلونه ...................................... 37

څلورم مبحث: د شريعت مقاصد..................................................................................................... 42

لومړی مطلب: د مقاصدو تعريف .............................................................................................. 42

درېيم مطلب: د مېراث په باب د ضروري مصالحو تحقق.................................................................. 51

څلورم مطلب: د حاجيه مصالحو تحقق ........................................................................ 52
پنځم مطلب: د تحسيني مصالحو تحقق ........................................................................ 52
شپږم مطلب: د مېراث فلسفه او معيار........................................................................ 52
دويم فصل د مېراث حالات او د شريعت مقاصد ........................................................................54
لومړي مبحث : د ښځېنه ؤ د مېراث حالات او د شريعت مقاصد ........................................................ 55
لومړي مطلب : د لور د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد ............................................ 55
دويم مطلب : دځوی لور(لمسی) د لورګانو په شان ده خو دوي شپږ حالتونه لري:............................ 55
دريم مطلب : د مور د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد: ............................................ 56
څلورم مطلب: د خويندو د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد ......................................... 58
پنځم مطلب: د نيا د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد................................................ 59
شپږم مطلب: د ښځې(زوجي) د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد ..................................... 59
دويم مبحث : د مېراث په هکله د اسلامي شريعت او نوروقوانينو تر مېنځ مقارنه ................................... 60
لومړي مطلب : په اسلامي شريعت کې د ښځېنه ؤ مقام او مرتبه..................................................... 60
دويم مطلب : د اسلامي نظام او موجوده غير اسلامي نظامونو تر مېنځ د ښځې د مېراث په هکله مقارنه .... 67
د دويم فصل خلاصه........................................................................ 70
د لومړي او دويم فصلونو ترمينځ اړيکه........................................................................ 71
دريم فصل د مېراث په مسئله د مستشرقينواعتراضات او جوابات ........................................................72
لومړي مبحث: مستشرقين ........................................................................ 73
لومړي مطلب: استشراق څه ته وايي........................................................................ 73
دويم مطلب: د استشراق تاريخچه ........................................................................ 74
دريم مطلب: د مستشرقينوعقيده ډلي او قسمونه........................................................................ 76
دويم مبحث: د مستشرقينو اعتراضات........................................................................ 79
لومړي مطلب: د مستشرقينو اهداف او مقاصد ........................................................................ 79
دويم مطلب: د مېراث په مسئله د مستشرقينو اعتراضات ........................................................................ 80
دريم مطلب: د مستشرقينو داعتراض ځوابونه اوهغه حالت چه ښځېنه پکې د نارينه ؤ په شان مېراث اخلي.. 83
څلورم مطلب: هغه حالات چه ښځېنه د نارينه ؤ څخه زيات يا کم مېراث اخلي.................................. 84
پنځم مطلب: هغه حالت چه ښځېنه پکې مېراث اخلي او نارينه ؤ ته نه ورکول کېږي ............................. 86
شپږم مطلب : د ښځو په هکله د نبي صلى الله عليه وسلم توصيات اوتينګار ........................................ 87
نتيجه: د اسلامي شريعت د ټولنيزو حقونو او ښځو د کرامت تثبيت........................................................91
ملخص البحث ........................................................................95
دقرآنی ايتونو فهرست ........................................................................96
د نبوي احاديثو فهرست ........................................................................98

د اعلامو فهرست ........................................................................................................................ 100
مصادر او مراجع......................................................................................................................... 101
Summary of the Research ......................................................................................... 104

## مقدمه

**الحمد لله أهل الحمد ومستحقه، حمداً لا نهاية لحده، والصلاة والسلام على من بين الحلال من الحرام،، سيدنا ونبينا محمد وعلى آله وصحبه، وبعد...**

## د موضوع پیژندنه:

د اسلام مقدس دين يو كامل او مكمل دين دی چه د انسانانو د تخليق سره سم یی ورته دعملي ژوند لپاره عظيم الشان قانون اولاربنود قرانكريم را ليږلی دی او هرچا ته یی خپل خپل حقوق او حدود ټاكلي دي.

دا موضوع د ښځو د مېراث او په هغې کې دشریعت د مقاصدواود مستشرقینو د اعتراضاتو او ځوابونو په اړه ترتيب او ستاسي درانه حضور ته وړاندې كېږي، دا چه ښځه په پخوانیو زمانو کې د ذلت او سپکاوي سره مخامخ وه، د مثال په توګه :

په جاهلیت کې به د نورو شیانو په شان کونده ښځه هم په میراث کې وړل کیدله، د لور لپاره د پلار په میراث کې ، د ښځې لپاره د میړه په میراث کې او د مور لپاره د اولاد په میراث کې برخه نه ورکول کیدله.

الله ﷻ امر وکړو که میراث کم وی که زیات د ښځو حصه مقرر شوی ده، لورګانې به یی ژوندۍ ښښولې ، اسلام ښځو ته د تعلیم ،کار کولو، ملکیت حق ورکړو ، د نکاح لپاره یی د ښځې رضاء شرط وګرځوله.

## د موضوع اهمیت

د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د میراث علم او په ځانګړي ډول د ښځو میراث، د شریعت د مقاصدو له مهمو تطبیقي ساحو څخه شمېرل کېږي.

دا علم د عقیدې له علم وروسته د اسلامي علومو له سترو او بنسټیزوعلومو څخه ګڼل شوی او په نصوصو کې یې پر زده کړه، تدریس او تطبیق ټینګار شوی دی. د میراث د علم اهمیت هغه مهال لا څرګندېږي چې د شریعت د مقاصدو له زاویې وکتل شي؛ ځکه میراث د مال د ساتنې، د نسب د ساتنې، د عدالت د تحقق، او د ټولنیز توازن له اساسي مقاصدو سره مستقیم تړاو لري.

د میراث قوانین په صراحت سره د قرآن کریم او د نبي کریم ﷺ له سنتو څخه اخستل شوي دي. الله جل جلاله د سورة النساء په (۱۱، ۱۲، ۱۷۶) آیتونو کې د مور، پلار، زوی، لور،

مېره، ښځې، ورونو او خویندو د میراث حالات او برخې په خورا تفصیل سره بیان کړي دي. دا تفصیلي بیان پخپله د دې علم پر اهمیت او د شریعت پر مقصود دلالت کوي، ځکه د شرعي احکامو له ډلې ډېر لږ داسې احکام شته چې د قرآن کریم په متن کې په دومره وضاحت او شمېرنې دقت سره ذکر شوي وي. هغه میراثي مسائل چې په قرآن کریم کې په ځرګند ډول نه دي راغلي، د نبي کریم ﷺ په سنتو کې تشریح شوي دي؛ لکه د پلارنۍ او مورنۍ نیا، لمسي او لمسۍ، او د اصحاب الفروضو په شتون کې د عصبه ؤ د میراث احکام.

که چیرې ځینې جزئي میراثي مسائل نه په قرآن کریم او نه په نبوي سنتو کې په صراحت سره موجود وي، نو هغه د خلفای راشدینو، په ځانګړي ډول د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما د خلافت په دورو کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم د اجماع له لارې حل شوي دي؛ لکه د نیکه مسئله، د عیني او علاتي ورونو او خویندو احکام، مشترکه مسئله، عمري مسئله، اکدریه مسئله، عَول او رَد، او نور نظري او تطبیقي اصول. دا اجتهادي پرمختګونه هم د شریعت د مقاصدو پر بنسټ ولاړ دي، څو د عدالت، اسانتیا او د خلکو د حقوقو ساتنه یقیني شي.

نبي کریم ﷺ د خپل مبارک ژوند پر مهال د میراث د علم زده کړې ته ځانګړې پاملرنه کړې او صحابه کرامو ته یې د دې علم د زده کړې توصیه کوله. په احادیثو کې راغلي چې دا علم به تر ټولو لومړی د خلکو له سینو څخه پورته کېږي. همدارنګه، نبي کریم ﷺ د میراث په علم کې د زید بن ثابت رضي الله عنه ځانګړی مهارت ستایلی دی، لکه څنګه چې په ترمذي او ابن ماجه کې د حضرت انس رضي الله عنه له روایت څخه نقل شوی دی: «وأفرضهم زید بن ثابت» زما په امت کې د میراث په علم کې تر ټولو پوه زید بن ثابت دی.

د دې علم اهمیت له دې څخه هم ځرګندېږي چې صحابه کرامو رضي الله عنهم د میراث علم ته ځانګړې توجه لرله او په دې برخه کې لوړو علمي درجو ته رسېدلي وو. د هغوی له جملې څخه حضرت علي بن ابي طالب، عبدالله بن عباس، عبدالله بن مسعود، او زید بن ثابت رضي الله عنهم د میراث د علم له سترو مراجعو څخه ګڼل کېږي.

د میراث د علم فضیلت او اهمیت هغه مهال لا زیات روښانه کېږي چې الله جل جلاله د ذوي الفروضو د برخو اندازه او مقدار پخپله ټاکلی او دا مسؤولیت یې نه کوم پیغمبر او نه کومې مقربې پرښتې ته سپارلی دی. همدا وجه ده چې د میراث علم ته «نیمایي علم» ویل شوی دی؛ ځکه د شریعت یوه برخه د انسان د ژوند له حالاتو سره تړاو لري، لکه عبادات، او بله نیمایي یې د وفات وروسته له حالاتو سره، لکه میراث او وصیت.

له بلې خوا، د میراث نظام د انساني فطرت سره بشپړ توافق لري. که انسان ته دا اطمینان نه وای چې د ده له وفات وروسته به یې مال مستحقو خپلوانو ته انتقالېږي، نو د کار، کسب او اقتصادي هڅو انګیزه به یې کمزورې شوې وای. د شریعت له نظره د میراث منظم تقسیم نه یوازې د فردي اطمینان سبب ګرځي، بلکې د ټولنیز تکافل، صله رحمي، او اقتصادي دوران

یوه مهمه وسیله هم ده. د مړي مال ضایع نه کېږي، بلکې د وارثانو ترمنځ د عادلانه ویش له لارې په اقتصادي فعالیتونو کې داخلېږي او دا پخپله د مال د ساتنې او زیاتوالي له مهمو مقاصدو څخه دی.

په همدې اساس، د میراث احکام او په ځانګړې ډول د ښځو میراث، د شریعت د مقاصدو یو عملي او ژور تطبیق دی، چې له لارې یې عدالت، انساني کرامت، ټولنیز توازن، او اقتصادي ثبات تحقق مومي.

## د موضوع د غوره کولو اسباب

د ښځو د میراث او د شریعت د مقاصدو موضوع د دې څېړنې لپاره په تصادفي ډول نه ده غوره شوې، بلکې دا انتخاب د یو لړ علمي، ټولنیزو او فکري اړتیاوو پر بنسټ ولاړ دی، چې مهم یې په لاندې ډول دي:

لومړی:
د ښځو د میراث په اړه په افغاني ټولنه کې عملي ستونزې شته او په عین حال کې پر دې مسئله د مستشرقینو له لوري فکري اعتراضات او شبهات مطرح شوي دي. د دې څېړنې اساسي موخه دا ده چې د میراث احکام د شریعت د مقاصدو په رڼا کې وڅېړل شي، څو دا حقیقت روښانه شي چې اسلامي احکام د عدالت، حکمت او ټولنیز توازن پر بنسټ ولاړ دي، نه د تبعیض او ناروا توپیر پر اساس.

دویم:
د اسلام دښمنانو د ښځو د میراث په اړه بېلابېل اعتراضات راپورته کړي او دا دعوه کوي چې ګواکې اسلام د ښځو حق تر پښو لاندې کړی او ښځو ته یې د میراث په برخه کې د نارینه‌وو نیمه برخه ورکړې ده. دا څېړنه هڅه کوي چې دا اعتراضات په علمي، فقهي او مقاصدي دلایلو رد کړي او دا وښیي چې د میراث نظام د عدالت، مسؤلیت او ټولنیزو مکلفیتونو له اصولو سره سم تنظیم شوی دی.

درېیم:
د دې څېړنې بل مهم لامل دا دی چې لوستونکو ته، په عمومي ډول، او مسلمانو خویندو ته، په ځانګړي ډول، یو علمي او ګټور اثر وړاندې شي چې پکې د ښځو د میراث او د شریعت د مقاصدو اړوند مسائل په روښانه، ساده او روانه پښتو ژبه تشریح شوي وي، څو د میراث د علم زده کړه اسانه شي او د اړتیا پر مهال ورته مراجعه وشي.

په پای کې له الله جل جلاله څخه دعا کېږي چې دا علمي هڅه د خپلې رضا سبب وګرځوي او په خپل عالي دربار کې یې قبوله کړي.

## د تحقیق اصلي پوښتنې

د اسلام مقدس دين ښځو ته د ميراث په ورکړې هغوئ ته ولې دومره اعلى مقام ورکړی دی؟

د ښځو په مېراث کې د شريعت مقاصد څه دي؟

ښځې په کومو دلايلو مېراث اخلي؟

ښځو ته د مېراث په ور کولو کې کوم حکمتونه نغښتي دي؟

په نورو دينونو او ټولنو کې ښځو ته په کومه سترګه کتل کېږي؟

د مېراث د ډېروالي او کموالي معيارونه څه دي؟.

چه د دې ټولو پوښتنو ځوابونه په تفصيل سره په فصلونو کې ورکول شوي دي.

## د مېراث او د شريعت د مقاصدو په هکله مخکېني تحقيقات او د تحقيق ضرورت او نوښت

د دې تحقيق نوښت په دې کې دی چې د ښځو د ميراث مسائل يوازې د فقهي احکامو له زاويې څخه نه، بلکې د مقاصد الشريعة له نظره تحليل شوې دي، او همدارنګه د دين دښمنه عناصرو اعتراضات د علمي او مقاصدي تحليل له لارې ځواب شوي دي.

د مستشرقينو اعتراضات د علمي او مقاصدي تحليل له لارې ځواب شوي، چې په پښتو ژبه کې کم شتون لري.

## پخواني تحقيقات

هسې خو عموما د مېراث په هکله ډېر درسي او غير درسي کتابونه په نورو ژبو کې ليکل شوي دي،لکه :

1. السراجية فی المېراث ، د شيخ سراج الدين محمد بن عبد الرشيد السجاوندي کتاب دی.
2. الشريفية شرح السراجية، د مېر سيد الشريف علي بن محمد جرجاني کتاب دی.
3. الفوائد الجلية في المباحث الفرضية : د شيخ عبدالعزيز بن عبدالله بن باز رحمه الله کتاب دی.
4. تسهيل حساب الفرائض : د شيخ سعد بن ترکي الخثلان کتاب دی.
5. التحقيقات المرضية،دکتورصالح بن فوزان عبدالله الفوزان کتاب دی.
6. همدغه شان د شريعت د مقاصدو په هکله لويو علماؤ ليکل کړي دي:

لکه علامه شاطبي رحمه الله ،علامه ابن عاشور رحمه الله، عز بن عبد السلام رحمه الله او د ډیرو نورو علماؤ لیکل موجود دي ، خو په پښتو ژبه کې په دې هکله داسي لیکل نه تر سترګو کیږي چه هغه دې د میراث او د شریعت مقاصد ځیړلي وي.
ما د شریعت درې اساسي مقاصد (ضروریات، حاجیات، تحسینیات) د میراث له احکامو سره تطبیق کړي دي، او ثابته کړې مې ده چې د ښځو د میراث احکام د مال د ساتنې، د کورنۍ د ثبات، او د ټولنیز عدالت د تحقق وسیله ده، نه یوازې یو عددي تقسیم.
دا د تحقیق نوښت دی، ځکه پښتو ژبه کې د ښځو د میراث او شریعت د مقاصدو په اړه ځېړنه نادره ده، او د عامو مسلمانانو لپاره د پوهې آسانه لاسرسی برابروي.

## د تحقیق مواد

د دې لیکنې په ترتیبولو کې د لاندې منابعو او موادو څخه استفاده شوې ده :

1. قرانکریم.
2. تفاسیر
3. نبوي احادیث
4. فقهي احکام د اصل متونو څخه اخستل شوی دي
5. د لغت کتابونه

## د تحقیق روش او مشکلات

1. په دې بحث کې د تاریخي او وصفي منهجونو څخه کار اخیستل شوي دی.
2. همدارنګه د استقرائي او تحلیلي اونقدي منهجونو څخه هم کاراخیستل شوي دی.
3. د علمي موادولټون په معتبرو کتابونو کې ترسره شوي دی،او د هغې تحلیل شوي دی.

او د هغې توثیق په لاندې طریقو سره شوي دی:

1. په کوم ځای کې چه کېدلې شول نو اصلي مصادرو ته رجوع شوې ده،او که اصلي مصادرو ته لاسرسی نه دی شوي ،نو د نورو مراجعو څخه استفاده شوې ده .
2. د علمي امانت په طور په لازمي توګه د اقوالو نسبت د هغې خاوندانو ته شوي دی.
3. د قرأني ایاتونو نسبت د سورت د نوم په یادولو او د ایت د نمبر په ذکر کولو سره شوي دی.
4. د نبوي صلی الله علیه وسلم احادیثو تخریج د احادیثو د اصلي کتابونو څخه شوي دی،د مصدر د نوم په یادولو بیا د هغه د مصنف نوم او شهرت، د کتاب او باب او د حدیث د نمبر په ذکر کولو،د نشر په هکله د معلوماتو او د تحقیق کونکې

او د اجزاؤ د تعداد په ذکر کولو سره شوي دی، او د حديث د درجې او حکم يادونه هم شوې ده.

5. کوم نصوص چه په حرفي ډول نه دی اقتباس شوي په حاشيه کې مو د "وګوره" په کلمه سره ورته اشاره کړې ده.
6. په لومړي ځل مو د مصادرو او مراجعو په هکله پوره معلومات ذکر کړی دی،بيا ځلي مو د نشر مختصر معلومات ذکر کړي دي،او د مصادرو او مراجعو په فهرست کې مو تفصيلي معلومات ذکر کړي دي.
7. د تحقيق مشکلات هم دادي چه د ځينو اصلي مصادرو نشتوالی، ژبني محدوديتونه، او د مستشرقينو د اعتراضاتو دقيق تحليل د تحقيق ستونزې وې.

# خطه (پلان)

**مقدمه**

لومړی فصل : د ښځو مېراث او د شريعت د مقاصدو فلسفه

لومړی مبحث : د ښځو د مېراث پېژندنه

لومړی مطلب:  اهم اصطلاحات

دويم مطلب: د ميراث د علم مبادئ

دريم مطلب: د ښځو د مېراث اصطلاحی او فقهی تعريف

دويم مبحث : دښځو د ميراث فلسفه ،مقاصد او تطبيقی ابعاد

لومړی مطلب:د ښځو د ميراث تاريخی وضعيت

دويم مطلب:د ښځو د ميراث فلسفه او د شريعت مقاصد

دريم مطلب :د ميرا حمت او اهميت د شريعت له نظره

څلورم مطلب: د ښځو د ميراث د تطبيق ستونزې او د شريعت حل لارې

پنځم مطلب:د ښځو د ميراث په اړه معاصر قوانين او د اسلامي شريعت مقايسوي تحليل

دريم مبحث: د ښځو د مېراث تاريخچه

لومړی مطلب: د اسلام څخه د مخه د ښځو مېراث

دويم مطلب: په ځينو موجوده ټولنو کې د ښځو ميراث

درېيم مطلب: په اسلامي شريعت کې د ښځو مېراث

څلورم مطلب: د اسلامي شريعت د نورو قوانينو څخه امتيازات

پنځم مطلب:  په اسلامي دين کې ښځينه ؤ ته د مېراث د ورکړې دليلونه

دريم مبحث: د شريعت مقاصد

لومړی مطلب: د مقاصدو تعريف

دويم مطلب: د مقاصدو انواع

درېيم مطلب: د مېراث په باب د ضروري مصالحو تحقق

څلورم مطلب: د حاجيه مصالحو تحقق

پنځم مطلب: د تحسيني مصالحو تحقق

شپږم مطلب: د مېراث فلسفه او معيار

دويم فصل د مېراث حالات او د شريعت مقاصد

لومړي مبحث : د ښځېنه ؤ د مېراث حالات او د شريعت مقاصد

لومړي مطلب : د لور د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد

دويم مطلب : دځوى لور(لمسۍ) د لورگانو په شان ده خو دوي شپږ حالتونه لري

دريم مطلب : د مور د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد

څلورم مطلب: د خويندو د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد

پنځم مطلب: د نيا د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد

شپږم مطلب: د ښځې(زوجې) د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد

دويم مبحث : د مېراث په هکله د اسلامي شريعت او نوروقوانينو تر مېنځ مقارنه

لومړي مطلب : په اسلامي شريعت کې د ښځېنه ؤ مقام او مرتبه

دويم مطلب : د اسلامي نظام او موجوده غير اسلامي نظامونو تر مېنځ د ښځې د مېراث په هکله مقارنه

دريم فصل د مېراث په مسئله د مستشرقينو اعتراضات او جوابات

لومړي مبحث: مستشرقين

لومړي مطلب: استشراق څه ته وايی

دويم مطلب: د استشراق تاريخچه

دريم مطلب: د مستشرقينوعقيده ډلې او قسمونه

دويم مبحث: د مستشرقينو اعتراضات

لومړي مطلب: د مستشرقينو اهداف او مقاصد

دويم مطلب: د مېراث په مسئله د مستشرقينو اعتراضات

د ميراث د توپير دري معيارونه

دريم مطلب: د مستشرقينو داعتراض ځوابونه اوهغه حالت چه ښځېنه پکې د نارينه ؤ په شان مېراث اخلي

څلورم مطلب: هغه حالات چه ښځېنه د نارينه ؤ څخه زيات يا کم مېراث اخلي

پنځم مطلب: هغه حالت چه ښځېنه پکې مېراث اخلي او نارينه ؤ ته نه ورکول کيږي

شپږم مطلب : د ښځو په هکله د نبي صلى الله عليه وسلم توصيات او ټينګار

نتيجه: د اسلامي شريعت د ټولنيزو حقونو او ښځو د کرامت تثبيت

وړانديز:

دقرانى اياتونو فهرست

د نبوي احاديثو فهرست

د اعلامو فهرست

مصادر او مراجع

د موضوعاتو فهرست

## لومړي فصل
## د ښځو میراث او د شریعت د مقاصدو فلسفه

**هدف :**د ښځو د مېراث د حقوقو بنسټيز اصول، اهميت او د شريعت مقاصد په نظرياتي او فقهي توګه روښانه کول

## لومړی مبحث : د ښځو د مېراث پېژندنه

### لومړي مطلب : اهم اصطلاحات

مهم اصطلاحات په دي علم کي دادي :

١ - فرض : په لغت کي د تقدير او د قطع معنى لري([1]).

په اصطلاح کي : هغه برخه چې د وارث لپاره د قرآن، سنت او اجماع په اساس مقرر شوې وي، لکه اتمه يا څلورمه برخه، چې د عول يا رد څخه نه کميږي او نه زياتيږي. ([2]) .

٢ : سهم - داصل مسئلې څخه وارث ته يوه خاصه برخه ده .

٣ : ترکه – دمړي څخه پاتې مال چه هغه عين يا نقدې وي يا حقوق وي چه د مړی ملکيت وي([3]) .

٤ : نسب -د انساب مفرد دی،او نسب قرابت او خپلوئ ته کارول کيږي,جمع يي انساب ده ، يو چا ته يي منسوب کړې،مصدر يي نسبت دی,چا ويلي دي: چه نسب خاص وي د پلارانو پورې، اوځيني وايی: چه ملکونو او ښارونو او کسبونو ته هم نسبت کيږي، ځويتوب (ځوی کېدل)پلارتوب (پلارکېدل)يا په يو ددې دواړو پورې تعلق نيول دي([4]) .

٥ :جمع اوعدد- ديوه څخه زيات ته ويل کيږي لکه دوه لوڼه يا زياتې لوڼه .

---

[1] : أبو الفضل، جمال الدين ابن منظورأنصاري إفريقى (متوفى: 711هـ),لسان العرب ج2 ص 1077,ناشر: بيروت طبعة: ثالثة - 1414 هـ عدد الأجزاء: 15

[2] ابن باز , عبد العزيز بن عبدالله بن باز مفتي عام السعودية ,الفوائد الجلية في المباحث الفرضية: ,ج 1ص13 ,ناشر : المملكة العربية السعودية تاريخ النشر : 1418هـ

[3] : جرجاني, علي بن محمد بن علي الزين الشريف الجرجاني (المتوفى: 816هـ)التعريفات ج1 ص56,ناشر بيروت –لبنان,طبعة: أولى 1403هـ -1983م عدد أجزاء: 1

[4] : ابن منظور الأنصاري, محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين إفريقى (متوفى: 711هـ) ناشر: بيروت طبعة: ثالثة - 1414 هـ عدد أجزاء: 15

٦ : أصل – په لغت کې : د هر شي بیخ ته ویل کېږي،او چه کله مطلق ذکرشي نو مراد ترینه پلار مور ، صحیح نیکونه ، دپلارله طرفه صحیح نیاګانې که هرڅومره پورته وي([1])
.

کله چه وویلې شي چه نارینه اصل نومراد ترینه پلار اونیکه وي .

٧ :فرع – په لغت کې: د اصل خلاف ته ویل کیږي ،او هغه څه دي چه په بل باندې بناء شوي وي،خو کله چه د میراث په مسایلوکې فرع مطلق ذکرشي مقصد ترینه دمړي ځوی یالور ،دځوی ځوی یادځوی لور وي که هرڅومره په درجه کې ښکته وي ،کله چه وویل شي د(مړي اولاد) نو مراد ترینه ځوی یالور ،دځوی ځوی یا دځوی لور که هرڅومره په درجه کې ښکته شي([2]).

دځوی ځوی دځوی په ځاي ودریدلې شي ،لکن دورورځوی دوروروپه ځاي نشي ودریدلی .

دپلار اولاد : مقصد ترینه ورونه خویندې سکه وي که پلارنۍ .

دنیکه اولاد : مراد ترینه سکه تره یا یې د پلار پلارنۍ ورور دی ،یا د دې دواړو اولاد دی .

٨ : ولد – چه پخپله د انسان څخه د مرګ نه مخکې پیداشوي وي یعنې (دمرګ څخه مخکې یې حمل قرار نیولې وي،نارینه وي یا ښځېنه .

٩ : وارث- هغه څوک چه د ترکې څخه دیوې حصې حقدار وي اګر که بالفعل نه وي لکه محروم او محجوب .

١٠ : ورور او تره(کاکا) چه کله مطلق ورور ذکر شي مراد ترې سکه ورور، پلارنی ورور، مورنی ورور وي،او د تره څخه مورنی تره نه مراد کېږي ځکه هغه د ذوي الارحامو څخه دی .

١١ : عَصَبه – دمړي هغه نژدې خپلوان دی چه د هغه لپاره شرعي نصوصوکې مقرره برخه نه وي،اود ذوي الفروضو څخه پاتې میراث اخلي .

---

[1] : الطالقاني, إسماعيل بن عباد بن العباس، أبو القاسم الطالقاني، المشهور بالصاحب بن عباد (المتوفى: 385هـ)المحيط في اللغة,ج2ص232.

[2] : احمد نکری، قاضي عبد النبي بن عبد الرسول الأحمد نكري (المتوفى: ق 12هـ),جامع العلوم في اصطلاحات الفنون,ج 3ص20,ناشر بيروت ,طبع اولي 1421هـ,عدد اجزاء 4.

۱۲ : إدلاء – په لغت کې : په معنی د لیږلو،حاضرولو، ورکولو، او په معنی د وصل سره راغلی ده، بیا مجازا د هر شي د لیږلو لپاره استعمال شوې ده([1]).

او په اصطلاح کې : د مړي سره اتصال ته ویل کیږي : که مخامخ پخپله وي لکه دمړي پلار اومور اوځوی اولور ، یا د بل چا په واسطه اتصال وي : لکه د ځوی ځوی ، یا دځوی لور چه دمړي سره دځوی لامله وصل دي ، یا د ذاتي عصبه لامله دمړي سره وصل وي لکه : دځوی ځوی ، دځوی دځوی ځوی ، دځوی لور([2]) .

۱۳ : میْت (مړي) چه د انسان د جسد څخه روح وتلی وي ([3]).

**دویم مطلب : د میراث د علم مبادئ**

د هرعلم لپاره لس مبادی وي چه دهغې پیژندل ضروري وي، علامه صبان په دې شعر کې را جمع کړي دي([4]):

إن مبادي كل فن عشرة....الحد والموضوع ثم الثمرة

وفضله، ونسبة والواضع ...والاسم، الاستمداد، حكم الشارع

مسائلٌ، والبعض بالبعض اكتفى .. ومن درى الجميع حاز الشرفا

تعریف ، موضوع ، فایده ، فضیلت ، نسبت ، وضع کونکې ، نوم ،سرچینه ، دشارع حکم ، مسئلې ،چاچه دا ټول وپیژندل لوي عزت اومرتبې ته رسیږي .

## دریم مطلب: د ښځو د میراث اصطلاحي او فقهي تعریف

اسلامي شریعت د انسان د ژوند ټول پړاوونه په دقیقو احکامو سمبال کړي دي، حتی هغه حالت هم چې انسان له دې نړۍ څخه رخصت شي. له همدې مهمو احکامو څخه یو هم د میراث نظام دی، چې د مړي له پاتې شتمنۍ سره د وارثانو حقوق تنظیموي. د میراث علم د

---

[1] : وګوره :ابن عابدين : محمد أمين بن عمر بن عبد العزيزالدمشقي, (1198 - 1252 هـ) حاشية ابن عابدين ,ج6 ص780 , الناشر دار الفكر للطباعة والنشر.سنة النشر 1421هـ- 2000م. بيروت.عدد الأجزاء 8

[2] : وګوره , دستورالعلماء, ج1ص63.

[3] : وګوره ، مرسی ، أبو الحسن علي بن إسماعيل بن سيده المرسي (متوفى: 458هـ) المخصص ج2 ص71,محقق: خليل إبراهم جفال,ناشر: بيروت,طبعة: أولى، 1417هـ ,عدد أجزاء: 5

[4] : أبو العرفان محمد بن علي الصبان الشافعي (المتوفى: 1206هـ) حاشية الصبان على شرح الأشمونى لألفية ابن مالك,ناشر بيروت,عدد اجزاء3.

اسلامي فقهي له هغو مهمو علومو څخه دی چې د الله جل جلاله له لوري يې قواعد او اصول په صراحت ټاکل شوي، تر څو د انسانانو ترمنځ د ظلم، شخړو او بېعدالتۍ مخه ونيول شي.

د مېراث د احکامو د صحيح فهم لپاره، د دې علم د بنسټيزو اصطلاحاتو پېژندل ضروري دي؛ لکه :فرض، سهم، ترکه، وارث، نسب، سبب، شرط، اصل، فرع، عصبه او ذوي الارحام .دا اصطلاحات د مېراثي مسايلو بنسټ جوړوي، او د هغو له دقيق درک پرته د مېراث د قواعدو تطبيق ممکن نه دی.

١. ابن قدامه([1]) په المدخل الى الفقه الاسلامی کې ليکي : د ښځو مېراث هغه برخه ده چې د مړ شوي کس د شتمنۍ يا ترکې څخه د قرآن، سنت او اجماع له مخې ښځو ته ورکړل شوې وي. دا برخه د علم الفرايض يوه مهمه څانګه ده، چې د وارثينو حقوق او د مال تقسيم دقيق اصول په کې مشخص شوي دي.[2]

**٢ .د ښځو د مېراث اهميت:**

- **اقتصادي امنيت :**علامه قرطبي([3]) رحمه الله ليکل دي: د ښځې لپاره د مالي خپلواکۍ او د ژوند د اساسي اړتياوو تضمين.[4]
- **عدالت او مساوات :**د اسلام د عدل اصول تعقيبوي، څکه ښځه د خپل حق څخه محرومه نه ده.

[1] : ابن قدامة (541 -620هـ، 1147 - 1223م).عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي. فقيه محدّث ولد بجماعيل، وهی قرية بجبل نابلس بفلسطين. ثم رحل إلى دمشق، وقرأ القرآن، وسمع الحديث الكثير من والده، ومن أبي المكارم ابن هلال، ومن أبي المعالي بن صابر وغيرهم. ثم رحل إلى بغداد مع ابن خالته الحافظ عبد الغني وسمع من علمائها ثم عاد إلى دمشق. كان حجة في المذهب الحنبلي. برع وأفتى وناظر وتبحر في فنون كثيرة. وكان زاهدًا ورعًا متواضعًا، حسن الأخلاق، كثير التلاوة للقرآن، كثير الصيام والقيام. الموسوعة العربية العالمية.

[2] : ابن قدامه، المدخل إلى الفقه الإسلامي، ج1، ص45، بيروت: دار الفكر، 1407هـ

[3] : القرطبي، شمس الدين (600 - 671هـ، 1204 - 1273م).أبو عبدالله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي. فقيه مفسر عالم باللغة وُلد في مدينة قرطبة، وقد رحل بعد سقوطها إلى الإسكندرية، ثم إلى صعيد مصر حيث استقر فيه.كان القرطبي عالمًا كبيرًا منقطعًا إلى العلم منصرفًا عن الدنيا، فترك ثروة علمية تقدر بثلاثة عشر كتابًا مابين مطبوع ومخطوط، أبرزها تفسيره الكبير الجامع لأحكام القرآن الكريم، وهو تفسير كامل عُني فيه بالمسائل الفقهية إلى جانب العلوم الأخرى، و التذكرة بأحوال الموتى؛ أحوال الآخرة؛ التذكار في أفضل الأذكار؛ التقريب لكتاب التمهيد.توفي القرطبي ودفن في صعيد مصر.نقلا عن الموسوعة العربية العالمية

[4] : القرطبي، الجامع لأحكام القرآن، ج4، ص210، القاهرة: دار الكتب العلمية، 1405

- **ټولنيز ثبات:**دکتور صالح الفوزان([1])ليکلي دي : د کورنۍ د شتمنۍ تقسيم عادلانه کيږي، د کورنۍ د شخړو مخه نيول کيږي.[2]

## ۳ .د مېراث لغوي او اصطلاحي تعريف:

دا چه ښځه په مېراث کې د خپل حق څخه محرومه وه يا يې حق ناقص وو،يا په خپله ښځه د نورو شيانو په شان په مېراث کې وړل کېدله لکه څنګه چه په عربو کې د جاهليت په وخت کې رواج وو، د اسلام مقدس دين راغی چه ښځې ته د هغې پوره حق ور کول شي.

نو اسلام ښځې ته څرنګه د مېراث حق ورکړی دی؟

اوس مېراث څه ته ويل کيږي؟.

- **لغوي تعريف:** د "ارث" لفظ په لغت کې د "پاتې شوې شتمني" يا "ميراث" معنی لري. لکه څنګه چې قرآن کريم وايي:

"إنكم على إرث من إرث أبيكم إبراهيم"([3])

- **اصطلاحي تعريف :**علامه ابن نجيم([4]) حنفي وايي: د فقهې او حساب اصولو علم، چې په کې د هر وارث حقونه او د ترکې وېش حدود تعين شوي وي[5].
- دا چه ښځه په مېراث کې د خپل حق څخه محرومه وه يا يې حق ناقص وو،يا په خپله ښځه د نورو شيانو په شان په مېراث کې وړل کېدله لکه څنګه چه په عربو کې د جاهليت په وخت کې رواج وو، د اسلام مقدس دين راغی چه ښځې ته د هغې پوره حق ور کول شي.

---

[1] : صالح بن فوزان الفوزان ( معاصر )فضيلة الشيخ د / صالح بن فوزان بن عبد الله الفوزان، من آل فوزان من أهل الشماسية، الوداعين من قبيلة الدواسر.

الوظيفة : عضو اللجنة الدائمة وعضو هيئة كبار العلماء.

[2] : الشيخ صالح الفوزان، شرح مختصر في علم الفرايض، ص15، رياض: مكتبة الرشد، 1420هـ.

[3] : ابي داوود: **سليمان بن الأشعث (202 . 275هـ، 817؟ . 889م).سليمان بن الأشعث بن شداد بن عمرو، الأزدي أبو داود، السجستاني. الإمام، العلم، إمام الإئمة في الحديث. أحد أصحاب كتب الحديث الستّة المشهورة.نقلا عن الموسوعة العربية العالمية .**

[4] : **ابن نجيم (...– 970 هـ =...– 1563 م) زين الدين بن إبراهيم بن محمد، الشهير بابن نجيم: فقيه حنفي، من العلماء.مصري,له تصانيف، منها (الاشباه والنظائر – ط) في أصول الفقه و (البحر الرائق في شرح كنز الدقائق – ط) فقه،ثمانية أجزاء، منها سبعة له والثامن تكملة الطوري، و (الرسائل الزينية – ط) 41 رسالة، في مسائل فقهية، و (الفتاوى الزينية – ط)نقلا عن : الأعلام للزركلي**

[5]: ابن نجيم، الشرح الكبير على الهداية، ج2، ص88، القاهرة: مطبعة دار المعارف، 1328هـ .

- د میراث د علم موضوع: د میراث د مستحقو خلکو ترمینځ د ترکي د تقسیم څرنګوالی ([1]).
- ددې علم غرض : هر حقدار ته په صحیح شرعي طریقي سره د ترکي رسول دي ([2]).
- سرچینه : داعلم د کتاب الله ،سنت رسول صلي الله علیه وسلم ،او اجماع څخه سرچینه اخلي، او قیاس اونورو دلایلو ته په کي دخل نشته([3]).

**۴ .علم الفرایض او ښځې:**

علم الفرایض د ترکې د وېش علم دی چې د فرضي برخې (فروض) پر بنسټ کار کوي. د ښځو حقونه په دې علم کې د لاندې اصولو په رڼا کې ټاکل کېږي:

- **ثابتې برخې :**لکه نیمه حصه، څلورمه حصه؛
- **د نورو وارثینو سره توازن :**عبدالرحمن ابن قاسم([4]) لیکلي دي:د ورثه ترمنځ د حصص عدل او انصاف.[5]

**۵ .عصري تطبیق او د شریعت مقاصد:**

- **لومړی مثال :**که یو سړی مړ شي او یوازې یوه لور ولري، د قرآن د حکم مطابق هغې ته نیمه برخه ورکول کېږي، ترڅو اقتصادي امنیت تامین شي.[6]
- **دویم مثال :**که میراث کې د ښځې او نورو وارثینو شتون وي، د شریعت هدف دا دی چې د هر وارث حق محفوظ شي، او د کورنۍ شخړې کمې شي.[7]

---

[1] : دسوقي, محمد بن أحمد بن عرفة الدسوقي المالكي (المتوفى: 1230هـ)حاشيه دسوقي ج4ص456,ناشر دارالفكر,عدداجزاء 4.

و ,ابن عرفة, محمد بن قاسم الأنصاري، أبو عبد الله، الرصاع التونسي المالكي (المتوفى: 894هـ) شرح حدود ابن عرفة ج1 ص533,ناشر مكتبه علميه,طبع اول 1350 هـ عدد اجزاء 1.

[2] : زحيلي ,دكتور وهبة بن مصطفي الزحيلي ,الفقه الاسلامي وادلته ج10 ص7701.

[3] : وګوره: ابن عابدين شامي,ردالمحتار علي درالمختارج6ص 758.

[4] : ابن قاسم (**1319 – 1392** هـ = **1901 – 1972** م) عبد الرحمن بن محمد بن قاسم العاصمي القحطاني نسبا، أبو عبد الله: فقيه حنبلي من أعيانهم في نجد.ولد بقرية (البير) من قرى المحمل قرب الرياض.

[5] : عبد الرحمن بن قاسم، فقه الفرائض وأحكام الميراث، ص34، القاهرة: دار الفكر العربي، 1425هـ .

[6] : الكوثري، تاريخ العرب قبل الإسلام، ج1، ص98، القاهرة: دار المعرفة، 1400هـ .

[7] : القرطبي، الجامع لأحكام القرآن، ج4، ص215، القاهرة: دار الكتب العلمية، 1405هـ .

- **مقصد :**د ښځو د مېراث حقونه د حفظ المال، حفظ النسل او حفظ العدل له موخو سره مستقیم تړاو لري.[1]

## دویم مبحث: د ښځو د مېراث فلسفه، مقاصد او تطبیقي ابعاد

### لومړی مطلب: د ښځو د مېراث تاریخي وضعیت

**١ . د جاهلیت دوره:**

په جاهلي ټولنه کې ښځو ته په مېراث کې یا حق نه ورکول کېده یا یې حقونه محدود وو. ښځې اکثره د پلار یا مېړه تابع وې، اود کورنۍ مالونه د نارینه وو ترکنټرول لاندې وو([2])

**٢. د اسلام راتګ او د ښځو حقوق:** علامه ابن باز([3]) رحمه الله لیکلي دي:اسلام راغی چې ښځو ته د هغوی پوره مېراثي حقونه ورکړي. قرآن کریم د ښځو د حصص قانون مشخص کړی دی چې د کورنۍ د عدالت، شخړو د مخنیوي او اقتصادي امنیت لپاره مهم دی.[4]

**٣ .عملي اهمیت:**

- د ښځې مالي خپلواکي او د ژوند د ضروریاتو تأمین
- د کورنۍ د مالي شخړو کمول
- د ټولنیز عدالت په اصولو کې د ښځو رول پیاوړی کول

### دویم مطلب: د ښځو د مېراث فلسفه او شریعت مقاصد

**١ .د عدل او انصاف فلسفه:**

د ښځو مېراث د شریعت د عدل یوه څرګنده نمونه ده. اسلام د هر وارث حق ته اهمیت ورکوي، او ښځې د خپلو حقونو څخه محرومې نه دي. دا د قرآن کریم په آیتونو کې په وضاحت راغلي دي.

**٢ .اقتصادي امنیت:**

---

[1] : سوره النساء، آیت 11–12، 176

[2] : ابن قدامه، المدخل إلى الفقه الإسلامي، ج1، ص50.

[3] : ابن باز، عبد العزيز (1330–1420هـ، 1912 – 1999م ).عبدالعزيز بن عبدالله بن باز عالم وفقيه سعودي، والرئيس العام لإدارات البحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد منذ عام 1395هـ، 1975م. ثم أصبح مفتيًا عامًا للبلاد. وُلد بالرياض، في أسرة يغلب على كثير من فضلائها طلب العلم.

[4] : الشیخ ابن باز، الفرائض و أحکام المیراث، ص22، ریاض: دار الفتح، 1422هـ .

د شریعت یو له اصلي مقاصدو څخه حفظ المال دی. د ښځو د مېراث حقونه ډاډ ورکوي چې ښځه د مالي ستونزو سره نه مخامخ کېږي، حتی که نور وارثان هم شتون ولري.

### ۳ .ټولنیز او کورنی ثبات:

د مېراث اصول د کورنۍ د مالونو وېش د منصفانه توازن پر اساس کوي. دا د فتنې، شخړو او د کورنۍ دننه اختلافاتو مخه نیسي.

### ۴ .د شریعت عمومي مقاصد:

- **حفظ الدین :**د اسلام اصولو رعایت
- **حفظ النفس :**د ژوند د بنسټیزو اړتیاوو تأمین
- **حفظ العقل :**د کورنۍ نظم او حقوقو پېژندل
- **حفظ النسل :**د کورنۍ د نسلونو حقونه
- **حفظ المال :**د ښځو مالي امنیت او د ترکې عادلانه وېش

## دریم مطلب:د میراث حکمت او اهمیت د شریعت له نظره

اسلامي شریعت د میراث نظام یوازې د شتمنۍ د وېش یو حقوقي چوکاټ نه ګڼي، بلکې دا یې د ټولنیز عدالت، اقتصادي توازن، او د کورني نظام د ثبات له بنسټیزو ارکانو څخه ګرځولی دی. د میراث احکام د قرآن کریم په قطعي نصوصو کې په تفصیل سره بیان شوي، چې دا پخپله د دې نظام پر اهمیت، حکمت او دوامدار ارزښت دلالت کوي.([1])

امام شاطبي([2]) رحمه الله لیکلي دي: د میراث د تشریع تر شا یو بنسټیز حکمت د انساني فطرت مراعات دی. انسان په فطري ډول د خپل مال د بقا، انتقال او د هغه د سم مصرف په اړه اندېښنه لري، او غواړي چې تر مرګ وروسته یې شتمني ضایع نه شي او یا د ناحقه لاسونو ښکار نه شي. اسلامي شریعت دا فطري میلان په منظم او عادلانه ډول تنظیم کړی، څو له یوې خوا د مړ شوي شخص اراده د وصیت په مشروع حدودو کې مراعات شي، او له بلې خوا د وارثینو ترمنځ د شخړو، ظلم او تجاوز مخه ونیول شي([3]).

همدارنګه، د میراث نظام د اقتصادي تمرکز مخنیوي یو مهم شرعي میکانېزم دی. که شتمني یوازې په یوه شخص یا محدوده طبقه کې راټوله شي، نو دا چاره د ټولنیز عدم توازن، اقتصادي

---

[1] : سورة النساء، آیتونه: 11–12.

[2] : الشاطبي (000 – 790 هـ = 000 – 1388 م)إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي الشهير بالشاطبي: أصولي حافظ ، من أهل غرناطة، كان من أئمة المالكية.

[3] : الشاطبي، أبو إسحاق، الموافقات في أصول الشريعة، ج2، دار المعرفة، بيروت، ص 8–15.

استثمار او طبقاتي واټن لامل ګرځي. اسلامي شريعت د همدې خطر د له منځه وړلو لپاره د مال د دوران اصل وضع کړی دی. قرآن کريم دې اصل ته په څرګنده اشاره کوي، هلته چې فرمايي:

﴿كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ﴾([1]).

يعنې شتمني بايد يوازې د شتمنو ترمنځ په دوران کې پاتې نه شي([2]).
دا قرآني اصل د ميراث په نظام کې په عملي او تطبيقي بڼه پلی شوی، ځکه شتمني له يوه نسل څخه بل نسل ته د پراخو وارثينو ترمنځ ويشل کېږي.

دکتور الزحيلي رحمه الله ليکي: د ميراث له مهمو حکمتونو څخه بل د کورني نظام ټينګښت او د کورنۍ اړيکو پياوړتيا ده. اسلامي شريعت وارثين د نَسَب، واده او ولاء پر بنسټ ټاکلي، تر څو د کورنۍ غړي د يو بل د مالي او ټولنيز ملاتړ احساس ولري. په دې توګه، ميراث يوازې د مال انتقال نه دی، بلکې د مسؤليتونو انتقال هم دی، چې د کورنۍ د همغږۍ او دوام سبب ګرځي([3]).

سربېره پر دې، د ميراث احکام د شريعت د مقاصدو له مهم اصل، يعنې حفظ المال سره مستقيمه اړيکه لري. مال د انساني ژوند د بقا او د ټولنيز نظم اساسي وسيله ده، او شريعت غواړي چې دا مال له فساد، ضايع کېدو او ناحقه تصرف څخه خوندي پاتې شي. د ميراث منظم نظام دا تضمين برابروي چې د مړ شوي شخص شتمني په شرعي ډول وارثينو ته ورسېږي او په مشروع لارو کې ولګول شي([4]).

له همدې امله، فقهاوو ټينګار کړی چې د ميراث احکام د بشري اجتهاد محصول نه، بلکې د الهي عدالت څرګند انځور دی. انسان ته دا واک نه دی ورکړل شوی چې د ميراث په حصصو کې د خپلې خوښې مطابق بدلون راولي، ځکه دا بدلون به د عدالت له اصل او د شريعت له مقاصدو سره په ټکر کې وي([5]).

---

[1] : سورة الحشر اية 13.

[2] : سورة الحشر، آية: 7؛ القرطبي، الجامع لأحكام القرآن، ج5، دار الكتب المصرية، ص 60–65.

[3] : الزحيلي، أ.د. وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله بجامعة دمشق – كلّيَّة الشَّريعة الفقه الإسلامي وأدلته، ج8، دار الفكر، دمشق، ص 247–255.

[4] : ابن عاشور، ابن عاشور (1296 – 1393 هـ = 1879 – 1973 م) محمد الطاهر بن عاشور: رئيس المفتين المالكيين بتونس وشيخ جامع الزيتونة وفروعه بتونس.مولده ووفاته ودراسته بها عين (عام 1932) شيخا للاسلام مالكيا.وهو من أعضاء المجمعين العربيين في دمشق والقاهرة.

، مقاصد الشريعة الإسلامية، دار السلام، قاهره، ص 135–142

[5] : ابن قدامة، المغني، ج6، دار عالم الكتب، رياض، ص 176–180.

## پایله

په پایله کې ویلای شو چې د میراث نظام د اسلامي شریعت له هغو احکامو څخه دی چې په یوه وخت کې د فرد حق، د کورنۍ ثبات، او د ټولنې مصلحت تضمینوي. همدا جامع حکمتونه دي چې د میراث احکام یې له انساني قانونسازۍ جلا کړي او د الهي عدالت، حکمت او توازن یو روښانه تصویر یې ګرځولی دی.

### څلورم مطلب: د ښځو د میراث د تطبیق ستونزې او د شریعت حل لارې

که څه هم اسلامي شریعت د ښځو د میراث حق په صراحت، قطعیت او تفصیل سره تثبیت کړی دی، خو د عملي تطبیق په ډګر کې د دې الهي نظام پر وړاندې یو لړ ټولنیزې، عرفي او حقوقي ستونزې موجودې دي. دا ستونزې د شریعت له کمزورۍ څخه نه، بلکې د انساني تطبیق له نقص او د غیر اسلامي دودونو له نفوذ څخه سرچینه اخلي([1]).

له مهمو ستونزو څخه یوه دا ده چې په ځینو ټولنو کې عرف او دود د شرعي نصوصو پر ځای حاکم ګرځول شوی دی. د جاهلي فکر پاتې شوني، لکه دا تصور چې ښځه د مال د تملک وړتیا نه لري، یا دا چې د کورنۍ شتمني باید یوازې د نارینهوو ترمنځ پاتې شي، لا هم په عملي ژوند کې لیدل کېږي. دا عرفي فشارونه د قرآن کریم له صریحو نصوصو سره په ښکاره ټکر کې دي، ځکه قرآن ښځې ته د میراث مستقل حق ورکړی او هېڅ استثناء یې پکې نه ده منلې([2]).

بله جدي ستونزه د کورني فشار او عاطفي جبر مسأله ده. په ډېرو مواردو کې ښځه، که څه هم شرعي حق لري، خو د کورنۍ د سولې، د وروروګلوۍ د ساتنې، یا د بدنامۍ د وېرې له امله له خپل میراث څخه تېرېږي. فقهاوو دا ډول تېرېدنه هغه مهال معتبره نه ده بللې، چې په کې د ښځې رضایت د فشار او اکراه تر اغېز لاندې وي، ځکه اکراه د مشروع تملک او اسقاط حق له شرایطو سره په ټکر کې دی([3]).

همدارنګه، د حقوقي پوهاوي نشتوالی د ښځو د میراث د ضایع کېدو یو مهم لامل دی. ډېری ښځې د خپل شرعي حق له اندازې، نوعیت او د ترلاسه کولو له لارو نه دي خبرې. دا حالت د شریعت د مقاصدو، په ځانګړي ډول د تحقیق العدل او رفع الظلم له اصولو سره په تضاد کې دی، ځکه شریعت د ناپوهۍ پر بنسټ ظلم ته مشروعیت نه ورکوي([4]).

---

[1] : ابن عاشور، محمد الطاهر، *مقاصد الشريعة الإسلامية*، دار السلام، قاهره، ص 178–182.

[2] : سورة النساء، آیت: 7؛ الزحيلي، *الفقه الإسلامي وأدلته*، ج8، ص 251.

[3] : ابن قدامة، *المغني*، ج6، دار عالم الكتب، ص 190–195.

[4] : القرضاوي، يوسف، *فقه العدل في الإسلام*، دار الشروق، ص 101–105.

اسلامي شریعت د دې ستونزو د حل لپاره روښانه اصول او عملي حل لارې وړاندې کړې دي. تر ټولو لومړی، د میراث احکام یې د قطعي نصوصو په بڼه نازل کړي، څو هېڅ فرد، کورنۍ او یا دولت ته د تغییر او تحریف مجال پاتې نه شي. دویم، شریعت قضاء ته دا صلاحیت ورکړی چې د ښځې د میراث حق تطبیق کړي جبراً هم تطبیق کړي، که چېرې وارثین له خوښې سرغړونه وکړي. دا چاره د شریعت د مقاصدو له اصل، یعنې حفظ الحقوق سره مستقیمه اړیکه لري([1]).

سربېره پر دې، فقهاوو د ښځې له میراث څخه محروموول د کبیره ګناه بللې ده، ځکه دا عمل د الهي نص رد، د عدالت نقض، او د ظلم ښکاره بڼه ده. رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ فَقَدْ أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ النَّارَ) دا حدیث د مالي حقوقو د غصب د سخت انجام څرګندونه کوي، چې د میراث حق هم پکې داخل دی([2]).

## پایله

په پایله کې ویلای شو چې د ښځو د میراث ستونزه په اصل کې شرعي نه، بلکې تطبیقي ستونزه ده. اسلامي شریعت د ښځې حق په خورا وضاحت سره تثبیت کړی، او د دې حق د ضایع کېدو ټول مسؤلیت د انساني چلند، ناسم عرف او د شریعت د عملي کېدو پر کمزورۍ راګرځي. د شریعت د مقاصدو په رڼا کې، د ښځو د میراث عادلانه تطبیق نه یوازې یو فقهي مکلفیت، بلکې یو اخلاقي، ټولنیز او دیني مسؤلیت هم دی.

## پنځم مطلب:د ښځو د میراث په اړه معاصر قوانین او د اسلامي شریعت مقایسوي تحلیل

په معاصر نړۍ کې د میراث موضوع، په ځانګړي ډول د ښځو د میراث مسأله، د بېلابېلو حقوقي نظامونو ترمنځ د جدي بحث وړ ګرځېدلې ده. ډېری معاصر ملي او نړیوال قوانین د ښځو او نارینهوو ترمنځ د مطلق مساوات شعار پورته کوي، خو دا مساوات اکثره د فطري توپیرونو، کورنیو مسؤولیتونو او ټولنیزو واقعیتونو له پامه غورځولو سره مطرح کېږي. اسلامي شریعت، برعکس، د میراث په نظام کې د عدل پر بنسټ ولاړ توازن ته پام کړی، نه د ظاهري مساوات پر ادعا([3]).

په غربي حقوقي نظامونو کې،لکه د مدني قانون اوعرفي قانون سیستمونه، د میراث وېش عموماً د فرد د ارادې تابع ګڼل کېږي. شخص کولی شي خپله شتمني د وصیت له لارې هر چا ته، په هر تناسب، وسپاري؛ که څه هم دا کار د کورنۍ د ځینو غړو، په ځانګړي ډول

---

[1]: الشاطبي، *الموافقات*، ج2، ص 20–25.

[2] : صحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب وعید من اقتطع حق امرئ مسلم.

[3] : ابن عاشور، محمد الطاهر، *مقاصد الشریعة الإسلامیة*، دار السلام، قاهره، ص 155–160.

ښځو او ماشومانو، د محرومیت سبب وګرځي. دا مطلق اختیاري نظام، که څه هم د فردي آزادۍ تر عنوان لاندې مطرح کېږي، خو په عملي توګه د کورني عدالت او ټولنیز توازن د زیانمنېدو لامل ګرځي([1]).

برخلاف، اسلامي شریعت د میراث نظام د الهي نصوصو پر بنسټ قائم کړی او د انسان اراده یې د وصیت په محدود چوکاټ کې راګیره کړې ده. دا محدودیت د دې لپاره دی چې نه یوازې د ښځو، بلکې د ټولو وارثینو حقوق خوندي پاتې شي. له همدې امله، فقهاوو ټینګار کړی چې د میراث احکام تعبدي بڼه لري او د بشري قانون‌سازۍ له بدلونونو څخه لوړ دي([2]).

په ځینو اسلامي هېوادونو کې، که څه هم د میراث قوانین په اساسي ډول د شریعت له احکامو اخیستل شوي، خو د عملي تطبیق پر مهال د عرف، سیاسي فشارونو او نړیوالو کنوانسیونونو تر اغېز لاندې بدلونونه پکې راغلي دي. دا بدلونونه کله ناکله د ښځو د میراث د حق د پراخولو تر شعار لاندې ترسره کېږي، خو په حقیقت کې د شریعت د مقاصدو له توازن سره ټکر پیدا کوي، ځکه د مکلفیت او حق ترمنځ اړیکه له پامه غورځول کېږي([3]).

اسلامي شریعت د ښځو د میراث په اړه یو جامع او متوازن نظام وړاندې کړی، چې پکې د ښځې مالي حقونه د نارینه‌وو له مکلفیتونو سره تړلي دي. که څه هم په ځینو مواردو کې د ښځې ونډه نیمه ده، خو دا نیمګړتیا نه، بلکې د مسؤولیت پر بنسټ عادلانه تفریق دی. نارینه د نفقې، مهر او د کور پرلګښت مکلف دی، په داسې حال کې چې ښځه د خپل مال په مصرف هېڅ شرعي مکلفیت نه لري. دا توازن هغه څه دي چې معاصر قوانین یې په عملي بڼه د تأمین توان نه لري([4]).

## پایله

له پورته مقایسوي تحلیل څخه څرګندېږي چې اسلامي شریعت د ښځو د میراث په برخه کې نه د محرومیت لاره خپله کړې او نه د غیر واقعي مساوات. بلکې دا یې د عدل، حکمت او ټولنیز توازن پر بنسټ تنظیم کړی دی. معاصر قوانین که څه هم د عدالت دعوه کوي، خو د ثابتو اخلاقي او فطري اصولو د نشتوالي له امله د دوام وړ نه ښکاري. له همدې امله، د ښځو د میراث په اړه د اسلامي شریعت نظام د هر زمان او مکان لپاره یو بشپړ، عادلانه او د انساني کرامت ساتونکی ماډل ګڼل کېږي.

---

[1]: David Johnston, *Islamic Law and the Challenge of Modernity*, Oxford University Press, p. : 112–118.

[2]: الشاطبي، أبو إسحاق، *الموافقات في أصول الشريعة*، ج2، دار المعرفة، بيروت، ص 25–30.

[3]: وهبة الزحيلي، *آثار الحرب في الفقه الإسلامي* (ضمناً بحث تقنين الأحكام)، دار الفكر، ص 210–215.

[4]: القرضاوي، يوسف، *فقه العدل في الإسلام*، دار الشروق، قاهره، ص 110–118.

## دريم مبحث: د ښځو د مېراث تاريخچه

## لومړی مطلب: د اسلام څخه د مخه د ښځو مېراث

د ښځو د ميراث د احکامو د سم درک لپاره اړينه ده چې د اسلام له راتګ مخکې په بېلابېلو ديني او ټولنيزو نظامونو کې د ښځو د ميراث وضعيت وڅېړل شي، تر څو د اسلامي شريعت د ميراثي نظام ځانګړتياوې، عدلي توازن او مقاصدي حکمتونه روښانه شي[1]. اسلامي شريعت د هغه ذات له لوري نازل شوی چې د انسان فطرت، ټولنيز جوړښت او واقعي اړتياوې يې په بشپړه توګه پېژندلي او هغه احکام يې تشريع کړي چې د انساني ژوند له حالاتو سره بشپړ توافق لري[2].

قرآن کريم د داسې الهي شريعت استازيتوب کوي چې د باطل له هر ډول نفوذ څخه خوندي دی، لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمايي:

﴿لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ﴾[3].

باطل ورته د مخې او شا له طرفه نشي را تللی، چې دا د شريعت د دوام، اعتبار او حکمت څرګند دليل دی.

تاريخي څېړنې ښيي چې په ډېرو پخوانيو ديني او مدني نظامونو کې ښځې د ميراث له حق څخه يا خو محرومې وې، يا يې حق د نارينه‌وو د موجوديت پورې مشروط ګڼل کېده. په مقابل کې، اسلامي شريعت ښځې ته د هغې د انساني کرامت، فطري جوړښت او ټولنيز رول له مخې مشخص، ثابت او محفوظ مالي حقوق ټاکلي دي، چې دا ځانګړنه د اسلامي ميراثي نظام هغه امتياز دی چې د نورو ديني او وضعي قوانينو څخه يې بېلوي[4].

د ښځو د ميراث د احکامو د سم درک لپاره دا اړينه ده چې د اسلام له راتګ څخه مخکې په بېلابېلو ديني او ټولنيزو نظامونو کې د ښځو د ميراث وضعيت وڅېړل شي، تر څو د اسلامي شريعت د ميراثي نظام ځانګړتياوې، عدلي توازن او مقاصدي حکمتونه روښانه شي. دا ځکه چې اسلامي شريعت د هغه ذات له لوري نازل شوی چې د انسان فطرت، ټولنيز جوړښت او واقعي اړتياوې يې په بشپړه توګه پېژندلي دي، او هماغه احکام يې تشريع کړي چې د انساني ژوند له واقعي حالاتو سره بشپړ توافق لري.

---

[1] : المقاصد الفقهيه، ابن عاشور، ص 112–114

[2] : أبو الحسن الندوی، د اسلامي مالی نظام اصول، 1984

[3] : سوره فصلت: 42:42

[4] Arnold J. Toynbee, A Study of History, Vol. 1, 1934: –

قرآن کریم د داسې الهي شریعت استازیتوب کوي چې د باطل له هر ډول نفوذ څخه خوندي دی،لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمایي:﴿لَایَأْتِیهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَیْنِ یَدَیْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ﴾([1]) .

باطل ورته د مخې او د شا له طرفه نشي را تللی.

چې دا د شریعت د دوام، اعتبار او حکمت څرګند دلیل دی.

تاریخي څېړنه څرګندوي چې په ډېری پخوانیو دیني او مدني نظامونو کې ښځې د میراث له حق څخه یا خو په بشپړ ډول محرومې وې، او یا یې حق د نارینه‌وو د موجودیت پورې مشروط ګڼل کېده. په مقابل کې، اسلامي شریعت ښځې ته د هغې د انساني کرامت، فطري جوړښت او ټولنیز رول له مخې مشخص، ثابت او محفوظ مالي حقوق ټاکلي دي. همدا ځانګړنه د اسلامي میراثي نظام هغه امتیاز دی چې د نورو دیني او وضعي قوانینو څخه یې بېلوي([2])

اول په یهودو کې د ښځو میراث .

په یهودو کې ښځېنه د میراث څخه محرومې وې ،که هغه به مور وه یا به خور یا لور یا نور څوک ، مګر که نارینه به موجود نه ؤ نو بیا به ښځېنه ؤ ته په میراث کې برخه ورکول کېده مثلا که د چا به ځوې پاتې نشو نو بیا د هغه لورته برخه ور کول کېده.

دتوراة په (۲۷) اصحاح(جلد) کې راغلي دي : د حافز د ځوی صلحفاد لورګانې وې د لوې اجتماع په ورځ د خیمې په خوله کې د موسي علیه السلام او نورو مشرانو مخې ته ودریدلې او وئې ویلې : زمونږ پلار په صحراء کې مړ دی د کوم ظلم له کبله ندی مړ بلکه د یوې ګناه له امله مړ دی او د هغه ځامن نشته ، نو اوس زمونږ د پلار نوم د قبیلې څخه ولې ختمیږي مونږ ته دې د پلار په مال کې د ترونو سره برخه را کړل شي ، نو موسي علیه السلام د هغوې دعوي الله جل جلاله ته وړاندې کړه نو الله جل جلاله داسې و فرمایل : چه د صلحفاد د لور ګانو دعوي حقه ده ، دوې ته دې د پلار په مال کې د ترونو سره برخه ورکړل شي او د پلار مال دوې ته نقل کېږي، او بیا ئې د بني اسرائیلو سره خبرې وکړې ور ته ئي و ویل : کوم سړی چه مړ شي او زامن نلري د هغه مال د هغه لور ګانو ته نقل کېږي([3]).

دویم : د رومیانو په دین کې د ښځو میراث

---

[1] : سورت فصلت , ایت نمبر 42.

[2] : : عورتاني, دکتور ورود عادل ابراهیم عورتاني , احکام میراث المراة في الفقه الإسلامي ,ج1ص6,

[3] : طه ، ، صابر أحمد طه ، نظام الأسرة في اليهودية والنصرانية والإسلام ، ج ٢ ص١٨٤،١٨٥، ناشر: مصر ، انترنت .

د رومیانو په دین کې ښځې د نارینه ؤ سره په میراث کې برابره برخه درلوده هغه که به په هره درجه کې وه ، مګر ښځې ته د میړه په مال کې برخه نه ور کول کېده ،ځکه د رومیانو په دین کې زوجیت د میراث سبب نه ؤ ،تر دې چه میراث به بلې کورنۍ ته نه نقل کېدلو ،ځکه میراث به هغوې په خپلو کورنیو کې پاتې کولو او خپریدلو او شیندلو ته به ئي نه پریښودلو ، که یو زنانه به مړه شوه نو د هغې به چه کوم میراث د خپل پلار د کور څخه اخسیتی ؤ هغه به واپس د هغې وررونو ته ور کول کېدلو، او د هغې زامنو ته به نه ورکول کېده ،که د مړي په اولاد کې به نارینه او ښځېنه موجود وه نو زامنو او لور ګانو ته به یو شان برخې ور کول کېدلې ،که د سړي ځوی یا لور به مړه شوه نو د هغوي حصه به ئي د هغوي اولاد ته ورکول کېدله اګر که د مورث په ژوند به مړه وه، د هغوي اولادونو ته به د هغوي د پلارانو او یا د هغوي د میندو حصه ور کول کېده که چیرته به ژوندي وه ، او دغه معامله به د خویندو او وررونو سره هم وه، که د مړي به اولاد نه ؤ نو اصول (پلارمور) او سکه وررونه به ئي وه نو ټولو ته به یوشان میراث ور کول کېده، ناسکه وررونو ته پکې برخه نه ور کول کېده په دې کې نارینه او ښځېنه یو برابر وه،ځکه سکه خویندې به د وررور په میراث کې د پلار سره شریکې وې ،په خلاف د نا سکه خویندو چه هغوي به د نا سکه وررور په میراث کې د پلار سره نه شریکېدلې،او مال به د نیکونو او نیا ګانو او سکه وررونو او سکه خویندو تر مینځ برابر تقسیمیدلو ،او که د مړي به نژدې خپلوان نه وه نو بیا به ئي په لیرې کې نژدې ته او بیا به په هغوي کې نژدې ته د (الاقرب فالاقرب) په قاعده ورکول کېده . (1)

دریم: د پخوانیو شرقي امتونو یا سامیانو په دین کې د ښځو میراث

د شرقي امتونو څخه مقصد طورانیان کلدانیان سریانیان یونانیان(اغریق) وغیره دي څوک چه د مسیح علیه السلام د میلاد څخه پخوا په مشرق کې استوګن وه، د هغوي په دین کې د میراث طریقه دا وه : چه د مړي مشر ځوی به ئي د پلار په ځای کښینولو که مشر ځوی به نه ؤ نو بیا به ئي هوښیار ځوی د پلار په ځای کښینولو ،که هغه به نه ؤ نو بیا به ئي د مړي وررور ، که هغه به نه ؤ نو بیا به ئي د مړي ترونه ...

تر دې چه بیا به خبره خسر خیلو ته او قوم او قبیلې ته رسیدله ، د دوي د میراث بیلګه دا وه چه اطفالو او ښځو ته یي په میراث کې برخه نه ور کوله(2)

څلورم : دپخوانیو مصریانو په دین کې د ښځېنه ؤ میراث

---

[1] : الدیب , عبد العظیم محمود الدیب (المتوفى: 1431هـ) , فریضة الله في المیراث والوصیة.ج1ص8,ناشر. مصر,طبعة: دریم، 1413 هـ - عدد أجزاء: 1.

[2] : د انټرنټ څخه اخیستل شوی ، لیکوال : Mark Cartwright ، ترجمه کونکي : اسماء یونس ، د کتاب نوم : ښځې په قدیمې یونان کې ، Women in Ancient Greece( A. yunes, https ://www.worldhistory. org

د پخوانیو مصریانو په لیکلو کې راغلي دي چه د هغوي په دین کې د میراث نظام داسې ؤ چه کله به څوک مړ شو ټول خپلوان لکه پلار میندې ورونه خویندې زامن لورګانې ترونه او ښځې به یې را جمع کړل او ټوله ترکه به ئي په مساوي توګه د دوي تر مینځ تقسیم کړه د ښځینه ؤ او نارینه ؤ او لویانو او کوچنیانو تر مینځ ئي توپیرنه کولو ([1])

پنځم د اسلام څخه پخوا د عربو په نزد د ښځینه ؤ میراث

د عربو په جاهلیت کې (د اسلام څخه پخوا) د میراث مستقل نظام موجود نه ؤ بلکه د نورو شرقیانو په طریقه به ئي عمل کولو، د دوي په دین کې میراث فقط د نارینه ؤ لپاره وؤ هغه چا به چه اسلحه چلولی شوه او د کورنی خرڅ او خوراک به ئي په غاړه ؤو ،ښځو او ماشومانو ته پکې حصه نه وه، ځکه دوي به جنګونه لوټ مار او تالان نشوکولای ، دا لا څه چه ښځې به ئي په زور په میراث اخیستلې ،او هغه داسې چه یو وارث به راغی د پلار په کونډه به ئي څادر کېښود ویل به ئي چه دا مې لکه د پلار د نور مال په شان په میراث کې واخیسته ، که غوښتل به ئي چه واده ور سره وکړي نو واده به ئي د مهر څخه په غیر ور سره کولو ، یا به ئي بل چاته په نکاح ور کوله یا به ئي بیخي نکاح ته نه پریښودله ،نو اسلامي شریعت دا ظلم منع کړلو کوم وخت چه دا آیت نازل شو:

الله جل جلاله فرمایلي دي : (يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا) ([2])

اې د ایمان خاوندانو روا نه دي چه تاسو په زور زنانه په میراث کې وړئ یا ئي د نکاح څخه منع کوئ د دې لپاره چه د هغوي مالونه ځان ته کړئ ،خو مګر که د ښکاره ګناه مرتکبه شوه، او په شرعي طریقه ور سره ژوند کوئ ،که مو خوښه نه وه، نو کېدی شي چه ستاسې به یو شئ خوښ نه وي خو الله جل جلاله به په هغې کې ډیر خیر اچولی وي.

او که په کومو حالاتو کې به ئي ښځو ته میراث ور کولو نو بیا به ئي د پخوانیو مصریانو په شان نارینه ؤ او ښځو ته یو برابر حصه ور کوله .

او ځینو نورو به د ځامنو او لمسیانو په موجودیت کې لورګانو ته حصه نه ور کوله (محجوبې به ئي ګڼلې)،او ځینو نورو به په لورګانو او د هغوي په اولادونو باندې اصول

[1] : عاشور , مصطفي ,علم الميراث ج1 /ص١٠

[2] : سوره النساء / آیت : ١٩ .

(پلار نیکه که هر څومره په درجه کې پورته وي ) او اطراف (ورونه او خویندې) محجوب ګڼل. ([1]).

شپږم په فرانسي قانون کې د ښځینه ؤ میراث

دا چه د فرانسي قانون په ټولو جدیدو وضعي قوانینو کې ډیر مشهور دی او د نورو دولتونو وضعي قوانین له همدې قانون څخه الهام اخلي خصوصا عربي دولتونه، په دې قانون کې چه د ښځود میراث سره کومه معامله شویده د نمونې په ډول ئي ستاسو حضور ته وړاندې کوم :

الف : په دې قانون کې د میراث د مستحقینو څلور درجې دي :

اوله درجه:شرعي ورثه چه مرادترینه هغه اولاد دی چه د صحیح نکاح څخه پیدا شوي وي .

دوهمه درجه : هغه اولاد چه د فاسدې نکاح څخه پیدا شوي وي وغیره.

دریمه درجه : ښځه او خاوند .

څلورمه درجه : بیت المال (دولت)

ب : دویمه درجه تر هغې میراث نشي اخیستلی چه اوله درجه موجوده وي ،او همدغه شانته نورې درجې هم .

ج : شرعي ورثه(اوله درجه) د مورث د مرګ څخه وروسته سم د لاسه د محکمې د حکم څخه پرته میراث اخلي ، او نورې دوه درجې (دویمه او دریمه) د محکمې د حکم څخه پرته میراث نشي اخیستلاي .

د : ورثه په درې ډلو ویشل شوي فروع (اولاد) اصول (پلار نیکه او پورته) اطراف (ورونه خویندې)، هرچه فروع دي دوي د اصولو څخه میراث نارینه او ښځینه یو برابرحصه اخلي ، مشر او کشر په برخه کې سره برابر دي ، او هغه ځوک چه د مورث څخه پخوا مړ شي د هغه اولاد ته،که اولاد ئي نه وي لمسیانو ته فقط د همغه حصه ورکول کیږي .

دا چه اصول او اطراف میراث اخلي قاعده دا ده :

ترکه (د مړي څخه پاتې مال) دوه تقسیمه کیږي یوه حصه هغه چا ته ور کول کیږي چه مړي ته د پلار لخوا څخه نژدې وي ، بله حصه هغه چا ته ورکول کیږي چه مړي ته د مور لخوا څخه نژدې وي ، په اصولو کې د پلار او مور څخه غیر نور ځوک میراث نشي اخیستلی مګر که فروع او اطراف نه وي نو مال د دوې تر مینځ دوه برخې کیږي : یوه برخه

---

[1] : نسفي , عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين أبو البركات, (المتوفى: 710هـ) تفسير النسفي ج1ص 343ناشر: دار الكلم الطيب، بيروت,طبعة: أول، 1419 هـ,عدد أجزاء: 3.

د نارينه ؤ او بله برخه د ښځو لپاره ده ،او د ميراث په ور کړه کې د نژدي او ليرې مراعات کيږي ،کله چه نژدې موجود وي ليرې ته ميراث نه ورکول کيږي او پلار او مور ترکه خپلو کې تقسيموي ، که د پلار او مور سره ورونه او خويندې هم پاتې وي ترکه دوه برخې کيږي : يوه برخه د پلار او مور سره نيمه ، بله برخه د ورونو او خويندو ده .

او کله چه نوره ورثه نلري او فقط يوائې پلار او مور پاتې وي يوائې خپله برخه اخلي او نور مال ورونو او خويندو ته پاتې کيږي ،او ورونه او خويندې خپلو کې په مساوي توګه تقسيموي، په دې شرط چه د يوې نکاح څخه وي که چيرته د يوې نکاح څخه نه وي نو بيا دوه تقسيمه کيږي: يوه برخه د هغه چا لپاره ده چه مړي ته د پلار د طرفه نژدې وي ، بله برخه د هغه چا لپاره ده چه مړي ته د مور د طرفه نژدې وي او سکه خويندې او ورونه په دواړو برخو کې شريک دي ځکه هغوي پلار او مور دواړو ته نژدې وي ([1]).

اوم د کمونستانو په اشتراکي نظام کې د ښځو ميراث

اشتراکي مذهبونه چه مقصد ترينه کمونستان دي قطعا د ميراث څخه منکر دي ، او دوې وائي چه د ميراث قانون د اشتراکيت د فلسفې څخه خلاف دي او هغه فلسفه دا ده چه ټول خلک د يو بل سره مساوي او برابر پيدا کيږي او هيڅوک خپل خاص ملکيت نلري ،دوي عقيده لري چه که مال د يو چا خاص ملکيت وګڼل شي نو بيا به د ټولې دنيا مالونه د يو څو نفرو لاسونو ته ورشي او نور به ټول خلک محروم پاتې شي .

او دې کې شک نشته چه کمونستان په دي نظريه کې د بشري طبيعت سره مخالف دي ، د دې څخه علاوه چه د اسماني دينونو څخه هم مخالف دی ،د انساني خواهشاتو غوښتنو جنګ جګړو څخه انکار کوي , او دا کومه نوې او د تعجب وړ خبره نه ده ،د کمونستي عقيدې بنسټ په بې دينۍ اينبودل شوي دي نو څرنګه کولاي شي چه د هدايت او اصلاح طرف ته راشي .؟

ځکه هغه ټولنه چه په هغې کې د پلار او ځوی تر مينځ داسې علاقه او رابطه وي لکه د عامو خلکو د دوه تنو تر مينځ ،کم نه کم دومره ويلې شو چه دا يو غير طبيعي ټولنه ده چه د هغه ضروري توازن څخه عاجزه شوي ده چه د دولت او افرادو تر مينځ د حقوقو د مينځ ته راتلو سبب کيږي چه آيا د دولت په افرادو څه حقونه دي او د افرادو په دولت باندي څه حقونه دي په داسې شان سره چه د دولت اوافرادو تر مينځ د يو بل په طبيعي حقوقو تجاوز او تيرى منعه کړي .

او دا چه کمونستان وائي: چه ګواکې د جامعې ټول مال به د يو څو افرادو لاسونه ته ور شي نو دا ډيره لويه ناپوهي او جهالت دی، دا ځکه چه دوي ټولې نړۍ ته د مالي زاوئي څخه

---

[1] : علم الميراث مصطفي عاشور ص١٨-٢٠

ګوري، او د مال د محبت له کبله د نور ژوند چه هغه د دنيا ژوند دي او هغه عبارت دی له (فطري منازعاتو او د هغې د مدافعاتو څخه) او دوي د دې په انديښنه کې نه دي ، که دوي دنيا ته له دې زاويې څخه وګوري چه ژوند يعنې (فطري نزاع او د هغې مدافعات) نو د ژوند معنې به داسې وکړايشي چه فرد خپل نهائي کوښښ او سعې کوي چه د خپلې کورنۍ لپاره يو څه وګټې او د خپلو اولادونو لپاره ئې په ميراث پريږدي ،او په کمه ګټه قناعت او صبر نه کوي خواري او کوښښ کوي چه ډير څه وګټي مقصد دا چه خپل انتهائي کوښښ او صلاحيت په کار اچوي چه څومره ئې توان او طاقت وي ، او خپل بخل پکارنه اچوي ،بلکه خپله سخاء او پراخي پکار اچوي تر څو زياته ګټه لاس ته را وړي او دا د فرد يا ټولنې په زيان هم نه دي بلکه د ټولې انساني نړۍ لپاره يوه پانګه او سرمايه هم ده يواځې د وارثينو او موروثينو لپاره نه ده.

پورته چه ذکرشو دا د پخوانيو او زړو کمونستانو د فردي مالکيت او ميراث خلاف هغه سخت دريز بيان شو ، بيا هم معاصرو (موجوده) کمونستانو د مارکسيزم د عقايدو او نظرياتو پر خلاف په دې وروستيو کې شروع کړيده او فطري منازعاتوته په احترام قايله کيږي ، او هغې ته يې د تسليميدو سرونه ټيټ کړيدي چه د هغه څخه د منکريدلو مجال نشته دي، نو اوس په يو محدود انداز کې فردي مالکيت ته اباحت (جواز) ورکوي ،لکه څنګه چه د دې ملکيتونو د پاتې کيدو په صورت کې د مړي معتبرې ورثې ته د ورکړې جواز ورکوي ، خو مګر تر اوسه پورې دا خلک د ميراث صحيح او منظم واضح تفصيلي نظام نلري، بيا دوي په دې خپل تنګ فکر او کمزوري تصور دا سوچ کوي چه کچيرته يوه کورنۍ ښځو ته ميراث ورکړي نو دغه کورنۍ به د دې ټولنيز چاپيريال څخه د يواځيوالي ماحول ته ووځي او منزوي به شي ،او په دې فکر دي چه دا ميراث به دې ټولنه کې د پخوا په شان پاتې شي ، دا معلومه خبره ده که د ميراث خاوندان ښه سوچ او فکر وکړي نو دغه ميراث به په ښو لارو چارو کې مصرف شي او کنه نو بيا خو چه کوم طرفته لاړو هلته به تللي وي که څوک خفه وي او که خوشحاله وي.

پاتې شوه دا خبره چه مال به د څو نفرو لاسونو ته ورشي نو دا خو آسانه خبره ده د دې څخه پغير چه د ښځو د ميراث مانع شي نور علاجونه او لاري چارې هم شته ،داسې يو ټولنيز نظام به نه وي چه هغه دټولنې د اجتماعيت او د هغې د ګټې خيال او فکر ونکړي، او هغه عمل ته ترجيح ور نکړي کوم عمل چه دا ټولنه ئې سرته رسوي .

بيا په دي ميراث کې يو طبيعي عدالت ته هم اشاره ده او هغه دا چه بچي د پلار او مو ر څخه اخيستنه کوي ښه وي که بد ،او همدغه شان د پلار او مور څخه مرضونه په ميراث کې اخلي ، چه دا د هيچا په توان او طاقت کې نشته چه د دغه مرضونو څخه دې دغه ورثه وژغوري ،چه د پيدائښت څخه تر مرګ پورې ورسره مل وي ، نو دا به د عدل او انصاف

ځخه لیرې وي چه دغه د مرض میراث دې ورته رسیږي او د مال د میراث ځخه دې محروم وي ، کوم کې چه ورته خیر ښیګڼه او دوا هم پیدا کیږي . ([1])

## دویم مطلب: په ځینو موجوده ټولنو کې د ښځو میراث

لکه څنګه مو چه مخکې اشاره وکړه چه پخوا په غیر اسلامې ټولنو کې ښځو ته د حیوان بلکه د یو بد متاع په سترګه کتلی شول، د انسانانو په حیثیت یی ورته نه کتل،په یهودې اونصرانې(کریسچن) ټولنو کې به یې د شرم او عار په نظر ور ته کتل،او داسې به یې انګیرله چه ټولې دښمنی او شرونه د ښځې له امله مېنځ ته راځي،په ځینو ټولنو کې به یی د وینځې نظر ورته کولو،او ویل به یی: چه د واده ځخه مخکې د پلار او ورونو په کور کې وینځه وي، او د واده ځخه وروسته د مېړه په کور کې وینځه وي،او خپل تشخص او حیثیت یې د لاسه ورکړی وو،د عار او پیغور له امله به ژوندئ خښول کېدې،کله چه د اسلام مقدس دین راغی او د ټول بشریت لارښود او خیر غوښتونکې جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم استازي ولیږل شو، او د ټولې دنیا د مخلوق لپاره رحمت راغی نو ښځې ته هغه مقام حاصل شو چه هیڅکله هم ورته نه وو حاصل شوي([2]).

اسلامې شریعت چه د مېراث نظام ته کوم اهمیت ورکړو ،او د مېراث نظام یی په پوره تفصیل سره بیان کړو،نو د هغې اثر د نړئ نورو قوانینو ته په عام ډول او انګریزي قوانینو ته په خاص ډول انتقال شو،دا چه په دې وروستیو کې د اسلامې شریعت د مېراث د نظام اهمېت په انګریزي قوانینو تاثیر اچولی دی،چه د نړئ مختلفو رسنیو دا خبر په خپلو نشریو کې د لومړي ځل لپاره خپور او نشر کړو،چه برطانوي قضاء ته د مېراث هغه قانون چه د هغې استناد اسلامې شرعي قوانینو ته شوي دی داخل شوي دي، تر څو وکیلان وکولای شي چه د موکلینو وصیتونه د اسلامې شریعت د مبادئو سره سم ولیکې([3]).

د همدې تقریر په نتیجه کې برطانوي محکمې اعتراف کوي:چه هغه اطفال چه غیر قانوني دنیا ته راوړل شوي دي،او هغه ماشومان چه په اصطلاح فرزندي ساتل شوي وي د مېراث د حق ځخه ایسار شوي دي،او د قانوني ورثه ؤ د لست ځخه بیرون شوي دي، د دې سره سره کوم دوه اشخاص چه په کلیسا یا په مدنې مراسمو کې سره واده وکړي نو هغوې هم د اسلامې شریعت د ازدواج د قوانینو په استناد کوم چه شرعي نکاح د مېراث سبب بولي د ورثه ؤ د لست ځخه ویستل کیږي([4]).

---

[1] : موسوعة عباس محمودالعقاد الاسلامية ص٨٩-٩٢ جلد٤ .

[2] : وګوره, عماره, دکتور محمد عمارة مصطفى عمارة ,التحرير الإسلامي للمرأة ,ج1ص: 67،68.

[3] : اباالخليل ، نايف بن محمد ابالخليل كليةالحقوق والعلوم السياسية –قسم الفقه والقانون الخاص جامعة الملك سعود ،احكام الارث في الاسلام والقانون الانجليزى ،ج١ ص٧ .

[4] : وګوره : www://arabic.cn.com/world/2014/03/23/uk-islamic –law

په ادامه کې لیکې: د برطانیې د مېراث قانون قانوني ورثه منحصره کړې ده، او د هر وارث برخه یې مشخصه کړې ده، او د وصیت لپاره یې هیڅ مجال نه دی پرېښی،مګر د ثلث(دریمې حصې) په حدودو کې وصیت کولای شي،نو مورث نشي کولای چه په ځینې حالاتو کې د وصیت په ذریعه خپل وارثان د مېراث څخه کلي محروم کړي،د اروپا د نورو قوانینو په خلاف،ځکه په ځینې اروپایي قوانینو کې راغلي چه: وصیت کونکې کولای شي خپل ټول ملکېتونه چه و یې غواړي هر چا ته ورکولای شي،او خپل وارثان چه زامن او لورګاني د مېراث څخه محرومولی شي([1]).

معاصرو (موجوده) کمونستانو د مارکسیزم د عقایدو او نظریاتو پر خلاف په دې وروستیو کې شروع کړیده او فطري منازعاتوته په احترام قایله کېږي ، او په یو محدود انداز کې فردي مالکېت ته اباحت (جواز) ورکوي ،لکه څنګه چه د دې ملکېتونو د پاتې کېدو په صورت کې د مړي معتبرې ورثې ته د ورکړې جواز ورکوي ، خو مګر تر اوسه پورې دا خلک د میراث صحیح او منظم واضح تفصیلي نظام نلري، بیا دوې په دې خپل تنګ فکر او کمزورې تصور دا سوچ کوي چه کچیرته یوه کورنۍ ښځو ته میراث ورکړي نو دغه کورنۍ به د دې ټولنیز چاپیرېال څخه د یواځیوالې ماحول ته ووځي او منزوي به شي ،او په دې فکر دي چه دا میراث به دي ټولنه کې د ښخوا په شان پاتې شي ، دا معلومه خبره ده که د میراث خاوندان ښه سوچ او فکر وکړي نو دغه میراث به په ښو لارو چارو کې مصرف شي او کنه نو بیا خو چه کوم طرفته لاړو هلته به تللي وي که څوک خفه وي او که خوشحاله وي([2]).

اسلامي شریعت د سر مایه دارانه او د مطلقه ازادو نظامونو په مېنځ کې ځان ته موقف غوره کړو،کوم نظامونه چه مورث ته اجازه ورکوي چه په خپل مال کې چه څنګه یې چه خوښه وي تصرف وکړي،مورث کولای شي چه ټول وارثان د مېراث د حق څخه محروم کړي،او یو اجنبي کس ته وصیت وکړي،چه هغه یې دوست وي،یا یي خادم وي،او د هغه کمونستي اشتراکي نظام چه کوم چه د مېراث د حق څخه منکر دي،او مېراث ته د ظلم په سترګه ګوري،او د عدالت خلاف یي بولي، او د مړي اولادونو او خپلوانو ته هیڅ شئ هم نه ورکوي([3]).

بیا په فرانسي قانون کې بیا مېراث د محکمې د حکم څخه وروسته ورکول کېږي، او اختیاري دی اجباری نه دی.

---

[1] : وګوره : http://www.m.ahewar.org/s.asp?aid=551682@r=.

[2] : موسوعة عباس محمودالعقاد الاسلامیة ص٨٩-٩٢ جلد٤ .

[3] : ابا الخلیل ,نایف بن محمد اباالخلیل ,احکام الارث في الاسلام والقانون الانجلیزي ,1 ص12.

یهود بیا نارینه اولاد ته میراث ورکوي زنانه ۇ ته یی نه ور کوي،او بی واده ځوی ته د واده شوي ځوی دوه برابره برخه ورکوي،که هغه د صحیح نکاح څخه پیدا شوي وي که د غیر صحیح نکاح څخه پیدا شوي وي.

په نورو غربي نظامونو کې بیگانه خلک هم میراث اخلي،که دوست وي ،یا خادم وي،هغه اولاد چه موندل شوي وي هغه هم میراث اخلي،بلکه هغه څوک چه د مړي سره هیڅ رابطه هم نلري کولای شي میراث واخلي،بلکه لکه څنگه مو چه مخکې ورته اشاره کړې وه حیوانات هم میراث اخستلی شي.

ښځه به چه هر څوک وه که به مور وه یا خور یا لور د اسلامي دین د راتلو څخه مخکې به هغې ته په دې بهانه میراث نه ور کول کېدو چه دا خو نه جنگ کولای شي، او نه د قبیلې څخه دفاع کولای شي، عربو به ویل: هغه چا ته مال څنگه ورکړو چه نه په آس سپریدلی شي،او نه توره پورته کولای شي،او نه د دښمن سره جنگیدلی شي، نو ښځو او ماشومانو ته به یی میراث نه ور کولو([1]).

## دریېم مطلب: په اسلامي شریعت کې د ښځو میراث

د انسان او د مال تر مینځ علاقه او تعلق دی چه مختلفو قوانینو هغه تنظیم کړی دی، او نوم یی ور ته د ملکیت ور کړی دی،او انسان په همدې سره کولای شي چه په خپل مال او ملکیت کې د خپلې ارادې سره سم تصرف وکړي، په کار یې واچوي او د هغې څخه گټه لاس ته راوړي،نو چه کله دا رابطه بر قراره شوه نو انسان مالک شو او مال مملوک شو([2]).

او د انسان په طبیعت کې دا حرص موجود دی چه هغه دې مال زیات کړي،او همېشه لپاره چه ژوندی وي مال ته محتاج دی،او چه کله مړ شي نو حاجت یی هم ختم شي او اهلیت یې هم باطل شي،نو دا ضروري ده چه دا مال دې د یو مالک لاس ته ورشي چه هغه زوړ مالک ته یی نسبت کیږي،نو که خبره د زور او د قوت شي نو بیا به خبره جنگ او وژلو ته ورسیږي،او د تجمع او الفت پر ځای به کورنۍ او ټولنې سره وپاشل شي، او ملکیتونه به د زور او قوت تابع شي،او په ټولنه کې به د ځنگل قانون پلۍ شي،او دا خو یو لوي فساد دی([3]).

او دولت هم نشی کولای چه د مړي وارث شي،ځکه که انسان پوهه شي چه د ده د مرگ څخه وروسته د هغه ملکیت دولت ته انتقالیږي نو بیا به خلک د مال په گټلو او زیاتولو کې

---

[1] : صابونی : محمد علي الصابوني ,المواريث في الشريعة الاسلامية في ضوء الكتاب والسنة,ج1ص20,ناشر: دارالحديث 1388.

[2] : السرخسي، المبسوط، ج 30، ص 2–5

[3] : ابن قدامة، المغني، ج 6، ص 175–180

سست او کسل شي،او دومره به ګټي چه خپل او د کورنۍ ضرورت يې ور باندې پوره کېږي،تر دې چه د مرګ څخه وروسته يې بيخي مال پاتې نشي چه دولت ته وسپارل شي([1]).

او هغه ټولنه چه په هغې کې کسل او سستي حکومت کوي نو بيا هغه ټولنه پرمختګ نشي کولای،او اسلامي ټولنه خو داسې ټولنه ده چه الله جل جلاله غواړي چه دا دې پرمختګ او د نورو ټولنو سيادت او مشري دې وکړي،تر څو د نورو ټولنو لپاره اولګو او مقتدی وګرځي([2]).

نو د دې لپاره شريعت د دې حالت علاج وکړو،او مېراث يې د خپلوانو لپاره مقرر(فرض) کړو،تر څو انسانان اطمېنان حاصل کړي چه مال يې کومې خوا ته درومي، ځکه د خلکو طبيعت داسې دی چه خپلو مربوطو خلکو ته ګټه ور رسوي،چه هغه رابطه يې د نسب او د قرابت وي([3]).

په ټولو قوانينو کې اسلامي شريعت د عدل او انصاف قانون دی،ځکه دا رب العالمېن وضع کړی دی، او هغه د نفسونو په اسرارو باندې پوهه او خبر دی،او کوم شيان چه د بنده ګانو لپاره په دواړو جهانونو کې سم دی په هغې باندې ښه پوهيږي، نو ګورو چه کوم نظامونه چه په جاهليت کې د نفسي خواهشاتو په بناء جوړ وه هغه يې له منځه ويوړل،او ظلم يې ختم کړو،او د ټولو لپاره يې واضحه لاره وښودله،او خلکو ته يې امر وکړو چه د هغې تابعداري دې وکړي،او دا يې هم وښودله چه انسان نه پوهيږي چه دوي ته نفع او ضرر د کوم ځای څخه راځي، الله جل جلاله فرمايي : (آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًاحَكِيمًا)([4]).

ستاسې پلاران او زامن تاسې نه پوهيږئ چه تاسې ته کوم يو نژدې ګټه رسوي د الله جل جلاله د طرفه فرض شوي دی الله جل جلاله پوه او د حکمت خاوند دی.

الله جل جلاله په علم او حکمت سره مېراث فرض کړی دی،او د وارثانو تر مېنځ يې په خپله په ښايسته طريقې سره تقسيم کړی دی،نو د مېراث آيتونو ټول ممکن تقسيمات په تفصيل سره بيان کړي دي([5]).

---

[1] : السرخسي، المبسوط، ج 30، ص 2—5 ،ابن قدامة، المغني، ج 6، ص 175—180

[2] : الزحيلي، الفقه الإسلامي وأدلته، ج 8، ص 65—72

[3] : وګوره : شلبی،محمد مصطفی ، احكام المواريث ج١ص٢٣-٢٢.

[4] : سورت نساء ايت نمبر (11).

[5] : الشاطبي، الموافقات، ج 2، ص 8—12

همدغه شان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه د رب د طرفه کوم حکمونه راغلي په پوره ډول یې بیان کړي دي،او امر یې کړی(أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا فَمَا بَقِيَ فَلِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ) ([1]).

فرائض د هغوي د اهل سره یو ځای کړئ،هغه که نارینه وي که ښځې وي، او هغه څه چه پاتې شي هغه بیا هغه نږدې نارینه ته ورکړئ.

د اسلام څخه مخکې به جاهلانو ښځو او ماشومانو ته میراث نه ورکولو ، نو الله جل جلاله د هغوي هغه حکم چه په جهالت او سرکشئ باندې بناء وو باطل وګرځولو،او ښځې یې د نارینه ؤ سره په میراث کې شریکې کړې،نو د ښځې لپاره یې د خپل جنس د نارینه نیمایې برخه ورکړه،چه نه به زیاتیږي او نه به کمیږي،او د جاهلیت د زمانې په شان یې محرومه نکړه،او نه یې د هغه خلکو په شان چه د عقل او سلیم فطرت څخه منحرف شوي دي د نارینه سره مساوي کړه.

او داسې یې وفرمایل: (آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا)([2]).

ستاسې پلاران او زامن تاسې نه پوهیږئ چه تاسې ته کوم یو نژدې ګټه رسوي د الله جل جلاله د طرفه فرض شوي دی الله جل جلاله پوه او د حکمت خاوند دی. او بیا الله جل جلاله فرمایی : (وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ)(12) تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (13) وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِين)([3]).

دا د الله جل جلاله حکم دی الله جل جلاله پوهه او د صبر خاوند دی،دغه د الله جل جلاله حدود(د دین پولې) دي ، هغه څوک چه د الله جل جلاله خبره ومني هغه به هغه جنتونو ته داخل کړي چه د هغې د مانیو لاندې نهرونه بهیږي، همېشه به په هغې کې وي،دا ستره کامیابي ده،او څوک چه د الله جل جلاله خبره نه مني او د هغه د پولو اوړي، هغه به اور ته داخل کړي او همېشه به پکې وي،او د هغه لپاره به سپکونکې عذاب وي.

نو الله جل جلاله بیان وکړو چه هغه د خپل علم او د حکمت سره سم میراث فرض کړی دی،او دا فرض دی او لازم دی ،نه ترې تجاوز روا دی او نه په کې نقصان، او کوم کسان چه د الله جل جلاله د امر سره سم په دی باندې عمل کوي او د الله جل جلاله د حدودو اطاعت

[1] : صحيح البخاري ج8ص152 حديث نمبر (6737).

[2] : سورت النساء ايت نمبر (11).

[3] : سورت النساء ايت نمبر (12-14).

کوي د هغوي سره يې د جنتونو وعده فرمايلې ده،او کوم کسان چه مخالفت کوي او د هغه د حدودو څخه تجاوز کوي د هغوې سره د همېشني جهنم  او د سپکونکي عذاب وعده کړې ده.

نو اسلامي شريعت په مالي نظامونو کي د مېراث نظام په ښايسته طريقې سره راوړی دی،او قرانکريم د مېراث حالات او د هر وارث برخه او حصه په پوره تفصيل سره بيان کړې ده، او هيڅ بشر ته يې دا مجال نه دی پريښی چه هغه په خپله خوښه تقسيم يا د هغې تحديد وکړي([1]).

د ميراث احکام تعبدي، توقيفي او الزامي دي، نه عرفي دي او نه اختياري([2]).

د اسلامي شريعت د ميراث نظام د مقاصد الشريعة له بنسټيزو اصولو سره ژوره اړيکه لري، ځکه دا نظام يوازې د مال عددي وېش نه دی، بلکې د ټولنيز نظم، کورني ثبات او عادلانه توازن د تحقق وسيله ده. د ښځو لپاره د ميراث حق په ځانګړي ډول د حفظ المال مقصد تحققوي، ځکه مال له ضايع کېدو، غصب او زورزياتي څخه ژغوري او د مشروع وارثانو ترمنځ يې په منظم ډول انتقالوي. همدارنګه دا نظام د حفظ النسل مقصد ته خدمت کوي، ځکه د خپلوانو ترمنځ د مالي حقوقو روښانه کول د کورنيو شخړو مخه نيسي او د نسل تسلسل له داخلي اختلافاتو ساتي.

له بلې خوا، د ميراث احکام د تحقيق العدل او رفع الحرج څرګند مظهر دی، ځکه شريعت د نارينه او ښځې ترمنځ د مسؤوليتونو، مالي مکلفيتونو او ټولنيزو وجايبو توپير په نظر کې نيولی او د همدې توپير پر بنسټ يې د ميراث ونډې تنظيم کړې دي. له همدې امله، ښځې ته د ميراث ټاکل شوې برخه نه د تبعيض نښه ده او نه د کموالي، بلکې دا د الهي حکمت او مقاصدي توازن څرګندونه ده، چې د فرد او ټولنې دواړو مصلحت پکې خوندي کېږي. نو په همدې اساس ويل کېدای شي چې د ښځو د ميراث احکام د شريعت له مقاصدو سره په بشپړ ډول همغږي لري او د اسلامي مالي نظام د عدالت محوري ثابتوي.

## څلورم مطلب: د اسلامي شريعت د نورو قوانينو څخه امتيازات

۱- اسلامي شريعت ثروت او مال تقسيموي،او د يو څو کسانو په لاس کې يې نه پرېږدي،له همدې کبله يې ډېر کسان په مېراث کې شريک کړل([3]).

---

[1] : سابقه حواله ج1 ص6. 

[2] : الكاساني، بدائع الصنائع، ج 7، ص 247–250  الزحيلي، الفقه الإسلامي وأدلته، ج 8، ص 65–72

[3] : السرخسي، المبسوط، ج30، ص5–10

۲- مېراث اجباري دی،که د مورث لپاره وي او که د وارث لپاره وي،خو وارث ته دا اجازه ورکوي چه هغه په خپله برخه کې خپلوانو او محتاجو خلکو ته څه ور کړي،او وارث نشي کولای چه مړي ته دې خپله برخه مېراث بیرته ورکړي،ځکه دا اجباري دی اختیار نلري.

۳- اسلامي شریعت قرابت د مېراث لپاره اساس ګرځولی دی چه ځینې ورثه یې د ځینو څخه غوره ګرځولي دي،ځکه د وارث او مورث ترمېنځ د ګټو اتصال موجود دی([1]).

۴- اسلام د مړي مال د هغه نږدې خپلوانو ته او هغه چا ته چه د مړي سره یې ډېره نږدیکت وو ورکړی دی، او مېراث یې د کورنۍ په دائره کې دننه ساتلی دی چه د هغې د باندې وتلی نشي،ترڅو چه د مېراث اسباب موجود نشي چه هغه قرابت زوجېت او ولاء ده مېراث نشي اخستلای([2]).

۵- اسلامي شریعت مېراث د ضرورت پورې تړلی دی،او همدا د ورثه ؤ ترمېنځ د تفاضل اساس تشکېلوي،ځکه د خور برخه د ورور په نیمایي ده،ځکه ورور مال ته د خور څخه ډېر ضرورت لري، سړی د مهر په ورکولو مکلف دی،ځان او کورنۍ او اولادونه خوېندې او پلار او مور به ساتي،او ښځه په دې ټولو شیانو مکلفه نه ده.

۶- الله جل جلاله د مېراث تقسیم په خپله ذمه واخستلو بل هیچا ته یې د دې د توزیع حق ور نکړو ، نه کوم ملائکې او پیغمبر ته او نه بل څوک په هغې کې د زیادت او نقصان حق لري .([3])

**پنځم مطلب: د اسلام په مقدس دین کې ښځېنه ؤ ته د مېراث د ورکړې دلیلونه**

ښځه که مور وي یا لور خور وي یا کور وداني(ښځه) وي د دې ټولو لپاره د میراث ور کړه په شرعی دلایلو باندې ثابته ده ([4]).

اول دلیل : قرآنکریم :

قرآنکریم د ښځو د میراث مسئله ډېره په تفصیل سره بیان کړیده او د ښځو د میراث احوال ئې بیان کړیدی ،او په تولو حالاتو کې ئې د هغوي د برخو اندازې او مقدار بیان کړیدی .

الله جل جلاله فرمایلي دي : (يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ

---

[1] : ابن قدامة، المغني، ج6، ص180–185

[2] : الزحيلي، الفقه الإسلامي وأدلته، ج8، ص70–75

[3] : وګوره : درداکه، دکتور یاسین احمد ابراهیم ,المیراث في الشریعة الاسلامیة ,ج1 ص54.

[4] : ابن قدامة، المغني، ج6، ص180–185

مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا)([1]).

الله جل جلاله ستاسي د اولادونو په هکله در ته امر کوي چه د نارينه لپاره د دوه ؤ زنانه ؤ د برخو په شان برخه ده،که زنانه له دوه ؤ څخه زياتي وي نو بيا د ترکي دوه پر دري برخه اخلي، اوکه يوه وه نو بيا نيمايي ترکه اخلي،او د پلار او مور لپاره شپږمه برخه ده،که اولادونه يي وه،که اولادونه يي نه درلودل او ميراث پلار او مور اخستلو نو د مور لپاره دريمه برخه ده ،که مړي ورونه درلودل نوبيا د مور لپاره د ترکي شپږمه برخه ده،د وصيت او د دين د اداء کولو څخه وروسته، ستاسي پلاران او زامن تاسي نه پوهيږئ چه تاسي ته کوم يو نژدې ګټه رسوي د الله جل جلاله د طرفه فرض شوي دی الله جل جلاله پوه او د حکمت خاوند دی.

او الله جل جلاله فرمايلي دي: (يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ وَهُوَ يَرِثُهَا إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا وَلَدٌ فَإِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ وَإِنْ كَانُوا إِخْوَةً رِجَالًا وَنِسَاءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوا وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ)([2]).

دوئ له تا څخه پوښتنه کوي ،ته ور ته ووايه چه الله جل جلاله تاسي ته د کلاله په باره کي حکم کوي که يو سړی مړ شي او هغه اولاد نلري او خور لري نو هغه خور يی نيمايی ميراث اخلي،که خويندې دوه وې نو هغوي دوه پر درې برخه ترکه اخلي،او که خويندې او ورونه وه نو نارينه د دوه ، زنانه ؤ برخه ميراث اخلي، الله جل جلاله تاسي ته بيان کوي چه تاسي بی لارې نشئ ،الله جل جلاله په هر شي پوه دی.

دويم دليل نبوی صلي الله عليه وسلم احاديث

د ميراث ثبوت د پيغمبر صلي الله عليه وسلم په مبارکو حديثونو باندې.

رسول الله صلي الله عليه وسلم په هغه څه باندې فيصله کړيده چه الله جل جلاله په کتاب کي دهغي حکم فرمايلی دی :

( أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا فَمَا بَقِيَ فَلِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ)([3]). فرايض مقررې برخې دي د هغي خاوندانو ته ئي ور کړئ څه چه پاتي شو نو په عصَبه ؤ کي ئي اول مړي ته نژدې نارينه ؤ ته ورکړئ .

---

[1] :سورت نساء ايت نمبر (11).

[2] : سوره النساء / آيت : ١٧٦

[3] : بخاري شريف حديث ٥٦٤٠-٦٧٢٢-٦٧٣٢ ص٦

ترمذي وغيره كتابونو كې روايت دي فرمايي:(جَاءَ رَجُلٌ إِلَى أَبِي مُوسَى، وَسَلْمَانَ بْنِ رَبِيعَةَ فَسَأَلَهُمَا عَنِ الِابْنَةِ وَابْنَةِ الِابْنِ وَأُخْتٍ لِأَبٍ وَأُمٍّ؟ فَقَالاَ: لِلِابْنَةِ النِّصْفُ، وَلِلأُخْتِ مِنَ الأَبِ وَالأُمِّ مَا بَقِيَ، وَقَالَا لَهُ: انْطَلِقْ إِلَى عَبْدِ اللَّهِ، فَاسْأَلْهُ فَإِنَّهُ سَيُتَابِعُنَا، فَأَتَى عَبْدَ اللَّهِ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ وَأَخْبَرَهُ بِمَا قَالَا: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا، وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ، وَلَكِنِّي أَقْضِي فِيهِمَا كَمَا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِلِابْنَةِ النِّصْفُ، وَلِابْنَةِ الِابْنِ السُّدُسُ تَكْمِلَةَ الثُّلُثَيْنِ، وَلِلأُخْتِ مَا بَقِي)([1]).

يو نفرابو موسى اشعري او سلمان بن ربيع رضي الله تعالي عنهما څخه وپوښتل شو چه د لور او د ځوی د لور او د خور د ميراث په اړه څه حکم دی هغوی رضي الله تعالي عنهما ورته جواب کې وويل : د لور لپاره نيمائي مال دی او باقي د سکه خور لپاره دی،او بيا يې ورته وويل: عبدالله بن مسعود رضي الله تعالي عنه ته لاړ شئ او د هغه څخه پوښتنه وکړئ هغه به هم زمونږ تابعداري وکړي ،هغوي بيا عبدالله بن مسعود ته راغلل،او همدغه پوښتنه يې ځينې وکړه،او د هغې دواړو خبره يې هم ورته وکړه،عبدالله بن مسعود ورته په جواب کې داسې و فرمايل :

زه به لاره ورکه کړم او په سمه لاره به روان نه يم، زه به هغه شان پريکړه وکړم لکه څنګه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم پريکړه کړې وه، د لور لپاره نيمائي مال دی ،او د ځوی د لور لپاره شپږمه حصه ده چه په دې سره به دوه ثلثين (دوه پر درې) برخه پوره شي او باقي مال به د خور شي .

او د نيا (د پلار مور) په اړه د ميراث په هکله د حديثو په کتابونو کې راغلي دي چه (إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَعْطَاهَا السُّدُسَ» )([2]).

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته شپږمه حصه ورکړه.

علامه ابن تيميه رحمه الله ليکلي دی :

لما سئل أبو بكر - رضي الله عنه - عن ميراث الجدة قال : ما لك في كتاب الله من شيء وما علمت لك في سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم من شيء ولكن اسأل الناس فسألهم فقام المغيرة بن شعبة ومحمد بن مسلمة فشهدا أن النبي صلى الله عليه وسلم أعطاها السدس([3]).

---

[1] : سنن ترمذي , ج4ص415 حديث نمبر (2093)، قال الالباني :صحيح.

[2] : مروزي , أبو بكر أحمد بن علي بن سعيد بن إبراهيم المروزي (المتوفى: 292هـ) مسند أبي بكر الصديق, ج1ص189 ,حديث نمبر (123).محقق: شعيب الأرناؤوط,ناشر:بيروت,عدد أجزاء: 1

[3] : علامه ابن تيميه ,تقي الدين احمد بن عبدالحليم ابن تيمية الحراني الحنبلي الدمشقي,د هغې وخت شيخ الاسلام له لويوعالمانوله جملې څخه وو،اصولی فقيه او لوی مفتی وو،آير لوي كتابونه يې تصنيف كړی دی،لكه الفتاوى الكبرى، الفتاوى الحمويه،او داسې نور كتابونه يې ليكلی دی ، رفع الملام عن الأئمة الأعلام ج1 ص12 .

د ابوبکر صدیق رضي الله عنه څخه د نیا د مېراث په هکله پوښتنه وشوه؟ هغه ورته په ځواب کې داسې وویل : ستا د برخې په باره کې د الله جل جلاله په کتاب کې څه نه دي ویل شوي،او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې ما ته علم نشته ،ته اوس لاړه شه زه به د خلکو (صحابه ؤ) څخه پوښتنه وکړم ، بیا ئې د خلکو څخه پوښتنه وکړه مغیره بن شعبه رضي الله تعالي عنه او محمد بن مسلمه رضي الله تعالي عنه ګواهي وکړه او ور ته ویی ویل : د نبي صلي الله علیه وسلم ورته شپږمه حصه ور کړه, بیا ابو بکر رضي الله تعالي عنه دغه حکم نافذ کړو.

ثُمَّ جَاءَتِ الْجدّة الْأُخْرَى إِلَى عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا فَقَالَ: هُوَ ذَلِكِ السُّدس فَإِن اجْتمعَا فَهُوَ بَيْنَكُمَا وَأَيَّتُكُمَا خَلَتْ بِهِ فَهُوَ لَهَا.

اوبیا یوه بله نیا عمر رضي الله تعالي عنه ته راغله اودخپل میراث دبرخې غوښتنه ئي وکړه عمر رضي الله تعالي عنه ورته وویل: همدغه شپږمه برخه ده که پکې درسره نورې یوځاي شوې په شریکه ئي واخلئ اوکه یواځې وې نو ټوله شپږمه ستاشوه .

دریم دلیل د صحابه کرامو اجماع

صحا به کراموا و تابعینو په دې خبره اجماع کړیده چه د نیا لپاره شپږمه (سدس) دی که نیاګانې یوه وي که ډیرې وي ([1])

صحابه کرامو رضي الله تعالي عنهم ته په دې مسایلو کې داجتهاد ضرورت پیښ نشو ځکه دلته د میراث مسئله په کتاب الله او سنت رسول صلي الله علیه وسلم کې په تفصیل ثابته وه د یو څو مسئلو څخه به غیر لکه د مثال په ډول : که د زوجینو څخه یوه ته فرضي برخه ورسیږي نو د مړي مور ته که پلار ور سره وي د باقي مال ثلث (دریمه حصه ) رسیږي او

---

[1] : الاختيار شرح المختار للموصلي ج 5 / 104 ط مصطفى البابي الحلبي بمصر 27 سنة 1370 هـ،

والمبسوط لشمس الدين السرخسي, ج 29 / 167. مطبعة السعادة بمصر ط ا،

وتبيين الحقائق للزيلعي 6 / 231، دار المعرفة للطباعة والنشر بيروت،

والزرقاني ,عبد الباقي بن يوسف بن أحمد مصري(متوفى: 1099هـ) شرح مختصر خليل 8 / 208 بيروت سنة 1398 هـ

رملي ,شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة(المتوفى: 1004هـ)نهاية المحتاج 6 / 19 المكتبة الإسلامية،

نووي, محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: 676هـ) روضة الطالبين 6 / 11 ط المكتب الإسلامي.

حنبلي, مصطفى بن سعد بن عبده السيوطي رحيبانى (المتوفى: 1243هـ)مطالب أولي النهى 4 / 554 دمشق،

مقدسي ,المغني لابن قدامة 6 / 206 مكتبة الرياض سعودية.

دې مسایلوته مسایل عمري رضي الله تعالي عنه ویل کیږي تفصیل به ئي په خپل ځاي کې راشي انشاءالله تعالي([1]) .

[1] : سید سابق (متوفى: 1420هـ) فقه السنة,ناشر: بیروت – لبنان طبعة: الثالثة، 1397 هـ

## ځلورم مبحث: د شریعت مقاصد

### لومړی مطلب: د مقاصدو تعریف

**۱ .لغوي تعریف**

- مقاصد د "مقصد" جمع ده، چې د باب "ضرب" څخه اخیستل شوي، او د "قصد" کلمې څخه مشتق دي.
- د قصد لغوي معانی:

۱ .د لارې استقامت: لکه الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ﴾[1].
معنی: د سمې لارې ټاکنه او هغې ته په حجتونو او واضحو براهینو بلل.
۲ .اعتدال او مېانه روي: حدیث کې راغلي:
"القصد القصد تبلغوا"[2].
معنی: په کارونو او خبرو کې اعتدال او مېانه روي.
۳ .قرب او نږديکت:
﴿لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَاتَّبَعُوكَ وَلَكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ﴾[3].
۴ .کسر یا ماتول: قصد العود اذا کسره (لرګي ماتول).

**۲ .اصطلاحي تعریف**

د پخوانیو علماؤ او اصولیینو څخه د مقاصدو تعریف نه دی را نقل شوي، ځکه هغوی د تعریفونو په ذکر کولو او د زیات تطویل ملګري نه وه،ځکه د هغوی په نزد د هر شي معنی واضحه ده.

علامه آمدي[4] رحمه الله لیکلي دي : ( المقصود من شرع الحکم :اما جلب مصلحة او دفع مضرة او مجموع الامرین)[5].

---

[1] : القَصْدُ السَّبِيلِ: القاموس المحیط، ج1، ص150.

[2] : الصحیح البخاري، ج1، ص23.

[3] : سورة التوبة ایة 42.

[4] : علامه آمدی ،سیدالدین علی د ابو علی بن محمد په کال (۵۵۱ هج) کې پیدا شوي وو،لومړي د امام احمد بن حنبل په مذهب وو،بیا د امام شافعی مذهب ته لاړو، بغداد کې یی علم حاصل کړو،بیا مصر ته لاړو، ډیر خلک یی وروزل،بیا شام ته لاړو او هملته په کال (۶۳۱هج) کې وفات شو،کتابونه یی الاحکام فی اصول الاحکام او غاية المرام یی لیکلی دی. الموسوعة العربيه العالمية . ج1ص201.

[5] :وګوره : آمدی ،سیف الدین الامدی متوفی (۶۳۱ هج) ،الاخکام فی اصول الاحکام ،ج۳ ص۳۳۹.،ناشر :ریاض. ط ۱ / ۲۰۰۳م.

د حکم د مشروعیت څخه مراد :یاد مصلحت جلبول دي،یا د مضرت دفع کول دي،یا د دې دواړو مجموعه ده.

سلطان العلماء عز بن عبدالسلام([1]) فرمايي: ((فمن تتبع مقاصد الشرع في جلب المصالح ودرء المفاسد حصل له من مجموع ذلك اعتقاد او عرفان أن هذه المصلحة لا يجوز إهمالها و أن هذه المفسدة لا يجوز قربانها و إن لم يكن فيها نص ولا إجماع ولا قياس خاص)([2]).

چا چه د شريعت مقاصد د مصالحو په جلب او د مفاسدو په ردولو کې ولټول نو هغه ته به د دې مجموعې څخه داسې يوه عقيده او عرفان حاصل شي،چه دا مصلحت د اهمالولو جواز نلري،او دې مفسدې ته د نږدې کېدلو جواز نشته،اګر چه په هغې کې نص ،اجماع او خاص قياس هم نه وي.

شيخ الاسلام علامه ابن تيميه([3])رحمه الله فرمايي: چه مقاصد ((الغايات المحمودة في مفعولاته ومأموراته سبحانه وهي ما تنتهي إليه مفعولاته ومأموراته من العواقب الحميدة التى تدل على حكمته البالغة)([4]).

ښې پايلې په کارونو او مأموراتو کې ،هغه چه د حمېده عواقبو سره مل وي کوم چه د هغه په پوره حکمت دلالت کوي.

---

[1] : عزالدين بن عبدالسلام د وخت شيخ الاسلام په كال (٥٧٧ هج) كې زېږيدلى وو، په علم اصول كې د علامه آمدى شاګرد وو, په فقه كې د ابن عساكر شاګرد وو، په شافعي فقه كې د امامت او اجتهاد درجې ته رسيلي وو, او په سلطان العلماء باندې مشهور وو، په مصر كې وفات شوى دى، موسوعة الاعلام ج1ص363.

[2] ابن عبدالسلام ،أبو محمد عز الدين عبد العزيز بن عبد السلام بن أبي القاسم بن الحسن السلمي الدمشقي، الملقب بسلطان العلماء (المتوفى: 660هـ)قواعد الاحكام في مصالح الانام,ج2ص314,ناشر دارالقلم دمشق.2000م.

[3] : ابن تيميه , شيخ الاسلام تقي الدين احمد بن عبدالحليم بن عبدالسلام په كال (٦٦١ هج) كې زېږيدلى وو, د زمانى لوى عالم لوى مفتي وو،فقيه اصولي او د لويو كتابونو مصنف وو، لكه الفتاوى الكبرى ٣٦ جلده، رفع الملام عن المأموم والامام، دقائق التفسير وغيره ډېر كتابونه يې ليكلي دي، صالح مصلح او قران او سنت ته داعي وو،په كال (٧٢٨ هج) كې وفات شوى دى. الموسوعة العربية العالمية .

[4] :ابن تيميه ،شيخ الاسلام احمد بن عبدالحليم ابن تيميه متوفى (المتوفى: 728هـ) مجموع الفتاوي ,ج3ص19 ,1398 ,ط 1.

شيخ المقاصدين امام شاطبی([1]) رحمه الله يی داسې تعريفوي : (تكاليف الشريعة ترجع إلى حفظ مقاصدها في الخلق وهذه المقاصد لا تعدو ثلاثة أقسام: أحدها: أن تكون ضرورية ً والثاني: أن تكون حاجية ،والثالث: أن تكون تحسينيةً)([2]).

د شريعت تكاليف په خلكو كې د هغې د مقاصدو حفظ ته راجع كېږي،او دا مقاصد د دريو څخه نه زياتيږی : لومړي: ضروريات ،دويم :حاجيات ، دريم :تحسينيات دي.

معاصر علماء يی داسې تعريفوي :

امام طاهر ابن عاشور([3]) وايی: مقاصد عامه دادي: (المعاني والحكم الملحوظة في جميع أحوال التشريع أو معظمها بحيث لا تختص ملاحظتها بالكون فی نوع خاص من الأحكام الشرعية) ([4])

هغه معناوې او حكمتونه چه د تشريع په ټولو احوالو يا په زياتو كې ملحوظ دي په داسې شان سره چه په د شريعت په يوه خاصه نوعه كې د هغې كتل خاص نه وي.

او د خاصو مقاصدو تعريف داسې كوي: (الكيفيات المقصودة للشارع في تحقيق مقاصد الناس النافعة أو لحفظ مصالحهم العامة فی تصرفاتهم الخاصة، كي لا يعود سعيهم في

---

[1] : امام شاطبی ،إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي مشهور په الشاطبي، حافظ ،اصولی د غرناطی اوسيدونكې وو، د مالكي علماؤ څخه وو،كتابونه يی الاعتصام،موافقات،اصول الفقه ،المقاصد الشافية او داسې نور ،په كال(٧٩٠ هج) كې وفات شوی دی. الاعلام للزركلی

[2] شاطبی ، إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي الشهير بالشاطبي (المتوفى: 790هـ)الموافقات ,ج 2 ص17 , ناشر:المملكة العربية السعودية,طبعة: الأولى، 1429 هـ-عدد أجزاء: 3

[3] : امام طاهر بن عاشور ،د مالكي مفتيانو رئيس او د جامعة الزيتونه شيخ وو،په كال (١٢٩٦هج) پيدا شوی وو، په كال (1932م) كې ، د مالكيانو شيخ الاسلام ټاكل شوي وو, ډير كتابونه يی ليكلی دی، لكه اصول الانشاء والخطابة ،التحرير والتنوير،مقاصد الشريعة، په كال (هج١٣٩٣) وفات شوی دی. الاعلام للزركلی.

[4] : ابن عاشور ، محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر بن عاشور التونسي (المتوفى : 1393هـ)مقاصدالشريعة ,ج1ص251,ناشر - تونس 1984 هـ عدد أجزاء : 30

مصالحهم الخاصة بإبطال ما أسس لهم من تحصيل مصالحهم العامة ابطالا عن غفلة ،او استزلال هوي او باطل شهوة ،وهي تختص بباب من الأبواب كباب المعاملات)([1]).

هغه کیفیتونه چه د شارع مقصود دی د خلکو په مقاصدو کې کوم چه ګټه ور دی،یا د هغوي د عامو مصالحو څخه په خاصو تصرفاتو کې تر څو په خاصو مصالحو کې د دوي کوښښونه په عامو مصالحو کې د ابطال سره مخ نشی، چه هغه د غفلت له امله وي یا د نا پوهی او باطلو خواهشاتو له امله وي، او هغه د بابونو څخه د یو باب پورې خاص وي لکه د معاملاتو باب.

خو په دی ټولو کې شامل تعریف یی داسې شوي دی : (مقاصد الشريعة هي الغايات التي قصدها الشارع من وضع الشريعة ،والمعانى والحكم الملحوظة عند كل حكم من احكامها،والتي تحقق مصالح العباد - أفرادا وأسرا ،وجماعات وامة – فى الدنيا والاخرة)([2]).

د شریعت مقاصد هغه پایلې چه شارع د شریعت د وضع کولو څخه مراد دي،او هغه معاني او حکمتونه چه په هر حکم کې ملحوظ کړی شوي دي،او هغه څه چه د بندګانو مصالح متحقق کوي ، د افرادو ،کورنیو او ډلو او امتونو په حیث باندې – په دنیا او اخرت کې.

## دویم مطلب: د مقاصدو انواع

اصولي عالمانو مقاصد په څو ډولونو ویشلي دي، ځینې یې د شارع او د مکلف په مقاصدو تقسیموي،او ځینې یې ظني او قطعي مقاصدو باندې تقسیموي، ځینې یې کلي او جزئي مقاصدو باندې تقسیموي،ځینې یې اصلي او تبعي مقاصدو ته تقسیموي،ځینې یې عمومي او خصوصي مقاصدو باندې تقسیموي،ځینې یې عام او خاصو مقاصدو ته تقسیموي.

لومړئ فرع : عام (کلي) مقاصد : دا هغه مقاصد دي چه اسلامي شریعت هغې لره په ټولو یا اکثرو تشریعي بابونو کې یې متحقق بولي([3]).

یعنې دا هغه معاني او حکمتونه دي چه د شارع لپاره د تشریع په ټولو یا زیاتو بابونو کې ملحوظ دي،په داسې شان سره چه په یو خاص باب کې مختص نه وي، او هغه لاندې خبرو ته شامل دي:

---

[1] : ذكرشوى مرجع ، مقاصدالشريعة ,ج1ص۴۱۵.

[2] : عبدالباقى ، دكتور مصباح الله عبدالباقى رئيس پوهنتون سلام كابول ،مذكرة فى مقاصد الشريعة ،ج۱ص۱۱ ، پى دى ايف

[3] : عبدالعاطى ،محمد عبدالعاطى ،المقاصد الشريعة واثرها فى الفقه الاسلامي ،ج ۱ ص۱۴ ،ناشر دارالحديث قاهره ،ط ۲۰۰۷م

لومړي : هغه د خلکو مصالح متحقق کوي: په دې کې ضروري مقاصد، حاجیات او تحسینیات داخلیږي،یا د اصولیانو په اصطلاح :   د حاجت په اندازه مقاصد.

أ / ضروري مقاصد : علامه شاطبي يې داسې تعریفوي: دا هغه څه دي چه د دین او دنیا د مصالحو لپاره حتمي او ضروري وي،په داسې شان سره چه که د مېنځه لاړ شي نو د دنیا مصالح جريان نه مومي،بلکه فساد ،هرج و مرج او ژوند کول به مشکل شي،او په اخرت کې به نجات او نعمتونه د لاسه ورکړي،او د لوئ تاوان سره به مخامخ شي،او هغه په پنځه کلیاتو کې نغښتلي دي، چه مراد ترینه د دین نفس عقل نسل او د مال ساتل دي([1]).

ب/ حاجیه مقاصد : دا هغه مقاصد دي چه په انکشاف او د تنګسې د ختمولو لپاره په کار اچول کیږي کوم چه غالبا حرج او مشقت ته رسیږي،او په نتیجه کې يې هغه مطلوب شئ د لاسه دروميي،نو کله چه مراعات نشی نو مکلفین په مجموع کې د حرج او تکلیف سره لاس او ګریوان کیږي،خو د فساد مرحلې ته نه رسیږي([2]).

الله جل جلاله فرمايي :( مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُون)([3]).

الله جل جلاله نه غواړي ستاسې لپاره حرج لکن غواړي چه تاسې پاک کړي،او په تاسې خپل نعمتونه تمام کړي تر څو تاسې شکر اداء کړئ.

او الله جل جلاله فرمايي : (يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ)([4]).

الله جل جلاله ستاسې لپاره اساني غواړي او ستاسې لپاره سختي نه غواړي.

ج/ تحسیني مقاصد : دا هغه مصالح دي چه د هغې په پرینښودلو سره خلک نه متضرر کیږي،او د هغې د لاسه په ورکولو سره په خلکو حرج او مشقت نه راځي،علامه شاطبي وايي: دا هغه په ښو عادتونو باندې عمل کول دي کوم چه د انسان د شان سره لایق او مناسب وي،او د هغه بدو او خرابو عادتونو څخه ځان ژغورل دي کوم چه سلیم عقل يي نه خوښوي،او دې ته مکارم الاخلاق ویل کیږي([5]).

دویمه فرع : خاص او جزئي مقاصد :

[1] : شاطبی ، ج٢ص١٧ ناشر قاهره ط ١ ،1993ه/1411 ،.

[2] : شاطبی ،سابقه مرجع ج٢ ص۴-۵.

[3] : سورت مائده ایت نمبر(6).

[4] : سورت البقره ایت نمبر (185).

[5] : شاطبی ،سابقه مرجع ،ص٧.

لومړي : خاص مقاصد : دا د هغو اهدافو مجموعه ده چه شریعت يي په يو باب یا يو خاصه موضوع کي مراعاتوي ، لکه د مېراث یا د وصیت باب([1]).

د دې بابونو د عامو تشریعي مقاصدو په څنګ کي د اسلامي شریعت خاص مقاصد وي.

دويم : جزئي مقاصد : دا د هغه اهدافو او حکمتونو مجموعه ده چه اسلامي شريعت يې د احکامو څخه په يو معين حکم کي مراعتوي،لکه د اصحاب الفروضو برخه په هغه معلومه اندازه ،او د عصباتو برخه په ما بقي ترکه کې،یا لکه هغه حکمونه چه د ذوي الارحامو پورې تعلق لري([2]).

نو دا حکمونه د عامو مقاصدو په څنګ کي خپل خاص مقاصد هم لري.

دريم مطلب : د مېراث په باب کي د ضروري مصالحو د تحقق مقصد

د ژوند د ښه مخ ته بیولو لپاره ضروري مصالح ډير اړين دي،د مېراث په باب کي به کتونکي ومومي چه د ضروري مصالحو د تحقق مقصد د پنځه ؤ کلیاتو له مېنځه د هغې په ټولو صورتونو کي محقق دي ،او هغه لاندې فروعات لري:

لومړي فرع : د مېراث په باب کي د دين د حفاظت مقصد: دين د انسانانو ضرورت دی،ځکه په دنیا او اخرت کي کامیابي او نجات د دين څخه په غير امکان نلري،تر څو خپل رب وپيژني او د هغه عبادت او بنده ګي وکړی، الله جل جلاله فرمايي : (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ)([3]).

ما انسانان او پیریان د خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي.

د مېراث په باب کي د دين حفاظت په لاندی اموراتو کي متحقق کیږي:

لومړي : مرتد يي د مېراث څخه منع کړی دی: مرتد هغه څوک دی چه په خپله خوښه اختيار او اراده د اسلامي دين څخه په شا لاړ شي، اګر که هغه بل دين ته هم تللې وي.

فقهاء په دې کي هيڅ اختلاف نلري چه مرتد د بل چا څخه مطلقا مېراث نشي اخستلی،اګر که د مېراث د اسبابو څخه سبب موجود هم وي،نو مرتد د مسلمان څخه هم او کوم دين ته چه

---

[1] : محمد عبدالعاطی ،سابقه مرجع ،ص١٥.

[2] : محمد عبدالعاطی ،سابقه مرجع ،ص١٥.

[3] :سورت ذاریات ایت نمبر (56).

بیرته تللی د هغه څخه هم مېراث نشي اخستلی،او نه یی د بل مرتد څخه اخستلی شي،که مرتد ښځه وي که سړی وي([1]).

په حدیث کې راغلي دي : «لَا يَرِثُ المُسْلِمُ الكَافِرَ، وَلَا الكَافِرُ المُسْلِمَ» ([2]).

مسلمان د کافر او کافر دمسلمان څخه مېراث نشي اخستلی.

دویم : د دین اختلاف یی د مېراث مانع ګرځولی دی: دا واجب دي چه وارث او مورث دې دواړه د ارث د استحقاق په وخت کې په یو دین باندې متحد وي.

فقهاؤ اتفاق کړی دی چه غیرمسلم د مسلمان څخه مېراث نشي وړلی،نو که یو مسلمان مړ شي او د هغه خپلوان غیر مسلم وي که هغه مسیحي وي یا یهودي وي یا وثني(بت پرست)وي یا بې دینه وي،نو د مسلمان خپلوان څخه مسلمان وي مېراث نشي وړلی.

د جمهورو فقهاؤ نظر دادی چه مسلمان د غیر مسلم څخه مېراث نشي وړلی په هر سبب چه وي،نو مسلمان مېړه د غیرې مسلمې ښځې څخه مېراث نشي وړلې،او مسلمان خپلوان د غیر مسلم خپلوان څخه مېراث نشي وړلی.

او په دې خبره کې په دې حدیث باندې استدلال کوي چه فرمايي: «لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ»([3]).

د دوه ؤ ملتونو خلک د یو بل څخه مېراث نشي اخستلی.او په دې قول د نبی صلی الله علیه وسلم چه فرمایی: («لَا يَرِثُ المُسْلِمُ الكَافِرَ، وَلَا الكَافِرُ المُسْلِمَ» ([4]).

مسلمان د کافر او کافر دمسلمان څخه مېراث نشی اخستلی.

بله دا ده چه د میراث اساس تعاون مرسته او دوستي کول دي،او دا کارونه د مسلمان او غیر مسلم تر مېنځ ناشوني دي.

دویمه فرع : د مېراث په باب کې د نفس د ساتنې مقصد:

د نفس دساتنې مقصد دمېراث په نظام کې په دې متحقق کېږي چه قاتل دمقتول د مېراث څخه منع کړیشي،فقهاؤ اتفاق کړی دی چه قتل د مېراث د موانعو څخه یو مانع دی، نو چه کوم وارث خپل مورث ووژني نو هغه ترې مېراث نشي اخستلی، ځکه د نبي صلی الله علیه وسلم

---

[1] : سید سابق : (متوفى: 1420هـ) فقه السنة ج 3 ص657.ناشر: دار الكتاب العربي، بيروت ،طبعة: 3، 1397 هـ

[2] : ترمذی ،ج۴ ص423 حديث نمبر(2107). حكم صحيح.

[3] : سنن ترمذي ج4ص 424حديث نمبر (2108),حكم صحيح.

[4] : ترمذی ،ج۴ ص423 حديث نمبر(2107). حكم صحيح.

قول دی چه فرمایی: (« ليس للقاتل شيء وإن لم يكن له وارث فوارثه أقرب الناس إليه ولا يرث القاتل شيئا »)([1]).

د قاتل لپاره هيڅ شئ نشته ،که وارث يی نه درلود نو هغه ته نژدې څوک يی وارث دی،او قاتل ته د مېراث څخه هيڅ شئ نشته.

او ځکه چه قاتل د مېراث په حصول کې عجله وکړه، او قاعده فقهيه ده چه وايی: (من استعجل شيئا قبل اوانه عوقب بحرمانه)([2]).

چا چه د وخت د راتلو څخه مخکې د يو شي په حصول کې عجله وکړه هغه به د هغې شئ د حصول څخه محروموليی شي.

بله خبره داده چه که قاتل ته مېراث ور کول شي نو لوئ فساد به رامېنځ ته شي، ځکه که قاتل په مېراث کې حقدار وګڼل شي نو خلک به خپل مورثين وژني تر څو مېراث يی ژر تر لاسه کړي او د انتظار څخه وژغورل شي، او د دې څخه لويه ګډ وډي جوړيږي،او په ټولنه کې لوي فساد او کش مکش را مېنځته کېږي،او د بله پلوه قتل په خپله يوه لويه او بده جريمه ده،او شريعت عقل او قانون دا اجازه نه ورکوي چه د دې جرم ارتکاب دې د دې سبب شي چه جاني ته دې د مجني عليه مال ورکول شي،او هغه دې ترى ګټه پورته کړي.

دريمه فرع :د مېراث په باب کې د نسل او عزت د ساتلو مقصد: اسلامي شريعت د نسل نسب او د عزت په ساتلو باندې ډېر ټينګار کړی دی د دې لپاره چه کورنی مصئونه پاتې شی، او د جګړو او لانجو مخه ونيول شي کومه چه د هغه غيرت له امله مېنځ ته راځي چه دا انسانان په هغې باندې پيدا شوي دي،او هغه شکوک او شبهات دفع شي کوم چه په نسبونو باندې واقع کېږي،اسلام نکاح روا بللي ده او زنا او قذف يی حرام کړی دی.

الله جل جلاله فرمايی : (وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا)([3]).

زنا ته مه نږدې کېږئ،بيشکه دا بې حياء کار دی او بده لاره ده.

او الله جل جلاله فرمايی : (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ)([4]).

---

[1] : سنن ابي داوود ج4 ص313 حديث نمبر (4566)حكم : حسن .

[2] : سيوطى ،عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (متوفى: 911هـ),الاشباه والنظائر ج1ص152,ناشر: دار الكتب العلمية,طبعة: الأولى، 1411هـ-عدد أجزاء: 1

[3] :سورة اسراء اية نمبر (32).

[4] :سورة نور اية نمبر (4).

هغه خلک چه په پاکو بیبیانو باندې تهمت لګوي، بیا څلور ګواهان نلري هغوي اتیا دّرې ووهئ،او د هغوي ګواهي د همېشه لپاره مه قبلوئ، او همدوي فاسقان دي.

د مېراث په نظام کې د نسل او عزت مقصد ته که وګورو : شریعت د زنا څخه پیدا شوي بچي ته مېراث نه ورکوي،البته د مور(زناکارې ښځې)څخه د زنا څخه زیږیدلی ماشوم مېراث اخلي،او هغه کس چه چا ورته ځوی ویلی وي(متبنی) د مېراث څخه محروم کړی دی.

څلورمه فرع : **د مېراث په باب کې د عقل د ساتنې مقصد** :

الله جل جلاله فضل او کرم کړی دی چه انسان ته یی عقل ور کړی دی، او په نورو حیواناتو باندې یی هغه ته امتیاز ورکړی،او همدا عقل یی د تکلیف لپاره اساس ګرځولی دی،او په همدې سره یی علم او پرمختګ کړی دی،نو ځکه د عقل ساتل ضروري او مهم دی،او د انسان ژوند د عقل د ساتلو څخه په غیر مخ ته نه ځي، همدا وجه ده چه شریعت هر هغه څه چه عقل تباه کوي منع او حرام کړی دی، نو د مسکراتو او مخدراتو هرقسم یی منع کړی دی.

پنځمه فرعه : د مېراث په باب کې د مال د حفاظت مقصد:

دا خو معلومه ده چه انسان د مال د مینې سره پیدا شوي دی، الله جل جلاله فرمایی: (وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا)([1]).

تاسي د مال سره ډیره مینه لرئ.

ځکه تر څو چه انسان ژوندی وي نو مال ته یی ضرورت وي،ځکه مال د ژوند مهم ضرورت دی، او په همدې باندې انسان په دنیا او اخرت کې تقویه کیږي،له همدې امله اسلام د انسان او مال تر مینځ رابطه ایجاد کړې ده،او د مال د لاسته راوړلو لارې چارې یی تنظیم کړي دي،او د ژوندیو خلکو تر مینځ یی د راکړې ورکړې وسیلې برابرې کړې دي،او د یو چا د مرګ څخه وروسته یی د مال د انتقال لارې د مېراث په ذریعه تنظیم کړې دي، چه د مړي نږدې خپلوانو ته هغه مال په څه طریقه انتقالیږي،نو همدا وجه ده چه مېراث د مال د انتقال مأمونه اوبهترینه لاره ده،او همدا طریقه د تبذیر څخه د مال د حفاظت او د مال د ډیریدو او زیاتوالي ښه لاره ده.

نو په اسلامي شریعت کې مېراث د مال د ساتلو او د ډیرولولپاره معتبره لاره ده،او د مېراث په نظام کې د مال د حفاظت مقصد ښه متحقق کیږي،نو په اسلامي شریعت کې د مال د حفاظت څخه همدا مقصد دی.

[1] : سورة الفجر ایت نمبر (20).

## درېيم مطلب: د مېراث په باب د ضروري مصالحو تحقق

### ۱ .د دين ساتنه

- د مېراث لپاره لازم چې وارث او مورث په يو دين کې وي.
- مرتد او غيرمسلمان د مسلمان څخه مېراث نشي اخيستلی.
- قرآن او حديث:

»لَا يَرِثُ المُسْلِمُ الكَافِرَ، وَلَا الكَافِرُ المُسْلِمَ«([1]).
»لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ«([2])

### ۲ .د نفس ساتنه

- قاتل د خپل مقتول وارث نه شي.
- حديث»:ليس للقاتل شيء وإن لم يكن له وارث فوارثه أقرب الناس إليه ولا يرث القاتل شيئا«([3]).

### ۳ .د نسل او عزت ساتنه

- د زنا څخه پيدا شوي اولاد مېراث نه لري، د کورنۍ نسب او عزت خوندي ساتل.
- قرآن کريم:

﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا﴾([4]).
﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ...﴾([5]).

### ۴ .د عقل ساتنه

- د عقل د تباهۍ مخنيوی :مخدرات، مسکرات منع شوي.

### ۵ .د مال ساتنه

---

[1] : الصحيح البخاري و مسلم، حديث نمبر 1625.

[2] : الصحيح البخاري، حديث نمبر 1627.

[3] : سنن ابی داوود، ج3، ص123.

[4] : الاسراء: 32.

[5] : النور: 4.

- د مال د خونديﺱ کولو، تبذير مخنيوي، او د انتقال سيستم په مېراث کې تعبيه شوی.
- قرآن کريم: ﴿وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا﴾([1]).

## څلورم مطلب: د حاجيه مصالحو تحقق

1. د مړي او د هغه چا تجهيز چې شرعاً نفقه واجب وه.
2. د قرضونو اداء کول مخکې له ترکې وېش:
   - ديون د الله: زکات، کفاره، نذر.
   - ديون د بنده ګانو: قرض، مهر، مزدوري.

## پنځم مطلب: د تحسيني مصالحو تحقق

- ښه اخلاق، ادب، نجاستو نه خرڅول، د عباداتو آداب، د ښځو او ماشومانو خوندي ساتل.
- تقدم: ضروري، حاجيه ، تحسيني.

## شپږم مطلب: د مېراث فلسفه او معيار

- د نارينه او ښځې ترمنځ د سهمونو توپير: د قرابت، عمر، او مالي مسؤليت پر اساس، نه د جنسيت.
- د مالی مسؤليت معيار د عدالت اصل دی([2]).

### پايله: د ښځو د ميراث احکام د مقاصد الشريعة په رڼا کې

- د ښځو مالي حق د شريعت تضمين شوی، د نارينه د ارادې تابع نه دی.
- د سهمونو توپير د عدل او مسؤليت پر اساس دی، نه ظلم.
- د ټولنې، کورنۍ، او مالي ثبات ساتنه د احکامو هدف دی.
- د فقهي او مقاصدي اصولو پر بنسټ، شريعت د ښځې حق تضمينوي.

### د د لومړی فصل خلاصه

له دې فصل څخه څرګندېږي چې د ميراث نظام د اسلامي شريعت له هغو بنسټيزو احکامو څخه دی چې د فرد، کورنۍ او ټولنې ترمنځ د عدالت او توازن د ټينګښت لپاره تشريع شوی دی. اسلامي شريعت د ميراث موضوع يوازې د مال د وېش په تخنيکي چوکاټ کې نه ده

[1]: سورة الفجر اية 20

[2]: محمد عماره، فلسفة الميراث في الشريعة الإسلامية، ص85

محدوده کړي، بلکې دا یې د ټولنیز عدالت، اقتصادي توازن، او د کورني نظام د ثبات له مهمو وسیلو څخه ګرځولې ده.

په دې فصل کې وښودل شوه چې د میراث د احکامو تر شا ژور حکمتونه او ستر مقاصد پراته دي، چې د انساني فطرت، ټولنیزو اړتیاوو او اقتصادي واقعیتونو بشپړ مراعات پکې شوی دی. شریعت د انسان د فطري میلان درناوی کړی، د مال د تمرکز مخه یې نیولې، د کورنۍ اړیکې یې پیاوړې کړې، او د شریعت د مقاصدو، په ځانګړي ډول د حفظ المال، تحقیق العدل، او رفع الظلم تحقق یې تضمین کړی دی.

همدارنګه، دا فصل روښانه کوي چې د ښځو د میراث حق د اسلامي شریعت له سترو اصلاحاتو څخه دی. اسلامي شریعت ښځه د مستقل مالي شخصیت په توګه پېژندلې او د میراث لپاره یې ټاکلې، محفوظې او نه بدلېدونکې ونډې مقررې کړې دي. که څه هم په عملي ژوند کې د ښځو د میراث د تطبیق پر وړاندې ستونزې شته، خو دا ستونزې د شریعت له نقص څخه نه، بلکې د عرفي فشارونو، ناسم ټولنیز چلند او د شرعي احکامو د کمزوري تطبیق پایله ده.

سربېره پر دې، د معاصرو قوانینو او اسلامي شریعت ترمنځ مقایسوي تحلیل دا حقیقت لا روښانه کوي چې اسلامي شریعت د ښځو د میراث په برخه کې نه د محرومیت لاره خپله کړې او نه د غیر واقعي مساوات، بلکې د عدل، حکمت او مسؤولیت پر بنسټ متوازن نظام یې وړاندې کړی دی. دا نظام د هر زمان او مکان لپاره د تطبیق وړ دی او د انساني کرامت، کورني ثبات او ټولنیز عدالت تضمین کوي.

په پایله کې، ویلای شو چې د میراث نظام د اسلامي شریعت د الهي عدالت یو روښانه انځور دی، چې د بشري قانون‌سازۍ له نیمګړتیاوو څخه لوړ ولاړ دی. د دې نظام سمه پوهه او عادلانه تطبیق نه یوازې یو فقهي مکلفیت، بلکې یو اخلاقي، ټولنیز او دیني مسؤلیت هم ګڼل کېږي، چې د سالمې ټولنې د جوړښت لپاره بنسټیز ارزښت لري.

## دویم فصل
## د مېراث حالات او د شریعت مقاصد

## لومړي مبحث : د ښځینه ؤ د مېراث حالات او د شریعت مقاصد

### لومړي مطلب : د لور د مېراث حالات او په هغې کې د شریعت مقاصد

1 – الله جل جلاله فرمایی : (يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ)([1]).

ژباړه : الله جل جلاله درته امر کوي ستاسې د اولادونو په باره کې د نارینه لپاره د دوه ؤ ښځو برابره برخه ده،که جینکۍ دوه یا زیاتې وې نو بیا دوه پر درې ترکه اخلي،او که لور یواځې وه نو بیا نیمایی مال اخلي.

صلبي (خپله) لور

خپله لور دري حالتونه لري:

لومړي: که لور یواځې وه نو بیا نیمائي(نصف) مال اخلي .

دویم: که دوه یازیاتې وې نو بیا دوه ثلثه (دوه پردرې) حصې اخلي.

دریم: که د زامنو سره یو ځاي راشي نو بیا دوه لورګاني د یو ورور برابر للذکر مثل حظ الانثیین حصه د عصبیت په حال کې اخلي.

د لور په مېراث کې د شریعت مقصد :

لکه څرنګه مو چه په تیر فصل کې یادونه وکړه چه معیار نارینتوب او ښځېتوب نه دی ،بلکه معیار مالي مسئولیت دی، چه لور د ځوی په نسبت مالي مسئولیت کم لري، نفقه ،لباس ،او سکنی یی پر بل لازمي شوي ده، که د پلار په کور کې وي نو مسئولیت یی د پلار څخه وروسته د ورور پر غاړه دی،او که واده شوه نو مهر به هم اخلي ،او نفقه لباس سکونت او نور ټول مالي مسئولیتونه یی د مېړه په غاړه دي، نو ځکه خو اسلامي شریعت ورور ته د خور په نسبت زیات مېراث ورکړی دی.

### دویم مطلب : دځوی لور(لمسۍ) د لورګانو په شان ده خو دوي شپږ حالتونه لري:

لومړي حال : که یواځې وه نو نیمایی(نصف) اخلي.

دویم حال: که دوه یازیاتي وې نودوه ثلثه اخلي، خو دا په هغه وخت کې چه د مړي خپلې لورګانې نه وي.

---

[1] : سورة النساء اية نمبر (11).

دریم حال : سدس اخلي که دمړي یوه صلبي لور موجوده وه ترڅو دوه ثلثه ور باندې پوره شي.

څلورم حال :که د مړي دوه صلبي لورګاني ورسره یوځاي راشي نوبیا دوي ته حصه نه رسیږي.

پنځم حال : خو که د دوي په برابري کې یا د دوې څخه ښکته هلک موجود شي نو بیا دوي ته د ذوي الفروضو د حصو د جدا کولو څخه وروسته پاتي مال په طریقي د للذکر مثل حظ الانثیین سره میراث ورکول کیږي.

شپږم حال :که دمړي دځوی سره یو ځاي راشي نوبیا ساقطیږي([1]).

د ځوی د لور په مېراث کې د شریعت مقصد:

عین همغه مقصد دی کوم چه د لور د مېراث مقصد دی، او هغه دا چه د نسبت لمسی ته د دوي مالي مسئولیت کم دی.

**دریم مطلب : د مور د مېراث حالات او په هغې کې د شریعت مقاصد:**

الله جل جلاله فرمایی : (وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ)([2]).

په ترکه کې د پلار او مور لپاره شپږمه حصه ده که مړي اولاد درلود،که اولاد یی نه درلود او مېراث یی یواځې پلار او مور اخستلو نو د مور یی ثلث (دریمه برخه) اخلي،که مړې ورونه لرل نو مور ته به شپږمه برخه رسیږي.

د مور لپاره درې احواله دي :

لومړي: که ځوی یا د ځوی ځوی که څومره هم ښکته وي ور سره یوځاي راشي نو سدس اخلي، یا ور سره دوه یا زیاتې خویندې ورونه یو ځاي راشي هر څنګه چه وي.

دویم : که دغه پورته ذکر شوي ور سره یو ځاې را نشي نو بیا د ټول مال ثلث اخلي.

دریم : که د یو د زوجینو څخه د فرضي حصې د اخستلو څخه وروسته د ما بقي مال ثلث اخلي او دا په دوه مسئلو کې دي : یوه دا ده چه د مړې ښځې میړه او د هغې پلار او مور

[1] : وګوره :السرخسی ، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفى: 483هـ),المبسوط سرخسي ,ج29ص143 ناشر:بیروت ,طبعة: بدون طبعة : 1414هـ-عدد أجزاء: 30

[2] : سورة نساء اية نمبر (11).

موجود وي نو مسئله به د شپږو ځخه شي نصف به د زوج شي او يو به د مور شي او دوه به د پلار شي.

دويمه مسئله دا ده چه : د مړي يوه ښځه ده او مور او پلار ئي دي نو دلته هم د مور لپاره ثلث د ما بقي ورکول کيږي[1]

د مور په مېراث کې د شريعت مقصد :

د مېراث نظام په اسلامي شريعت کې يو ټولنيز نظام دی ، د خپل منځي روابطو او صله رحمۍ ، تعاون مرستې، او د کورنۍ تر مېنځ د اجتماعي تکافل(يو بل ته رسيدل) تقويه کونکې نظام دی،او د ټولنې په خير او بهبود باندې ولاړ دی[2].

اسلامي شريعت د مړي مېراث د هغه نږدې خپلوانو ته ور کړی دی،چه هغه د مړي کورنۍ او د هغه اقرباء دي،ځکه په ژوند کې دې انسان د سختې په وخت کې همدوئ ته پناه وړله، او د هغه د مال په حصول کې هم د دې خپلوانو ډير لاس وو، په نتيجه کې دا ضروري ده چه د هغه د وفات ځخه وروسته د هغه مال همدې خپلوانو او اقرباؤ ته تقسيم کړای شي، نو د فقهي قاعدې مطابق (الغرم بالغنم)[3].

تاوان په ګټه پورې،ګټه په تاوان پورې تړلې ده.

نو په مېراث کې مړي ته دا ضمانت دی چه ستا د مرګ ځخه وروسته ستا مال ستا په اقاربو کې ماشومانو او ضعيفانو ته ورکول کيږي،تر څو هغوي ستا د وفات ځخه وروسته نورو خلکو ته د سوال لاس اوږد نکړي، ذليل او خوار نشي، او همدا ستا په مال باندې هغوي غنيان او مالدار شي، نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : (إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ)[4].

ته که ورثه غنيان پريږدې نو دا به د دې ځخه ښه وي چه ته يې فقيران پريږدې او خلکو ته يې لاس اوږد کړی وي او سوال کوي.

---

[1] : وكوره : الموصلی , عبد الله بن محمود بن مودود ، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: 683هـ)

,الاختيار لتعليل المختار ,ج5 ص93,ناشر: مطبعة بيروت)تاريخ النشر: 1356 هـ عدد أجزاء: 5

[2] : سالم ، جابر عبدالهادى سالم ، سابقه مصدر ص۱۶۲.

[3] شامي, سابقه مرجع ,الدرالمختار وحاشية ابن عابدين ردالمحتار ,ج4 ص270.

[4] : البخاري ,صحيح البخاري ج2ص81حديث نمبر (1295).

**څلورم مطلب: د خویندو د مېراث حالات او په هغې کې د شریعت مقاصد**
١ - سکه(اعیاني) خویندې پنځه حالتونه لري:

که یواځې وې نو نیمایی (نصف)مېراث اخلي .

که دوه یازیاتې وې نو دوه ثلثه اخلي.

د اعیاني ورور سره عصبه ګرځي نو بیا للذکر مثل حظ الانثیین اخلي ،ځکه مړي ته په قرابت کې یو شان دي .

که د مړي د لورګانو یا د مړي د ځوی د لورګانو سره یو ځاي راشي نو بیا باقي ټول مال اخلي ،د نبي کریم صلي الله علیه وسلم) د دې وینا له امله چه فرمائي: لِلْابْنَةِ النِّصْفُ وَلِابْنَةِ الِابْنِ السُّدُسُ وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ([1]).

ژباړه : د لور لپاره نصف دی، او د ځوی د لور لپاره سدس دی،او ما بقي د خور دی .

او که د مړي نارینه اولاد لکه ځوی ،د ځوی ځوی که هر څومره ښکته وي ور سره یو ځای راشي نو بیا په دی حالت کې سقوط کوي او مېراث نه اخلي([2]).

٢ - پلارنۍ خویندې د سکه خویندو په شان دي خو دوي اوه (٧) حالتونه لري: که یواځې وې نصف ، که دوه یا زیاتې وې نو دوه ثلثه اخلي که سکه خویندې موجودي نه وې ، که یو سکه خور ور سره موجوده وه نو بیا شپږمه حصه اخلي تر څو ثلثین ور باندې پوره شي، که دوه سکه خویندې ور سره موجودي شي نو بیا ساقطیږي خو مګر که چیرته ور سره پلارنۍ ورور موجود شي چه دوي د هغه په وجه عصبه وګرځي ، او باقي مال به د دوی تر مینځ للذکر مثل حظ الانثیین شي،چه د لورګانو یا د ځوی د لورګانو سره عصبه وګرځي لکه مخکې چه تیر شو، د اعیاني او علاتي ورونو او خویندو اولاد د مړي د سکه (صلبي) ځوی او د ځوی په ځوی سره که څومره هم ښکته وي ساقطیږي، په پلار سره په اتفاق ساقطیږي، په نیکه سره د احنافو (رحمهم الله)په مذهب کې ساقطیږي،او د پلارنۍ خور اولاد په سکه ورور او سکه خور سره هم ساقطیږي چه کله عصبه وګرځي([3]).

٣ : مورنۍ خویندې درې احواله لري: که مړي زامن او د ځوی ځوی یا لور او د هغې اولاد او پلار یا نیکه نلرل نو په دې صورت کې ور ته سدس ور کول کېږي ،دوهم که د

---

[1] : البخاری ،صحیح البخاری ،ج٨ ص١٥٢ ، حدیث نمبر(٦٧٤٢).

[2] : الزحیلي , الفقه الاسلامي وادلته ج 10 ص7783.

[3] : شیخي زاده, عبد الرحمن بن محمد بن سلیمان المدعو بشیخي زاده, یعرف بداماد أفندي (المتوفى: 1078هـ),مجمع الانهر في شرح ملتقی الابحر - 2ص750,ناشر: دار إحیاء التراث العربي,عدد أجزاء: 2

مړي مورنۍ اولاد د دوه يا د هغې څخه زيات وو نو بيا ور ته د ترکې يو ثلث ور کول کيږي او دغه ثلث به د دوي تر مينځ برابر شريک وي ،دريم حجب که مړي اولاد ولري ، يا د مړي پلار نيکه که پورته هم وي موجود وي نو دغه مورنۍ خويندې وي که ورونه د ميراث څخه محروميږي([1]).

د خويندو په مېراث کې د شريعت مقصد:

د اسلامي شريعت مقصد د خويندو په مېراث کې همدادی چه لکه څنګه چه نوره ورثه د مړي څخه را تاؤ وي ،او د مړي ټوله تکيه او اعتماد په همدې خپلوانو وي، همدغسې خويندې هم دي ، نو که نوره ورثه يی نه وه او يوه خور يی وه نو بيا خو نيمائی تر که اخلي، او که خويندې دوه يا زياتې وي نو دو ثلثه اخلي ، ځکه هغه څوک چه د خويندو د واده کېدلو څخه مخکې او وروسته د هغوي مسئوليت لري هغه ورور دی، نو د ورور په مال کې دوي ته هم زيات سهم ورکول کيږي چه بيا د ورور د مرګ څخه وروسته دوي بل چا ته محتاجې نشي.

## پنځم مطلب: د نيا د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد

نيا (جده ) د نيا لپاره يو سدس دي که پلارنۍ وي يا که مورنۍ ،يواځې وي يا که ډيرې وي،خو چه په درجه کې سره يو شانته وي، نيا ګاني ټولې که پلارنۍ وي يا مورنۍ وي د مړي د مور په موجوديت سره ساقطيږي، او پلارنۍ نياګاني په پلار سره ساقطيږي ، او همدغه رنګه په نيکه سره هم ساقطيږي ، مګر يواځې د پلار مور پرې نه ساقطيږي که څومره پورته هم وي.

د نيا(جده)په مېراث کې د شريعت مقصد:

لکه مخکې مو چه وويل: چه د مېراث مقصد دادی چه د مورث د مرګ څخه وروسته د هغه ورثه چا ته محتاجه نشي ،او چا ته د سوال لاس اوږد نکړي، ځکه شريعت دغه حال په هيڅ صورت د هيچا لپاره نه قبلوي، او بالخصوص د مړي د ورثې لپاره خو يی قطعاً نه قبلوي.

## شپږم مطلب: د ښځې(زوجې) د مېراث حالات او په هغې کې د شريعت مقاصد

الله جل جلاله فرمايی : (وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ)([2]).

---

[1] : وګوره : الزيلعي ، عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الزيلعي الحنفي (المتوفى: 743 هـ),تبيين الحقائق شرح كنزالدقائق ,ج 6 ص236,ناشر: قاهرة,طبعة: الأولى، 1313 هـ

[2] : سورة نساء اية نمبر (12).

که ستاسي اولادونه نه وه نو ستاسي په ترکه مو د زوجي(ښځې) لپاره څلورمه برخه ده،او که ستاسي اولادونه وه نو بیا د زوجي لپاره اتمه حصه ده .

د زوجي(ښځی) حالات :

ښځه دوه حالات لري .

که اولاد یا لمسي ئي نه وه نو بیا څلورمه برخه(ربع) اخلي ، که اولاد یا لمسي ولري نو بیا ور ته اتمه حصه(ثمن) دی .

که ښځې هر څو وي په دغه ربع یا ثمن کې به سره شریکې وي([1]).

د ښځې په مېراث کې د شریعت مقصد :

زوجېت د مېراث د اسبابو څخه یو سبب دی ، او د مېړه په مرګ خو د ښځې کور وران شوي دی، نو ښځه د مېړه په مېراث کې معلومه برخه اخلي، ځکه د اسلام څخه مخکې ښځه د زوجېت له امله د مېراث مستحقه نه وه،بلکه د اسلام د مقدس دین د راتللو څخه پخوا د واده نه مخکې د پلار په کور کې د وینځې په حیث ترې کار اخستل کېده، او د واده څخه وروسته به د مېړه په کور کې د وینځې په توګه ترې کار اخستل کېده،کله چه د اسلام مقدس دین راغی نو ښځې ته یی هغه عالي مقام ورکړو چه په هیڅ دین او قانون کې یی نه وو تر لاسه کړی، اسلامي دین زوجېت د مېراث د اسبابو څخه یو مهم سبب وګرځولو،او ښځه یی د مېړه په کور کې یو ملکه او د نورو مېراث خورو سره یو ځای د مېراث مستحقه وګرځوله،او مقصد یی دادی چه ښځه کونډه ده ، ژوندون ته اړتیا لری،نو باید خپل مال ولري،او خپل پاتې ژوند په سمه طریقه پر مخ بوځي،او هیچا ته باید محتاجه نشي، تر څو د مېړه نوم یی په راتلونکې کې د پیغور سره مخ نشي،او چا ته د سوال لاس اوږد نکړي،او د خلکو د خبرو ښه ونګرځي.

## دویم مبحث : د مېراث په هکله د اسلامي شریعت او نوروقوانینو تر مېنځ مقارنه

### لومړي مطلب : په اسلامي شریعت کې د ښځېنه ؤ مقام او مرتبه

د اسلام د مقدس دین د راتګ څخه پخوا د ښځو حالات باندې به یوه تاریخي رڼا واچوو تر څو د ښځو حالات روښانه شي، چه د اسلامي دین څخه پخوا ښځو په کوم حال کې ژوند تیرولو،او کله چه د اسلام مقدس دین دنیا ته راغی ،او قران پاک نازل شو د ښځو مقام یی د کوم ځای څخه کوم ځای ته پورته کړو،او ښځې ته یی د هغې شخصیت او کرامت بیرته اعاده کړو، کوم چه په نړۍ کې هیڅ وضعي قوانینو نه وو ورکړی ،او نه به یی ور کړي.

[1] : وګوره : الفتاوی هندیه , شیخ نظام وجماعة من علماء الهند,عالمکیریة,ج6 ص450 ,ناشر دار الفکر 1411هـ-عدد أجزاء 6

مونږ که د یونان قوانیو ته نظر وکړو، نو وینو چه ښځو د سړیو په مقابل کې د یو مملوک او متاع حیثیت درلود، هغه د واده څخه مخکې د پلار یا ورور ملکیت وو، او د واده څخه وروسته د مېړه ملکیت وو، په خپل نفس کې یې نه د واده کولو څخه پخوا او نه د واده څخه وروسته د تصرف کولو حق درلود، هغه به پلورل کېده، او قیمت به یې ولي الامر(واکدار) تر لاسه کولو.

په روماني قانون کې ، د ښځې سره د ماشوم یا د لیوني په شان سلوک کېدلو، یعنی هیڅ قسمه اهلیت یې نه درلوده، او د کورنۍ مشر ته دا حق وو چه د خپل ولایت لاندې هر څومره ښځې پلورې نو پلورلای یې شي، او ښځه به تر مرګه پورې د ولی الامر تر سلطنت لاندې وه، که هغه به پلار وو که به ورور یا مېړه وو، هغه ته دا حق حاصل وو چه ښځه پلورې، شړی یې،عذاب ورکوي، او که یې وژني([1]).

د یهودو په شریعت کې ، ښځې ته به د خادم په سترګه کتل کېده، او د مېراث څخه به محرومه وه،که هغه به مور وه، که به ښځه وه، کله به چه د مړي نارینه اولاد موجود وه، دا د یهودو په کتاب په سفر تکوین (۲۱) اصحاح([2]) کې راغلي دي.

په امریکا کي د ښځو مېراث:

غربیان اوس هم د مېراث په باب کې د ناپلیون د قانون تابعداري کوي او یو څه اضافه هم ورسره کوي،د ناپیلیون قانون صراحت لري چه مېراث په کامله توګه د مشر ځوی حق دی او نورو زامنو ته نه ورکول کېږي،لکن په موجوده عصر کې په دغه قانون کې تعدیل کړی دی چه نیمایی مېراث یې د مړي ښځې ته ورکړی دی،او باقي نیمایی مېراث به د نورې ورثې ترمېنځ په مساوي ډول ویشل کېږي، د نارینه او زنانه فرق یې نه دی کړی([3]).

---

[1] : الشعراوی، محمد متولی الشعراوی ،مکانة المرأة فی السلام ،جلد اول صفحه ۱۳۵.

[2] : وګوره :توراة : چه په عهد قدیم سره هم پیژندل کېږي،پنځه (اسفار) کتابونه لری، یو یې سفر التکوین دی چه پنځوس باب ونه(اصحاح) لری،دویم سفر الخروج چه څلویښت اصحاحه لری،سفر اللاویین چه اوه ویشت اصحاحه لری، سفر العدد شپږ دیرش اصحاحه لری، سفرالتثنیه چه څلور دیرش اصحاحه لری،خو دا ټول سره یو تر بله متناقض ضد او نقیض دی.

تلمود : دا هغه شفاهی عبارتونه چه د پیړیو پیړیو څخه د یهودی کشیشانو او پاپانو څخه نقل شوی دی،او اکثریت یهود یې منزل کتاب ګڼی، او دا عقیده لری چه موسی علیه السلام ته تورات په کوه طور کې مدون نازل شوی وو،او تلمود یې همداسې شفاهی ورکړی وو،په تلمود کې تاریخی ،تشریعی،زراعتی ادب اوعلمې موضوعات شامل دی. علی ربیع ، یحی محمد علی ربیع ،الکتب المقدسه بین الصحة والتحریف ،ج۱ ص۲۳۱ ،ناشر :منصوره ،طبع اول، همدارنګه :حجازی السقا، نقد التوراة اسفار موسی الخمسة السامرية،العبرانية اليونانية ،ج۱ ص۱۳۴ ،ناشر قاهره ،مکتبة الکلیات الازهرية.

[3] : ذکر شوی حواله مکانة المرأة فی الاسلام .

علامه سید ابوالحسن علي([1]) ندوي رحمه الله داسې ویلی دي :

د مانو([2]) قانون په هند کې د ښځې لپاره د پلار او مېړه څخه مستقل حق نه پیژندلو،او که پلار او مېړه به یی نه وو نو د اولاد څخه یی مستقل حق باندې قائل نه وو،که احیانا دا خلک به نه وه نو مېراث به یی د مېړه یا ځوی اقاربو ته وجوباً ورکول کېدو،او په هیڅ حال کې ښځه مستقله نه وه،او د دې څخه هم سخته خبره دا وه چه مېړه به یی مړ شو نو په هماغه ورځ به د دې هم په هماغه هندو سوزان کې د مرګ او سوزیدلو پریکړه شوې وه، دا عادت د ډیر قدیم څخه په برهمي مذهب کې چلیدلو،او د اولسمې پیړۍ پورې یی دوام وکړو، او بیا وروسته د دیني کړیو د نا خوښۍ سره ختم شو([3]).

د حمورابی([4]) قانون کوم چه په بابل کې مشهور وو،ښځه به یی د مواشي(حیواناتو) له جملې څخه ګڼله،چه د ښځو په هکله د دوي د هغه اصل مذهب او فکر ښکارندوي کوي،کله به چه د چا د لاسه یو جینۍ ووژل شوه نو د هغې په بدل کې به یی بله جینۍ ورکوله ،که د مقتولې ورثې به وژله او که به یی ترې وینځه جوړوله، او که خوښه به یی شوه نو و به یی بښله،او کله کله به یی د مجبورۍ څخه وژله تر څو د هغه قانون نص عملي کړای شي([5]).

اوس به د عربو په جزیره کې د ښځو د احوال پوښتنه وکړو؟

کله چه ښځه سپکه شي نو دا خو شرم اوپیغور دی،او کورنۍ ورباندې خفه کېږي،نو د دې پیغور او د شرم له امله به دوي ژوندۍ لونه خښولې،او په دې به یی نفقه زیاتوله لکه څنګه یی چه په وینځه یا کوم ګټور حیوان زیاتوله،او لوې قیمت به یی د هغه چا سره وو چه هغوي به ژوندۍ نه خښوله،او د مېراث یوه برخه به یی ګڼله چه د پلار څخه به ځامنو ته

---

[1] :الندوی ،علي أبو الحسن بن عبد الحي بن فخر الدين ندوي (په کال 1333ق کې د هند په شمالی ښاررأی بریلی د تکیه په کلی کې زیږیدلی وو،او په کال 1420ھ کې وفات دی .ډیر تصانیف لری چه د هغې جملی څخه سیرت نبوی ،الاسلام والحکم، الی الاسلام من جدید او داسې نور. انترنت ویکپیډیا.

[2] :وګوره : مانو دا د هغه هندی ټولنیز فامېلی قانون اصل او مصدر دی ،دا بیا داسې یو مقدس قانون وو چه ټولو خلکو ته منلی وو،او د دی د پیل زمانه هم معلومه نه ده، د دی قانون په اړه د هندی مذهب په کتابونو(ویدا) په ځینی عبارتونو کې ذکر کېږي،هر چه (منو اسمراتی) دی نو هغه بیا د هند ټولنیز فامېلی اساسی قانونو دی،او د هغې نسبت (بهرکومهاراج) ته کېږي کوم چه د هند د قانون د لویو علماؤ څخه وو،یو شمېر زیات څیړونکې په دی عقیده دی چه دا کتاب د مسیح علیه السلام د مېلاد څخه پخوا په دریمه پیړۍ کې تالیف شوی دی،بحواله دوه کتابونه د دکتور کنکاناتهه جها او دکتور جیوال چه دا دواړه د هند دقانون د لویو عالمانو د ډلی څخه وه. ندوی ،شیخ الاسلام ابوالحسن علی بن عبد الحي بن فخر الدين ندوی په کال ۱۳۳۳ ق زیږیدلی وو او په کال ۱۴۲۰ ق کې وفات دی ابو الحسن علی ندوی،مکانة المرأة فی الاسلام صفحه ۱۵ بحواله کتاب محمود عباس العقاد.

[3] : وګوره : حواله سابقه، ندوی ، تکریم المرأة فی الاسلام ،ج اول ص۱۴.

[4] : په عراق کې د بابلیانو او اکادیانو دولت وو ، پایتخت یی په بابل کې وو، هغوی د زراعت او ابادیو جوړولو ته مخ کړی وو، د مشهورو پاچاهانو څخه یی حمورابی وو، کوم چه لومړنی بشری او وضعی قانون جو کړی وو، او هغه ته به یی د حمورابی قانون ویلو. حکومت یي د 1728، 1676 قبل المیلاد وو, موجز التاريخ الإسلامي منذ عهد آدم عليه السلام (تاريخ ما قبل الإسلام) إلى عصرنا الحاضر 1417 هـ ,جلد 1 ص18,مؤلف: أحمد معمور العسيري , ناشر: رياض)طبعة: أول، 1417 هـ ,عدد أجزاء: 1

[5] : سابقه حواله .

انتقالیدله،او په قرضونو او دیونو کې به رهن (ګرو) یا خرڅیدله،په دې لاره کې به یې هیڅ هم حمایت او ملاتړ نه کولو،مګر که د ډیرې عزتمندې کورنۍ به وه نو هغه بیا په یو څه ښه حال کې به وه([1]).

اوس نو اسلامي نظام ته وګوره

چه هغه د ښځو سره کومه رویه اختیار کړی ده، هغه نورو ظالمونظامونو ښځه کومې کندې ته غورزولې وه ،او اسلام کوم رفیع او اعلی او د انساني ټولنې په مینځ کې څومره مناسب مقام ورکړی دی،نو په قران کریم باندې په زغلنده نظر به مونږ ته هغه توپیر روښانه شي چه جاهلي تقسیم او اسلامي او قراني تقسیم د ښځې لپاره کښلی دی،فردي سلوک او ټولنیز قانوني چلندونه همېش له همدې قیمتونو څخه سرچینه اخلي او پرې چلیږی.

په قرانکریم کې د انساني ټولنې د نیمایی برخې او نازکه جنس په هکله ډیر آیاتونه نازل شوي دی،چه په دې بشری ټولنه کې د ښځې اعتبار او د الله جل جلاله په نزد د هغې منزلت او شان پخوي،او د دې ښکارندوي کوي چه ښځه کولای شی چه په دین ،علم او د اسلام په خدمت کې په نیکیو او تقوي کې د تعاون او د ټولني اصلاح اعلی درجاتو ته ځان ورسوي،او ښځه همېشه د نارینه ؤ سره یو ځای د اعمالو په قبلولو،نجات سعادت او د آخرت په کامیابیو کې اوږه په اوږه روانه ده.

الله جل جلاله فرمایی : (وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا)([2]).

ژباړه: څوک چه نیک عملونه وکړي نارینه وي که زنانه او هغه ایمان لري نو دغه خلک به جنت ته داخلیږي،او دوي سره به د خرما د زړي ترشا د تور داغ په اندازه هم ظلم ونشی.

او الله جل جلاله فرمایی : (فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ)([3]).

ژباړه : الله جل جلاله د هغوي دعا قبوله کړه، زه د هیڅ عمل کونکې عمل نه ضائع کوم چه هغه ښځه وي که نارینه ځینې له ځینو څخه دي.

---

[1] :العقاد ،استاذ محمودعباس العقاد ، المرأة فی القران ،ج١ ص٥١-٥٧ ناشر مصر.

[2] : سورة النساء اية نمبر (124).

[3] : سورت ال عمران اية نمبر(195).

او د نارینه سره جوخته ده په ټولو فرصتونو او په ښائسته ژوند(حیاة طیبة)کې ،حیات طیبه د ژوند ټولو سهولتونو او هوساینو ته شامل دی،چه هغه ټولو کرامتونو عزتونو خوشحالیو،خاطر جمعي او داسې نور.

الله جل جلاله فرمایی : (مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ)([1]).

ژباړه : څوک چه نیک عملونه وکړي نارینه وي که زنانه او هغه ایمان لري نو هغه ته به پاک او ښائسته ژوند په برخه کړو او د هغوي مزد به ور ته په ښائسته هغه طریقه ورکړو چه دوي عملونه کول.

ښائسته صفتونه او نیک عملونه او د دین لوي شعبې ور ته یادوي،او ښځې یواځې د نارینه ؤ سره ملګرې کړې نه دي ،بلکه دې ته اشاره ده چه په عملونو او ښو صفتونو کې د دواړو جنسونو توپیر نشته،بالعکس یو یو صفت یی یادوي،نو کله چه نارینه یادوي نو جوخت ور سره ښځې هم یادوي،اګر که بیان اوږدیږي هم،ځکه ښځې په دې ټولو صفتونو کې په نارینه ؤ قیاس دي.

الله جل جلاله فرمایی : (إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا)([2]).

ژباړه : بیشکه مسلمانان سړي او مسلمانې ښځې،مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې،عاجزي کونکي سړي او عاجزي کونکې ښځې،ریښتوني سړي او ریښتونې ښځې،صبر کونکي سړي او صبر کونکې ښځې،او د الله جل جلاله څخه ویریدونکي سړي او ویریدونکې ښځې،او صدقه کونکي سړي او صدقه کونکې ښځې،روژه نیوونکي سړي او روژه نیوونکې ښځې،او د خپلې حیاء ساتونکي سړي او د حیاء ساتونکی ښځې،او د الله جل جلاله ډیریادونکي سړي اوډیرې یادوونکې ښځې،الله جل جلاله د دوي لپاره ښښنه او لوي اجر تیار کړی دی.

او قران په عباداتو او قربانیو باندې اکتفاء نکوي،بلکه مسلمانې خویندې د قوي علماؤ او سړیو سره شریکوي،د مضبوطې ارادې فتوي عالی همت په مصیبتونو باندې صبر کول،او په امر د نیکیو او د بدیو څخه په منع کولو کې معارضې ته وړاندی کېدل،او د نارینه او زنانه ؤ څخه یو عظیمه کتله جوړوي تر څو چه په نیکی او تقوي کې د یو بل سره تعاون او مرسته وکړي.

---

[1] : سورت النحل آية نمبر(٩٧).

[2] : سورة الاحزاب آية نمبر (35).

الله جل جلاله فرمايی : (وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ)([1]).

ژباړه : مؤمنان سړي اومؤمني ښځې په خپلو کې سره دوستان دي،دوي به د نيکيو امر کوي او د بدو کارونو څخه به منع کوي،لمونځونه به قائموي،زکاتونه به ورکوي،او د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم خبره به مني،په دغو خلکو به الله جل جلاله رحم وکړي،بيشکه الله جل جلاله زور ور او د حکمت خاوند دی.

په انساني کرامت او لوي منزلت او مرتبې ته د رسيدلو لپاره يی شرط ايښی دی چه هغه تقوي ده،او ويني نسل او جنس ته يی نه دي کتلي، الله جل جلاله فرمايی : (يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ)([2]).

ژباړه :ای خلکو ما تاسې د يو نارينه او يوي زنانه څخه پيدا کړي ياست،او ډلې او قبيلې مې جوړې کړې، د دې لپاره چه سره يو بل وپيژنئ، بيشکه په تاسې کې ډير د کرامت څښتن هغه دی چه ډيره تقوي ولري.

دا ټول د همتونو د بيدارولو لپاره تضمين ورکوي،او د ښځو په نفسونو کې عزت او پختګي په جوش راولي،او د نفس د بی همتۍ او کسالت څخه يی ژغوري ،کوم ته چه په نوي سائکالو جسټکی علومو کې (نيمګړتيا پيچلتيا) ويل کيږي، چه د همدې په برکت دا تاريخ جوړ شوي دی چه د نبی صلی الله عليه وسلم د بعثت څخه وروسته تر دې دمه پورې د مسلمانو بی بيانو کارنامې ثبت دی ،چه په هغوي کې مربياني دي،مجاهدې دي،اديباني دي،دکتابونو مؤلفاني دي،د قران حافظاني دي،د احاديثو راوياني دي،زاهداني دي،د الله والا دي،په ټولنه کې د عزت او مقام خاونداني دي،چه د هغوي څخه امت ډيره لويه استفاده کړې ده،او د اولګو په صفت د خلکو لپاره د تابعدارۍ سمبولونه دي([3]).

او کوم حقوق او برخې دي چه د اسلام مقدس دين مسلماني ښځې ته ورکړي دي،چه هغه د ملکيت او د ميراث ،او د پير او پلور، د ضرورت په وخت کې د تفريق غوښتل،کوم ته چه

---

[1] : سورة التوبه آية نمبر (71).

[2] : سورة الحجرات آية نمبر (13).

[3] : وګوره : د اعلام النساء في عالمي العرب والاسلام، د عمر رضا كحاله ،جلد اول ، ص٣.

خلع ویل کېږي، د خِطبې فسخ کول کله چه واده کولو ته خوښه نه وي، د اخترونو جمعو او ټولنو ته حاضریدل او داسې نور کوم چه په فقهي کتابونو کې ذکر شویحقوق دي.([1])

دغرب علماؤ او څېړونکو ټولنپوهانو او تاریخ پوهانو په دې اعتراف کړی دی چه د قراني تعلیمات اود اسلامي شریعت په ټولو مذاهبو امتیاز لري، اسلام ښځې ته احترام لري،او د ښځې په حقوقو او د هغې سره په سلوک کې د هر چا څخه ممتاز دي،دلته په د دوه کسانو شهادت باندې اکتفاء وکړو، یوه ټکړه ښځه ده چه په هند کې هغې د اصلاحي حرکت مشري او رهبري په غاړه درلوده،او د هند په جنوب کې یی د یو ثقافتي مرکز مشري کوله،او د هند د ازادئ په تحریک کې هم فعاله وه، هغه د آیني بیسنت په نوم یادیدله هغه وایی:

(بیشکه اسلامي قانون کوم چه د ښځو متعلق دي، دا په دنیا کې د ټولو قوانینو څخه ډیر مترقي قانون دي،او زیات د عدالت څخه ډک قانون دی،او دا قانون د غربي قوانینو څخه کوم چه د زمکو او د وراثت د حقوقو او د د طلاق پورې ارتباط لري ډیر مخکې او پیشرفته قانون دی،دا قانون د ښځو د حقوقو لپاره ساتونکې دي،دا کلمات چه (په یوه ښځه اکتفاء کول) او (د ښځو تعدد )په خلکو جادو کړی دی، او د خلکو سترګې یی د هغه تفکر څخه ځان ته اړولي دي کوم چه غربي ښځې د سپک ژوند او مایوسئ سره مخ دي،او پخوانیو مېړونو هغوې په سرکونو باندې پریښې کوم چه د هغوي د عصمت د ساتلو مسئول وه([2]).

استاذ (N .L. Coulsen) وایی :په دې کې شک نشته چه قرآني تشریعات د ښځو په یو محدود مرکز پورې خاص وي،چه هغه مخصوصا مېړوښې ښځې دي،او دا ډیر مثالي او د عدالت څخه ډک قانون دی،په لوي شمار کې د نکاح او د طلاق قوانین په عام طور سره هدف ترینه په ټولنه کې د ښځو د مرکز تحسین او هغوي ته د پر مخ تلو زمېنه برابرول دي،او د اسلام څخه پخوا د عربو په قانون کې د تبدیلي راوستل دي،او ښځې ته د یومستقل قانوني شخصیت ورکول دي،کوم یی چه پخوا نه درلود،لوي تغیر چه قرآن راوستلو نو هغه دطلاقو په احکامو کې د مطلقې لپاره د عدّت تیرول دي([3]).

نو د ښځو په هکله دا نوې نظریه د دې قراني ایاتونو او نبوي صلی الله علیه وسلم د تعلیماتو په رڼا کې د ښځېنه جنس لپاره په بشري عالم کې د نوي زیږون په معنی شوه،ځکه د ښځې او دحیوان تر مېنځ هیڅ توپیر نه وو،نو دا د پرمختګ او اخلاقو په دنیا کې او په کورنی ژوند او د زوجیت په رابطه کې یو مبارک بدلون را مېنځ ته شو([4]).

---

[1] : وګوره : سباعی ، دکتور مصطفی سباعی ،المرأة بین الفقه والقانون /ج۳/ص۲۰.

[2] : وګوره ، The Lif e and Teaching of Mohammad.Madras- 1932 .p.-3 .

[3] : Islamic Surveys: The History ofislamic Law (N.L.Coulsen Edimburg. 1297.p.14).

[4] : ندوی : سابقه حواله صفحه (۲۲).

## دويم مطلب : د اسلامي نظام او موجوده غير اسلامي نظامونو تر مېنځ د ښځې د مېراث په هکله مقارنه

ددي ځخه وروسته چه په پخوانيو دينونو کې داسلام نه مخکې د ښځېنه ؤ دميراث ځه حال ؤ،اوپه هغوي بيچاره ګانو باندي په دغه فاسدو نظامونو او قوانينوکي دظلم اوزياتي حد اواندازه کومې درجې ته رسيدلې وه ، چه په هغې که دطمعي اوخواهشاتو لوي لاس وه، د اسلام ښکلي رڼا اوعدالت راغی او ددوي ځخه ئي دسرکشو اوباغيانو دغه ظلمونه اوملا ماتونکي رسمونه اورواجونه لرې کړل،اودائي ښکاره کړه چه ښځېنه هم د نارينه ؤ په شان حقونه لري،چه دهغې سره تعرض اود هغې کمول روانه دي ،لکه ځرنګه چه په ښځؤ باندې حقوق او واجبات دي چه په هغې زيادت اونقصان دواړه نا روا دی اود دې حقونو ځخه يو ئي ميراث دی.

نو د ښځېنه ؤ د ميراث په مسئله کې که مونږ اسلامي نظام دنورو شرايعو اونويو اوزړو نظامونو سره پرتله کوو نو مونږ ته لاندي شيان په لاس راځي :

١ :کوم ذات چه دمېراث د تقسيم واکدار دي هغه الله جل جلاله دي بشر نه دی ،نو دترکې په تقسېم او توزېع کې د الله جل جلاله په شان عدالت اودقت هېڅ بشر نشي کولای مګر هغه چا ته چه الله جل جلاله هدايت کړی وي ، الله جل جلاله فرمايلي دي: (آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا)([1]).

تاسو نه پو هيږئ چه ستاسو پلار ان اوستاسو زامن تاسوته ځوک ګټور دي ،دا د الله جل جلاله دطرفه فرض کړيشوي دي په تاسو باندې ،بيشکه الله جل جلاله د علم او د حکمت خاوند دی .

٢ : د اسلام مقدس دين ضروورياتو ته کتلي ځومره چه احتياجات ډير وي هم هغومره يي ورته حصه ټاکلي ده له همدې کبله دځامنو برخه د پلار انو ځخه زياته ټاکلې شويده ،دا ځکه چه دزامنو مخې ته ژوند را روان دي او پلاران د دنيا ځخه د آخرت په طرف روان دي ،همدا وجه ده چه د نارينه ؤ لپاره په اکثره حالاتو کې د ښځېنه ؤ دوه برابره حصه ورکړل شويده ،دا ځکه چه ځوی واده کونکی دی دخپلې ښځې مهربه ورکوي ،ښځې او اولاد ته به نفقه پيدا کوي نو د ده احتياجات اوضرورتونه په نسبت خور ته چه هغه بل ته واده کيږي مهر به اخلي اونفقه وغيره به ئي په بل چا وي زيات دي .

٣ :داسلام مقدس دين ميراث يواځې په مال کې منحصر(راګير) کړي دي اولکه د جاهليت دوخت په شان ښځېنه ئي د ميراث حصه نه دي ګرځولي ،بلکه دزوجيت اړيکي ته يي د عزت په سترګه وکتل ،د ښځې او ميره ترمينځ ئي مينه محبت واچولو چه دامينه اومحبت د يو بل

---

[1] :سورة النساء اية نمبر (11).

دمړينې په وخت کې دميراث دوړلوسبب شو،نودزوجيت دا رابطه ئي دنورو نظامونو په شان بي فايدې اوعبث ونه ګڼله .

٤ :لکه څرنګه چه وينو اسلام دخپلوۍ حق لکه دروماني اويوناني قوانينو په شان بې فايدې ونه ګرځولو بلکه حق دقرابت (خپلولي) ئي دکورنيو ترمينځ دميراث د قوي اسبابو څخه ګرځولې ده،اوخلک دخپلولی په وجه قوي کيږي ،په ژوندانه کې ورباندې مينه احساسوي ، اوخلک دخپلولۍ له کبله هغه څه چه ممکن وي هغه کارونه سرته رسوي ،اوخپلولي په اوله درجه کې مراعاتوي ،اودهمدي قرابت په وجه ديو بل څخه ميراث اخلي ،څومره چه مړي ته قريب وي هغه د ميراث زيات مستحق دي داسلام مقدس دين ددې ټولو رعايت کړيدي .

٥ : داسلام مقدس دين دنورو اديانو لکه دکمونستانوو غيره پرخلاف فردي مالکيت حق ګڼي ،او هغه د يو بل څخه دميراث دوړلو سبب ګڼي ،لدي کبله کمونستا ن د ميراث څخه انکار کوي اګر که په دي وروستيو وختونو کې په يوڅه کم ميراث باندې قايله شويدي([1]) .

٦ : دا چه د فرانسي قانون د ښځينه ؤ او نارينه ؤ تر مينځ د مطلق مساوات حکم کوي د اسلام مقدس دين د اجتماعي عدالت او توازن په نظر کې نيولو سره د الله جل جلاله دا وينا ئي عملي کړيده چه فرمايلي دي : (وَإِنْ كَانُوا إِخْوَةً رِجَالًا وَنِسَاءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ)([2]).

(که وورنه او خويدي د مړي څخه پاتي شي نو نارينه ؤ ته د ښځينه ؤ دوه برابره حصه ورکول کيږي ) .

٧ : دپخواني مصرپه قانون کې د خپلوانو د مساوات په اړه ويلي شوي دي خو د اسلام مقدس دين هغه رد کړيدي ځکه د خپلوانو ميراث د هغوي د پلار څخه مقدم (مخکې) دي اوخويندي په ميراث کې د ورونو څخه مخکې دي اوداسي نور ...

د فرانسي او روماني قوانينو ورونه ټول په ميراث کې مساوي ښودلي دي (سکه ورونه (اعياني) چه د مور او پلار دواړو څخه وي ) او د دي درجو رعايت ئي کړيدي هغه څوک چه مړي ته نژدي وي هغه حق د اوليت لري .

٨ : لکه څرنګه چه د عربو په جاهليت کې او پخوانيو شرقي ټولنو کې مشر ورور ته په ميراث کې حق د اوليت ورکول شوي ؤ د اسلام مقدس دين د هغي پر خلاف ټول ورونه په ميراث کې مساوي ګڼلي دي .

---

[1] : السباعي , دكتور مصطفى بن حسني سباعي (متوفى: 1384هـ) شرح قانون الاحول الشخصية/ج٣/ص٢٠,ناشر: دار الوراق للنشر والتوزيع - المكتب الإسلامي.عدد أجزاء: 1.

[2] : سوره النساء / آية :١٧٦.

۹ : د اسلام مقدس دين د يهودو په شان بي واده ځوی ته په نورو ځامنو د کوم امتياز قايله نه دي ، ځکه يهود ان بي واده ځوی ته د نورو ځامنو دوه برابره حصه ورکوي .

۱۰ : د اسلامي شريعت فيصله دا ده چه د وارث اولاد لکه (دځوی ځوی يا دځوی لور )د وارث سره په ميراث کې نشي شريکېدلي ځکه وارث په لومړي مرتبه کې او د هغه اولاد په دوهمه مرتبه کې دي ځکه همدا د ميراث ډيرمستحق دي نه د دوي اولاد ځکه اولاد د پلار مرتبي ته نشي رسيدلي،د دي پرخلاف فرانسي اورومانې قانون د ځوی ځوی او د ورور ځوی د هغه سره په ميراث کې مستحق ګڼي .

۱۱ : د اسلام مقدس دين ښځينه ؤ ته حق ورکړيدي چه د پلار په ميراث کې به دوي د ورونوسره شريکي وي، او د ميراث څخه به د ورونو په موجوديت کې نه محجوبيږي،د يهوديانو پرخلاف ځکه هغوي د ورونو په موجوديت کې خويدي محروموي .

الله جل جلاله فرمايلي دي (لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا)([1]).

(د نارينه ؤ او ښځينه ؤ لپاره حصه ده په هغه ترکه کې چه د پلار او مور څخه پاتي شوي وي که لږ وي اوکه زيات وي حصه معلومه ده) .

۱۲ :د اسلامي شريعت تګلاره(موقف)د يهودو پرخلاف ده او هغه دا چه په ميراث کې اصول او اطراف د لورګانو په موجوديت کې نه محجوبيږي .

۱۳ :په روماني قانون کې علاتي(پلارني) ورونه د اعياني(سکه) خويندو په موجوديت کې محروم دي ولي په اسلامي شريعت کې دا مسئله يوه مردوده مسئله ده .

۱٤ : نيکه که په درجه کې هرڅومره پورته هم وي او د مړي ورونه د مړي په ميراث کې سره شريک دي ځکه دوي مړي ته په نژدي والي او ليري والي کې په درجه کې يوشانته برابر دي نو نيکه د مړي د ورونو په موجوديت کې نه بي برخي کيږي په خلاف د فرانسي قانون چه هغه ئي محجوبوي .

۱۵ : د اسلام مقدس دين دښځې او د خاوند تر مينځ ميراث په منظم شکل مقرر کړيدي او د محکمي حکم ئي په کې شرط نه دي ګرځولي لکه د فرانسي قانون ([2])

---

[1] :سورة النساء اية نمبر (11).

[2] : عاشور ,مصطفي عاشور ,علم الميراث /ج1 ص٢٢-٢٤.

نتیجه داشوه: چه په دي اندولتیا (پرتله کولو)کې دي نتیجي ته رسیږو چه میراث په عام ډول اود ښځینه ؤ د مسایلو لپاره په خاص ډول اسلامي نظام یو ځانګړي (ممتاز) نظام دي چه د بشري ټولنو او حرکتونو او کوښښونو اوخوشحالیو ضامن دي ،او د پرمختګ لاري چاري ور ته برابر وي بلکه په لوي فضیلت او احترام ورته قایل دي ،که چیرته د پخوا را هیسي خلکو په فردي ډول کارونه ترسره کولاي او د یوي کورنی په فکر او سوچ کې نه وي نو نن ورځ چه د اجتماعي آدابو ، عیش او عشرت کوم منزلت او درجي ته ترقي کړیده هیڅکله ممکنه نه وه او نه به د ګډو عاطفو او د ټولنیز ي بیداری دي حد ته رسیدلي وي .

## د دویم فصل خلاصه

له پورته تفصیلي بحث څخه څرګندیږي چې اسلامي شریعت د ښځې د میراث مسئله په خورا دقیق، منظم او عادلانه ډول تنظیم کړې ده. د ښځې د میراث حالات یو شان نه دي، بلکې د قرابت، مسؤلیت، مالي مکلفیت، او د کورني نظام د توازن په اساس بدلیږي.

په دې فصل کې څرګنده شوه چې ښځه کله:

- د نارینه سره مساوي میراث اخلي،
- کله تر نارینه زیات اخلي،
- کله یوازې وارثه وي،
- او یوازې په ځینو محدودو حالاتو کې یې برخه د نارینه په نسبت نیمایي ټاکل شوې ده.

دا تنوع او اختلاف په حصو کې د جنسیت پر بنسټ نه، بلکې د مقاصدو الشریعة پر بنسټ دی، چې مهم یې د عدل ټینګښت، د کورني نظام ساتنه، د مالي مسؤلیتونو توازن، د ښځې مالي تحفظ، او د ټولنې اجتماعي ثبات دی.

همدارنګه دا هم څرګنده شوه چې د ښځې د میراث نظام د هغې د تکریم، ساتنې، او مالي استقلال تضمین کوي، او هغه شبهات چې د ښځې د نیمایي میراث په اړه مطرح کیږي، د اسلامي میراث د بشپړ نظام د نه پوهېدو له امله دي.

نو ویلای شو چې د ښځو د میراث حالات د شریعت د ژورو مقاصدو یو عملي تمثیل دی، چې په هغه کې عدل، حکمت، رحمت، او ټولنیز توازن په واضح ډول څرګندیږي

## د لومړي او دويم فصلونو ترمينځ اړيکه

لومړی فصل د ميراث د علمي او فقهي بنسټونو د تبيين لپاره ځانګړی شوی، چې په هغه کې د ميراث تعريف، ارکان، شرايط، اسباب، دلايل، موضوع، غرض، او د شريعت د مقاصدو پېژندنه په تفصيل سره بيان شوې ده. دغه فصل د ميراث د نظام نظري چوکاټ وړاندې کوي، ترڅو لوستونکی د اسلامي ميراث د اصولو او فلسفې سره اشنا شي.

دويم فصل بيا د همدې نظري بنسټونو عملي بڼه وړاندې کوي، چې په هغه کې د ښځو د ميراث مختلف حالات څېړل شوي او ځرګنده شوې چې د ښځو په ميراث کې د حصو تفاوت تصادفي نه، بلکې د هماغو اصولو او مقاصدو پر بنسټ ولاړ دی چې په لومړي فصل کې بيان شوي دي.

په دې توګه، لومړی فصل د قواعدو او مقاصدو بيان دی، او دويم فصل د هغو قواعدو او مقاصدو تطبيق او عملي تمثيل دی. که لومړی فصل ونه وي، نو د دويم فصل حکمت او فلسفه په سمه توګه نه درک کېږي، او که دويم فصل ونه وي، نو د لومړي فصل نظري بحثونه عملي بڼه نه مومي.

نو ويلای شو چې دواړه فصلونه د يو بل تکميل کوونکي دي، چې لومړی فصل بنسټ ږدي او دويم فصل پرې ودان دی.

# دريم فصل

## د مېراث په مسئله د مستشرقينو اعتراضات او جوابات

## لومړي مبحث:  مستشرقين

### لومړي مطلب: استشراق څه ته وايی

د استشراق کلمه د شرق څخه مشتق(اخستل) شوي ده، او د شرق معنی د لمر ختلو ځای ته ويل کېږي، نو د استشراق مقصد د ختيز علم دی، خو الماني مفکر (رودي بارت) پوښتنه کوي چه د شرق د کلمې څه معنی ده؟ ځکه چه د شرق د کلمې مفهوم تبعاً د مکان په اعتبار سره تغيير کوي، او د زماني په تغير سره هم مختلفه کېږي، ځکه د جاپان شرق او د عربو شرق او د المان شرق او د انګريزي او امريکايی شرق سره توپير لري، او د معاصر نوي تاريخ په لحاظ د زماني په لحاظ سره هم تغير کوي ،لکه د پخوانی زماني او د متوسطې پيړۍ او د موجود عصر شرقونه هم سره توپير لري،او بالخصوص د دوه ؤ امريکاؤ په اکتشاف سره، په مېنځنيو پيړيو کي متوسط بحر د نړيوالو د ژوند کولو مرکز وو،او د همدې مرکز په واسطه به شرق او غرب پيژندل کېدل،بيا د متوسطې پيړۍ په پای کې د اروپا شمال غرب ته انتقال شو،بيا نړيوالي پولي د پرمختګ څخه وروسته د امريکا دوه ؤ قارو ته فراخي شوي،نو د دې جغرافياي فراختيا سره د شرق او غرب مفهوم هم تغير وکړو.

نو له همدې کبله د شرق اوغرب بعدونه غامض(پټ) او غير ثابت پاتې شول، مونږ پوښتنه کولای شو چه آيا مونږ کولای شو چه د شرق څخه دې مونږ جغرافيای مفهوم واخلو يا که د پرمخ تللې ؟.

زيات مفکرين په دې نظر دي چه طبيعي چاپيريال او جغرافيايي حالات د امتونو په ژوند او طبيعت کې تأثير لري،تر دې چه ځينې خو دا نظر لري چه امَت د جغرافيايي چاپيريال تابع دی، چه د دغه مفکرينو له جملې څخه يو يی(مونتسکيو)په خپل کتاب (روح القوانين) کې ليکلي دي: چه چاپيريال د خلکو په اخلاقو او کړو وړو کې هم تأثير اچوي.

استشراق څه ته وايی: استشراق د شرق د کلمې څخه اخستل شوي دی،بيا درې حروف ور اضافه شوي دي،الف سين او تاء ،او معنی يی ده د شرق غوښتل،د شرق غوښتلو مقصد بل څه نه فقط د شرق د علومو آدابو ژبو او د دينونو غوښتل دی، او دا تعريف د عربي ژبې په نسبت سره شوي دی.

په غير عربي ژبو کې د شرق نور تعريفونه دي، چه هغه په دې دلالت کوي چه مراد د شرق څخه جغرافيايي شرق نه دی ،بلکه شرق د شروق په معنی دی ، چه مقصد ترينه رڼا روښنايی او لاره موندل دي.

ځينو څيړونکو لکه سيد محمد شاهد اروپايي معجمونو (الماني،فرانسي او انګليسي) ته رجوع کړی ده، تر څو د شرق(ORIENT) د کلمې څخه  پرده پورته کړي ، چه د دې څه معنی او مطلب دی؟ نو معلومېږي چه اشاره  شرقي منطقې ته ده، او مراد ترينه شرقي علمونه دی.

او په اصطلاح کې: استشراق عبارت دی د اکادمېکو دراساتو څخه چه په مستعمره دولتونو کې یی غربیان د شرق لپاره په مختلفو طریقو چلوي.

خلاصه تعریف به داسې شي چه : استشراق هغه اکادمېک درسونه دي چه غربیان او اهل کتاب یی د اسلام او مسلمانانو لپاره په مختلفو جوانبو چلوي: چه هغه عقیدوي ،ثقافتي، قانوني ،تاریخي، نظامونه،مالونه،او امکانیات دي،او هدف یی دادی چه اسلام د مسلمانانو لپاره مشوّه او ګډ وډ ثابت کړي، شکوک او شبهات ورته پیدا کړي،او د سمې لارې څخه یی واړوي،او د غرب تابع یی وګرځوی،او دا تبعیت ورته په دراساتو او علمي نظریاتو باندې سپیڅلی ښکاره کړي،او دا هم ورته روښانه کړي چه غربي مسیحي ثقافت د شرقي اسلامي ثقافت څخه په اعلی درجه کې فوقیت لري(1).

## دویم مطلب: د استشراق تاریخچه

## د استشراق پیل

هغه خلک په غلطه دي چه وایې : چه استشراق یو علمي حرکت دی،بل هدف نلري غیر د دې څخه چه په عقیده او آدابو کې شرقي مېراث تدریس کړي؛ځکه په حقیقت کې استشراق د استعمار دهدفونو خدمت کوي،او د شرقي مېراث د تدریسولو څخه فقط د اسلام سره د جنګ لپاره وسیله جوړوي، او د دین په مصادرو کې خلکو ته شکوک او شبهات پیدا کوي،تر څو مسلمانان د دین څخه واړوي،او هیڅ عزت اوقوت ور پاتې نشي،بلکه د غرب تابعدار وګرځي،او د غرب چه څومره دسیسې دي چه هغه د مسلمانانو په هیواد کې پلي کړي.

استشراق په حقیقت کې د اسلامي دحقایقو په خلاف د صلیبي جنګونو د لړۍ ادامه ده،ځکه صلیبي جنګونه پای ته نه دي رسیدلي،بلکه نور رنګونه او شکلونه یی اختیار کړي دي،چه یو د هغوي څخه استشراق دی.

نو مستشرق د اسلام په ظاهري لباس کې راځي،او دعوي یی دا وي چه ګویا په اسلام کې تحقیقات او مطالعات کوي، خو په زړه کې یی دا مضبوط عزم کړی وي چه په اسلام کې اعتراضات ولټوي او ټولني ته یی د مسلمانانو د په شک کې اچولو هوډ کړی وي،او د ده په سینه کې چه د اسلام خلاف هر څومره بد نیت وي د هغې زهرو په پاشلو کې اسره نه کوي،او د صحیح علم د منهج سره ځان نا اشنا ګڼي،او خلکو ته واک ورکوي چه هغوي پریکړه وکړي،دا نه چه دوي په کې د خپل حسد او دښمنۍ تراخه ګډ کړي،او دا هم نه چه دوي کوښښ وکړي چه خلکو ته حقائق په یو نه یو شکل مشبوه کړي.

څیرونکي ته ښکاره معلومېږي چه استشراق د غربي استعمار لپاره کار کوي او داسلام اوشرق د سرکوبولو کوښښ کوي،دکوم څخه چه ښکاره معلومېږي چه دا د هماغه صلیبي

---

1 : وګوره : رؤیة اسلامیة للاستشراق ،احمد عبدالحمید غراب ، ص۷-۸.

جنګونو د لړۍ یوه برخه ده،او په دې نږدې دوه ؤ پیړیوکې کله یې چه د استعمار ملګرتیا اختیار کړه استشراق پراختیا وموندله او خپل قوت ته ورسیدلو.

استشراق که یواځې د اسلام خلاف د سرګرمیو نښه و ګڼل شي نو دا قسم حرکتونه خو د اسلام په لومړنی پیړۍ کې پیل شوي دي،د استشراق د تحریک د اصطلاح د رواج کېدلو څومره موده وشوه چه پیل شوي دي؟ په دې کې د پوهانو څو نظرونه دي:

- د استشراق د تحریک پیل په کال 1312م شوي دی،کله چه د ویانا په کلیسا کې کانفرانس منعقد شو نو په هغې کې داسې پریکړه وشوه، چه په مختلفو پوهنتونونو کې دې د عربي ژبې د تدریس لپاره جداګانه شعبات او صنفونه ایجاد کړی شي.ځینې څېړونکي داسې وایی:

- د دې تحریک پیل د دیارلسمې مېلادي پیړۍ څخه هغه وخت وشو چه د قشتاله پاچا لسم الفونس په کال 1269م په مریسیلي کې د تحقیقاتو یوه اعلی اداره ایجاد کړه،یادې اداري د ابوبکر الرقوطي په رهبرۍ د مسلمانانو ،مسیحیانو او د یهودي پوهانو په شمول یو اداره جوړه کړه،کومو چه د قرانکریم،تلمود او د انجیل په هسپانوي ژبه ژباړه پیل کړه.

ځینو پوهانو د دې پیل په دولسمه مېلادي پیړۍ پورې تړلی دی.

- کله چه په کال 1143ء کې یو تن د پطرس په اشاره په لومړي ځل په لاطینی ژبه د قران شریف ژباړه وکړه،په همدغه پیړۍ کې یو پادري فیز ایل لومړنی عربي لاطیني ژبه تیاره کړه.

د ځینو په نظر د دې پیل

- په لسمه مېلادي پیړۍ کې یی جریردي اورلیاک د علم د حصول لپاره اندلس ته لاړو، د اشبیله او قرطبه په پوهنتونون کې یی علم حاصل کړو، په اروپا کې د عربي ژبې او ادب د ټولو څخه لوي عالم ګڼل کېدو،بیا وروسته د کال 999ء څخه تر 1003م پورې سلفستر ثاني په لقب د پاپای روم په منصب مقرر شو.

- خلاصه دا شوه

د استشراق عملي طور سره پیل په " اتمه مېلادي پیړۍ کې شوي دی ، اګر چه دی تحریک ته دغه نوم څو پیړۍ وروسته ورکول شوي دی([1]).

---

[1] : دائرة المعارف ویکیپیډیا ص۶.

## دریم مطلب: د مستشرقینوعقیده ډلې او قسمونه

د مستشرقینو رویه په هره زمانه کې یو شان نه وه،ځکه چه د هغوي په نزد علم ،تجربه ،د استدلال کولو انداز،مذهبي حیثیت تعلقات او سلوک مختلفې نمونې ترسترګو کېږي،په همدې وجه د هغوي د فکر او فن تحقیق او تألیف معیارونه سره جلا دي،په دې کې به شک نه وي چه مستشرقینو به یو څه مثبت کارونه هم کړي وي،چه هغه به یې د ستایلو وي.

بل طرفته په مستشرقینو کې هغه خلک هم شته چه د انساني نوعیت لپاره یې د فکري بې اعتدالۍ، او د نظریاتو بې لارۍ او د تهذیبونو د تباهۍ سبب جوړ شوي دي،چه دا خلک د غندلو لیاقت لري، د مستشرقینو د کار دنوعیت او حیثیت د پیژندلو لپاره هغوي په څو ډلو او طبقو باندې ویشل کېږي.

### مېنځ لاري مستشرقین

دا د مستشرقینو هغه ډله ده چه مسلمانان نه دي ،نو ځکه به هغوي فطرتاً د هغوي د پلرانو او نیکونو د دین څخه متأثر وي،نو د هغوي څخه دا توقع هم نه کېږي چه هغوي به اسلام ته په هغه سترګه وګوري کوم یې چه مسلمانان ور ته ګوري.

د دې ډلې په لیکلو کې خو حتمي غلطي وي خو د دې سره بیا هم دوي د اسلام او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلمیاتو ته ډیر د قدر په سترګه ګوري،چه د هغوي د ډلې لاندې نفر یادولی شو:

- رچرډ سائمن([1])
- ګاډ فرلي هګنز([2])
- یوهان جي ریسکي
- مائیکل ایچ هارټ([3])
- جیورجیو([4])

---

[1] :ریچارد لیو سایمن : د مارچ په شپږم ۱۸۹۹م کې د نیویارک ښار کې پیدا شوی دی، د کولمبیا پوهنتون څخه فارغ دی، د جولای په ۲۹ ، ۱۹۶۰ کې د ۶۱ کالو په عمر ومړ.

[2] : ګوډ فری هیګنس : په ۳۰جنوری ۱۷۷۲ کې په یارکشیر کې زیږیدلی یو برطانوي لیکوال دی،هغه په سیمېزو چارو کې فعال وو،هغه دوه کتابونه لیکلی دی، یو یې(Apolcalypsis)او په ۱۸۳۳ م کې مړ دی.

[3] : مایکل ایچ هارټ ۲۷ د اپریل دکال ۱۹۳۲ زیږیدلی،یو امریکایی فزیک پوه لیکوال،څیړونکې ملپاال دی، د پنځه کتابونو مؤلف دی،د دسمبر په ۶ مه کال ۲۰۱۱ م کې مړ دی.

[4] : کانسټنټ ورجل جیورجیوپه رومانیا کې په ۱۵دسمبر کال۱۹۱۶م کې زیږیدلی دی، د هغه پلار په پیټریکانی کې د ارتودوکس پادری وو،د بخارست په پوهنتون کې یې الهیات او فلسفه زده کړل، د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې د امریکایی فوځیانو لخوا ونیول شو.

- کېرن آرم سټرانګ([1])

**متعصب مستشرقين**

په دې ډله کې هغه مستشرقين حسابيږي کوم چه د غير جانبدارانه ځيرنو دعوي کوي خو په اصل کې د اسلام خلاف د خلکو په ذهنونو کې شکوک او شبهات زيږوي.

په دې ډله کې بيا يو بل تقسيم هم شته،ځکه د وخت په تيريدلو سره د دوي په انداز کې بدلونونه راځي،په دوي کې ځينې مشهور اشخاص په لاندې ډول ياديږي:

- همفرس پرائی ډيکس([2])
- سر ويلم مېور([3])
- جارج سيل ([4])

**مسلکي مستشرقين**

دا هغه مستشرقين دي کوم چه په پوهنتونو،تحقيقاتي ادارو،اخبارونو مجلو، تلويزيونو، مېډيا کې د همدې کار لپاره ګمارل شوي وي ،د دوي دنده زياته په سياسي او مذهبي تعصب باندې بناء وي.

**ملحد او بې دينه مستشرقين**

په مېنځنۍ پيړۍ کې چه کله په اروپا کې د دين او سائنس تر مېنځ جنګ روان وو،نو کوم خلک چه بی دينه وه نو هغوي د د دين خلاف ليکنو لپاره اسلام د رمز په توګه استعمالولو،ځکه په اروپا کې د مسيحيت په خلاف د ژبې چلولو سخته سنګينه سزا ورکول کېږي،د دې ډير لوي مثال والټير دی،کوم چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې يی يوه ډرامه چه د هغې نوم (Le Famatisme on Mohammaticv Prophete)وو،ليکلې وه، او نسبت يی پاپ ته شوي وو،په دې شکل يی پاپ هم خوشاله کړی وو،او په دين باندې يی ليکنه هم کړی وه.

---

[1] :کېرن آرم سټرانګ :د نومبر په ۱۴ د کال۱۹۴۴م کې زيږيدلی دی، يوه برطانوی ليکواله ده، ۱۲ کتابونه يی په دين پېژندنه کې ليکلی دی، کاتوليک راهبه وه، د اکسفورد پوهنتون کې يی کلاسيک ادبيات لوستلی وه، هغې غوښتل چه د اديانو د څېړلو بنسټ ايښونکې شی،په ۲۰۱۷ م کې مړه شويده.

[2] : همفرس: د آيرلينډ درضاکارانو غړی وو،په ۱۸۹۶ م کې زيږيدلی وو، هغه د داکتر ډيوډ همفريز ځوی وو، د ايسټر د راپورته کېدو وروسته هغه زندانی شو ، هغه د ازادۍ جګړی ۱۹۱۹م کې دIRA غړی وو،او په ۱۹۶۸م کې مړ دی.

[3] : سر ويليم ميور: ب ۲۷ د اپريل ۱۸۱۹م زيږيدلی وو، د اډينبورګ پوهنتون پرنسپل وو،موير د اسلام يو عالم وو، د هغه د تخصص لويه برخه د نبی صلی الله عليه وسلم او د خلافت د وخت تاريخ وو،په ۱۹۰۵م کې ومړ.

[4] : جورج سيل په ۱۶۹۷م کې په کانتربری کې په انګلستان کې پيدا شوی دی، هغه په (King,s School ,Canterbaury); زده کړی کړيدی،هغه د قرانکريم ترجمه په انګليسی ژبه کې کړيده، او د معجم العام (Dictionary)په نوم يی هم يو کتاب ليکلی دی،په ۱۷۳۶ کې ومړ.

## عربي ژبې سره نا بلده مستشرقين

ځه مستشرقين داسې هم تير شوي دي چه په عربي ژبه نه پوهيدل،خوبيا يی هم د اسلام په هکله ليکل کړي دي،دوي د ځانه مخکې تيرو شويو مستشرقينو د کار څخه کار اخستی دی او هماغه تيروتنی(خطاګانې) يی تکرار کړي دي،چه په هغوي کې د ايډورډګبن نوم ډير ياد شوي دی،کوم چه په خپل کتاب تاريخ زوال رومه کې په پنځوسم مخ کې د اسلامي دين پسې ډير نا مناسب الفاظ استعمال کړي دي.

## ډير په ژور نظر د اسلام مطالعه کونکي مستشرقين

ډير کم داسې مستشرقين تير شوي دي چه هغوي  د اسلام ژوره مطالعه کړی او د هغې په اساس يی خپلې څيړنې پر مخ بيولې وي،چه په هغې کې هغه خلک هم شامل دي کومو ته چه مسلکي مستشرقين ويلی شوي دي په دوي کې د لاندې کسانو نوم يادولی شو:

- آرتر جي فري([1])

---

[1] :آرتر جی فری په ۱۸۷۶م کد مارچ په ۲۴ تاريخ کې په ورجينيا کې زيږيدلی و،د هارورډ پوهنتون کې يی زده کړی کړی،د لويديز د جمهوری غوښتونکو ګوند په سياست کې فعاله وه. ويکيپيډيا.

## دويم مبحث: د مستشرقينو اعتراضات

### لومړي مطلب: د مستشرقينو اهداف او مقاصد

مستشرقين د اسلام په لاره کې د خنډولو د جوړولو په کوښښ کې دي، اسلامي علومو ته يې مخه کړې ده او مقصد يې د خپل دين لپاره د لاندې کارونو کولو په لټه کې دي:

- د اسلام د حقانيت او د اسلام سره د مسلمانانو د جذباتو او مېنې دکمولو کوښښ کوي، او د دغې کار لپاره د مناسبو دلايلو د پيدا کولو کوښښ کوي.
- په نړيوالو کې د اسلامي دين د خپراوي مخه نيسي([1]).
- او د دې کارونو لپاره امکانات برابروي.

د دوي څېړنيز او علمي هدفونه او مقاصد

د مستشرقينو د ټولو علمي څېړنو او تحقيقي کارونو تر شا د علم د خدمت کولو جذبه نشته بلکه د علمي خدمتونو تر نامه لاندې د اسلام سره مقابله کوي،خو دا اصول د ټولو مستشرقينو موخه نه ده، بلکه په دوي کې داسې کسان هم ليدل کېږي چه د هغوي د ليکنو څخه جوتيږي چه هغوي يواځې د علم د حصول او د علمي خدمت په جذبه خپل ټول عمرونه په څېړنو او تحقيقاتو باندې لګولي دي،په اسلامي موضوعاتو باندې د هغوي د علم څخه داسې خبرې وتلي دي چه په هغې کې د اسلام او مسلمانانو لپاره منصفانه رويه غوره شوي ده،دا سمه ده چه د هغوي په خبرو کې به ډيرې غلطې خبرې هم وي خو د هغې وجه داده چه يو سړی مسلمان هم نه وي او د هغه مخه ته د داسې کتابونو انبار لګيدلی وي چه د زهرجنو پروپاګنډو څخه ډک وي،نو داسې خلک خو هر څه ويلی شي او دا د تعجب خبره هم نه ده([2]).

مالي او اقتصادي اهداف او مقاصد

د علمي او ديني مقاصدو تر څنګ تجارتي او مالي مقاصد هم د مستشرقينو موخې دي،د کوم له امله چه دوي مشرقي ژبو او د مشرق د نورو حالاتو مطالعې ته متوجه شوي دي،غربيان او بالخصوص د ايټالويانو خو د مشرقي هيوادونو سره د پخوا څخه تجارتي راکړې ورکړې موجودې وې، د شرقيانو د تجارتي راکړې ورکړې د ښه پر مخ بيولو لپاره هغوي دعربي

---

٣ :الدهان، محمد بن محمد ابراهيم الدبان الحسينى الشافعى الازهرى،مصرى عالم دى د ازهر شريف استاد او مدير وو، په مصر کې په ١٣٣٥ هج کې زيږيدلی وو،مؤلفات يې :د سورة القدر تفسير،النفحات القدسيةفى الخطب المنبريه،غزوة بدر الكبرى،په ١٤١٢ هج کې وفات شوی دی قوى الشر المتحالفة و موقفها من الاسلام والمسلمين، ص52

[2] : ثناءالله حسين،قرآن حکيم اور مستشرقين، صفحه 48

ژبې زده کړه لازمي ګڼلې وه،نو د دې کوښښونو نتیجه دا شوه چه په 1265ء پیړۍ کې د تونس او د ایټالیي تجارانو تر مېنځ معاهده هم په عربي ژبه ولیکل شوه([1]).

## دویم مطلب: د مېراث په مسئله د مستشرقینو اعتراضات

د مستشرقینو لخوا د ښځو په اسلامي ازادۍ باندې اعتراضونه:

1- لومړۍ شبهه(اعتراض): د ښځې مېراث ولې د نارینه د مېراث په نیمایی د ی؟

اعتراض : دښځو او نارینه ؤ د مساوات دعوتګر ګمان کوي چه اسلام د ښځې سره ظلم کړی او د هغې په مالي حقوقو یې تیری کړی دی،ځکه په مېراث کې یې د هغې برخه د نارینه په نیمایی مقرر کړې ده، او د الله جل جلاله په دې قول استدلال کوي چه فرمایی : (يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ)([2]).

او دوي فکر کوي چه دا د ښځوپه اهلیت کې کموالی دی،او هغه یې نیم انسان ګرځولی دی .

ځواب : خو دا یو قسم لیونتوب دی،د نارینه ؤ او ښځو په برخو کې توپیر په نارینتوب اوښځېتوب پورې تړلی نه دی، بلکه د اسلامي فقهی په فلسفه کې د توپیر لپاره درې معیارونه دی:

## د میراث د توپیر دري معیارونه

لومړي معیار: د وارث او د مورث ترمېنځ قرابت دی که هغه نارینه وي که ښځه وي،څومره چه وارث خپل مورث ته په قرابت کې نږدی همغومره به مېراث زیات اخلي،او څومره چه وارث د مورث څخه لیرې وي هغومره به کم مېراث اخلي، او د وارثینو جنسیت ته هیڅ اعتبار نشته.

دویم معیار : په عمر(ژوند) کې توپیر دی، هغه نسل چه راتلونکي ژوند لري،او د ژوند تکالیف او مسئولیتونه په غاړه اخلي ،نو طبعا به دهغوي د مېراث برخه زیاته وي،او هغه نسل چه هغوي ژوند ته شا اړولې ده او تلونکي دي او مسئولیتونه یې ورځ تر بلې کمېږی،نو د هغوي د مېراث برخه به هم کمېږي،د مړي لور د هغه د مور څخه زیات مېراث اخلي او دواړه ښځې دي،او د مړي لور اګر چه هغه شیدی خوری او وړه وي او د پلار شکل یې هم نه وي لیدلی د نیکه څخه زیات مېراث اخلي سره د دې چه هغه نارینه او دا زنانه ده،که یواځې وه نونیم مېراث اخلي.

په مېراث کې د محدودو څلورو حالاتو څخه په غیر چه په هغې کې ښځې د نارینه نیمایی مېراث اخلي مونږ د دیرشو څخه زیات داسې حالات لرو چه ښځه په کې د نارینه سره یو شان برابر مېراث اخلي، یا د نارینه څخه زیات مېراث اخلي، یا ښځه مېراث اخلي او د هغې

---

[1] : سابقه حواله، قوی الشر المتحالفة و موقفها من الاسلام والمسلمین، ص52

[2] : سورة النساء ایة نمبر(۱۱).

په شان نارينه ته نه ورکول کيږي،نو په دې سره هغه اعتراض چه دوي يې د ښځې د اهليت نقصان ګڼي دفع کيږي، کوم چه اسلام ښځو ته مقرر کړی دی([1]).

هغه ځلور حالات چه ښځې په کې د نارينه ؤ څخه کم ميراث اخلي هغه دادي:

١ : يوه ډله هغه ده چه په هره درجه کې وي که هر څومره ښکته وي ،په دې شرط چه په نسبت کې يې مړي ته ښځينه نه وي ،او هغه زامن دي د لوڼو سره ، او د ځوی لوڼه دي د ځوی د ځوی سره .

او همدغه شان که چيرته يې مړي ته په نسبت کې ښځينه موجوده وه ،نو بيا ميراث نه اخلي ، لکه د لور لور ، او د لور ځوی .

٢ : بله هغه ده چه د مړي سره يواځې په اوله درجه کې وي ،لکه خور يا خويندې د سکه ورور سره ، او پلارنۍ خور د پلارني ورور سره يواځې وي يا متعدد وي ،او د هغوي په اولاد کې نه وي ،لکه د سکه خور ځوی يا د پلارنی خور ځوی د سکه ورور ځوی يا يا د پلارنی ورور ځوی ،ځکه دوي د ذوي الارحامو څخه دی .

٣ : بله ډله همدغه شان ده د پلار والی په درجه کې ده ،لکه پلار د مور سره په دی شرط چه په ميراث کې يواځې وي ، او نارينه يا ښځينه وارث بچي ونلري ،او ورونه دوه يا د هغوي څخه زيات نه وي، نو د پلار لپاره په دې حالت کې د ښځينه ؤ دوه برابره برخه ده ، الله جل جلاله فرمايي : (وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ)([2]).

ژباړه : که د مړي اولاد نه وو ،او ورثه يې فقط پلار او مور وه نو د مور لپاره يې دريمه برخه ده يعنی باقی دوه پر دری يې د پلار لپاره دی .

۴ : بله ډله په زوجيت کې ده : که يواځې مېړه او ښځه وه نوره ورثه يې نلرله نو سړی به د هغې برخی دوه برابره اخلي کومه چه ښځه د سړي د ميراث څخه اخلي چه کله ښځه د سړي څخه مخکې مړه شي ، او که د ښځې څخه سړی مخکې مړ شو نو بيا ښځه د سړي د برخی نيمايی اخلي ، نو که ښځه مړه شوه او د هغې اولاد نه وو او مېړه يې پاتی شو نو د ښځې نيمايی به سړي ته ور کړيشی ،او که چيرته اولاد يې موجود وو نو بيا ځلورمه (ربع) برخه اخلي ،او که سړی مړ شو او يواځې ښځّه يې پاتې شوه او اولاد يې نه درلود نو ښځې ته ځلورمه (ربع) برخه ور کول کيږي ،چه دا د نيمې نيمه ده ،او که د سړی اولاد موجود وو

[1] : صلاح، دکتور ، امتياز المرأة على الرجل في الميراث والنفقه ،تاليف :أ . د/ صلاح سلطان ص ٧.

[2] : سورة النساء آية نمبر(11).

نو بيا اتمه (ثمن) اخلي چه دا د څلورمې (ربع) نيمه ده ،نو كه وګورو په ذكر شوو مثالونو كې نو ښكاره ده چه د سړي برخه د ښځې د برخې څخه زياته او د هغې دوه برابره ده .

**دريم معيار:** مالي مسئوليت دی، كوم چه شريعت په وارث باندې د هغې تحمل د نورو په مقابل كې واجب ګرځولی دی،او دا هغه يواځينی معيار دی چه د ښځې او نارينه ترمينځ يی تفاوت را مينځ ته كړی دی،خو دا داسې توپير دی چه په ښځو باندې د ظلم سبب نه ګرځي،له همدې وجې نه قران دا تفاوت په ټوله ورثه كې د نارينه او ښځې ترمينځ عام كړی نه دی، بلكه په دې حالت كې يی منحصر كړی دی،نو په ايت كريمه كې يی داسې فرمايلی دی: (يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ)([1]).
او داسې يی نه دي ويلي : الله جل جلاله درته حكم كوي په ټولو وارثينو كې،او په دې توپير يواځې په دې حالت كې دادی : چه نارينه مكلف دی چه د ښځې عيالداري به كوي،چه هغه د ده ښځه او اولادونه دي،بلې خواته ښځه چه د نارينه خور ده ،د هغې عيالداري او د هغې د اولادونو په بل نارينه فرض ده چه هغه د هغې ميړه(زوج)دی([2]).

كه د ميراث مسائل او حالات وڅيړل شي نو دا به معلومه شي چه :

۱- څلور حالات داسې دي چه په هغې كې فقط ښځه د نارينه نيمايی ميراث اخلي.

۲- دلته نور ډير داسې حالات شته چه ښځه پكې د نارينه سره برابر ميراث اخلي.

۳- د لسو څخه زيات حالات داسې شته چه په هغې كې ښځه د نارينه څخه زيات ميراث اخلي.

4- او داسې حالات هم شته چه ښځه ميراث اخلي او د هغې په شان نارينه ته ميراث نه وركول كيږي.
يعنې د دغې څلور محدودو حالتو په مقابل كې د ديرشو څخه زيات حالات داسې دي چه ښځه ور كې د نارينه هومره ميراث اخلي،يا د هغه څخه زيات ميراث اخلي،يا ښځه په كې ميراث اخلي او د هغې سره مساوي نارينه ته نه وركول كيږي، په همدې سره هغه اعتراض له مينځه ځي كوم چه د ښځې د اهليت په كموالي باندې شوي وو.

[1] : سورة النساء اية نمبر(۱۱).

[2] : عماره، دكتور محمد مصطفى عماره، امتياز المرأة على الرجل فى الميراث والنفقه ،تاليف :أ . د/ صلاح سلطان ص ۷.

**دریم مطلب: د مستشرقینو داعتراض ځوابونه اوهغه حالت چه ښځینه پکې د نارینه ؤ په شان میراث اخلي**

د دې پورته تفصیل څخه ثابتیږي چه ښځینه د خپل مورث څخه په ټولو حالاتو کې په یوه اندازه میراث نه اخلي، بلکه د ښځې حالات د مړي سره په نژدې والي او لیرې والي ،یواځېتوب او د بل چا سره په ملګرتوب کې مختلف کیږي .

بیا د نارینه ؤ په شتون او نه شتون کې مختلف کیږي .

ګورو چه په یو څه حالاتو کې د ښځینه ؤ برخی دنارینه ؤ دبرخې سره مساوي کیږي لکه په دی مثالونو کې :

1 ـ د پلاراو مور میراث د نارینه یا ښځینه اولاد سره لکه ځوی یا د ځوی ځوی که هر څومره په درجه کې ښکته وي ، نارینه وي یا که ښځینه .

الله تعالی فرمایی : ( و لأبویه لکل واحد منهما السدس مما ترك إن کان له ولد ) . (1)

ژباړه : د مړي په مال کې د پلار او مور لپاره سدس شپږمه برخه ده که د مړي اولاد موجود وه.

په ایت کریمه کې بیان شو چه د پلار او مور لپاره د مړي په مال کې شپږمه برخه ده که اولاد یی موجود وو.

په دې مساوات کې ډیر لوي حکمت دی ،او هغه دا چه پلار او مور دواړه د خپل مړه ځوی د بچی لپاره نیا او نیکه شول، نو د دوي عمر مخکې لاړو، نو دوي دواړه په دې عمر کې د یو شان مسئولیت څخه برخمن دي . (٢)

٢ ـ د مورني ورونو مېراث دوه یا زیات وي ، یواځې نارینه وي یا ښځینه ، یا نارینه او ښځینه سره ګډ وي ، نو دوي ټول به په یو ثلث کې شریک وي ، د دوي تر مینځ به د نارینه ؤ او ښځینه ؤ لپاره به مساوي تقسیمیږی .

الله تعالی فرمایی : ( و إن کان رجل یورث کلالة أو امرأة و له أخ أو أخت فلکل واحد منهما السدس ، فإن کانوا أکثر من ذلك فهم شرکاء في الثلث ) . (٣)

ژباړه : که سړی کلاله وو یا ښځینه وه اود هغې ورور وو یا خورنو د هر یو لپاره سدس دی ، او که د دې څخه زیات وه نو دوي ټول په یو ثلث کې سره شریکان دي .

کلاله : هغه مړی چه اصول (پلار،نیکه او نور پورته) او فروع (اولادونه ،لمسیان ،کړوسیان او نور ښکته ) نلري.

لامل دادی : چه د مورث لپاره د مورني ورور څخه دومره عاطفه او ترحم نشته لکه څومره چه د مورنی خور څخه موجود ده .

۳ ـ د صحيح نيا ميراث د صحيح نيكه سره په ځينې حالاتو كې سدس دى ،لكه په دې مثالونو كې :

لكه څوک مړ شي يوه د مور مور،د پلار پلار ،يو ځوى ترينه ورثه پاتې شول .

نو د مور د مورسدس شو په فرضيت سره ،او د پلار د پلارهم سدس دى او باقي مال د ځوى شو .

د تيرو مثالونو څخه ښكاره شوه چې داسې حالات هم شته چه د ښځينه ؤ ميراث د نارينه ؤ سره مساوي كيږي .

لكه څوک مړه شو يو ميړه ،سكه خور ، پلارنۍ خور ترينه ورثه پاتې شول .

نو تركه به د دوي تر مينځ مساوي وويشل شي ، يو به د ميړه لپاره او دويم به د سكه او پلارنۍ خور لپاره شي.

بيا يو ښځه مړه شوه يو سكه كاكا ، د پلار تره ، سكه يا پلارنۍ خور ترينه ورثه پاتې شول ، نو په دې صورت كې به هم مال دوه مساوي برخې شي .

كه چير ته ښځه مړه شي يو سكه تره يا د پلار تره ، سكه خور يا د پلارنۍ خور ترينه ورثه پاتې شول، نو تركه به يې همدا شان برابره ويشل كيږي، او هغه داسې چه خور نيمايې مال اخلي په فرضيت سره ، او كاكا نيمايي مال اخلي په عصبيت سره .

**څلورم مطلب:** هغه حالات چه ښځينه د نارينه ؤ څخه زيات يا كم ميراث اخلي

داسې حالات چه ښځينه پكې د نارينه ؤ څخه كم ميراث اخلي .

كه د ښځينه ؤ په ميراث كې فكر وكړو نو گورو چه په عام شكل سره د ښځينه ؤ ميراث د نارينه ؤ څخه كم وي ،كله نا كله د سړى په نيمايي ميراث اخلي ،او كله يې ميراث كم وي ، او كله د نيمايي څخه لږ زيات وي .

په لاندى شكلونو كې نارينه د ښځينه ؤ دوه برابره ميراث اخلي :

۱ : يوه ډله هغه ده چه په هره درجه كې وي كه هر څومره ښكته وي ،په دى شرط چه په نسبت كې يې مړي ته ښځينه نه وي ،او هغه زامن دي د لوڼو سره ، او د ځوى لوڼه دي د ځوى د ځوى سره .

او همدغه شان كه چيرته يې مړي ته په نسبت كې ښځينه موجوده وه، نو بيا ميراث نه اخلي ، لكه د لور لور ، او د لور ځوى .

۲ : بله هغه ده چه د مړي سره په يواځې په اوله درجه كې وي ،لكه خور يا خويندې د سكه ورور سره ، او پلارنۍ خور د پلارنۍ ورور سره يواځې وي يا متعدد

وي ،او د هغوي په اولاد کې نه وي ،لکه د سکه خور ځوی یا د پلارنی خور ځوی د سکه ورور ځوی یا د پلارنی ورور ځوی ،ځکه دوي د ذوي الارحامو څخه دي .

۳ : بله ډله همدغه شان ده د پلار والي په درجه کې ده ،لکه پلار د مور سره په دې شرط چه په میراث کې یواځې وي ، او نارینه یا ښځینه وارث بچي ونلري ،او ورونه دوه یا د هغوي څخه زیات نه وي ، نو د پلار لپاره په دې حالت کې د ښځینه ؤ دوه برابره برخه ده ، الله جل جلاله فرمایي : (وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ)([1]).

ژباړه : که د مړي اولاد نه وه ،او ورثه یې فقط پلار او مور وه نو د مور لپاره یې دریمه برخه ده یعنې باقي دوه پر دری یې د پلار لپاره دي .

۴ : بله ډله په زوجیت کې ده : که یواځې میړه او ښځه وه نوره ورثه یې نلرله نو سړی به د هغې برخې دوه برابره اخلي کومه چه ښځه د سړی د میراث څخه اخلي چه کله ښځه د سړی څخه مخکې مړه شی ، او که د ښځې څخه سړی مخکې مړ شو نو بیا ښځه د سړي د برخې نیمایی اخلي ، نو که ښځه مړه شوه او د هغې اولاد نه وو او میړه یې پاتې شو نو د ښځې نیمایی به سړي ته ور کړیشی ،او که چیر ته اولاد یې موجود وو نو بیا څلورمه (ربع) برخه اخلي ،او که سړی مړ شو او یواځې ښځّه یې پاتې شوه او اولاد یې نه درلود نو ښځې ته څلورمه (ربع) برخه ور کول کیږي ،چه دا د نیمې نیمه ده ،او که د سړي اولاد موجود وو نو بیا اتمه (ثمن) اخلي چه دا د څلورمې (ربع) نیمه ده ،نو که وګورو په ذکر شوو مثالونو کې نو ښکاره ده چه د سړي برخه د ښځې د برخې څخه ز یاته او د هغې دوه برابره ده .

## هغه حالات چه ښځینه ؤ ته د نارینه ؤ څخه زیاته برخه ور کول کیږي

ځیني خلکو ته دا ډیره نا اشنا او بعیده ښکاري چه ګوندې ښځینه ؤ ته د نارینه ؤ څخه زیات میراث ورکولی شي ، لکن کوم حالات چه د ښځینه ؤ بیان شول د هغې څخه معلومیږی چه دا یو حقیقت دی نه وهم دی، او نه خیال .

بعض مثالونه نورهم بیانوو اګر چه مخکې هم بیان شوي دی .

که یو سړی مړ شي ،یوه ښځه ،لور ،مور ، دوه مورنی خویندې ،یوسکه ورور ترې ورثه پاتې شول. نو ګورو چه د (۲۴) سهمونوڅخه د ښځې لپاره درې سهمه دي ،د مور لپاره څلور دي ، د سکه ورور لپاره پنځه دي ،او د لور لپاره نصف دی،او دواړه خویندې د

---

[1] : سورة النساء آية نمبر(11).

لور لامله محجوبيږي ، نو په دی مثال کې لور چه یو ښځه ده د سکه ورور څخه چه نارینه دی زیاته برخه و اخیسته ،او همدغه شان که د ذکر شوي مثال کې د لور په ځای د ځوی لور که هر څومره ښکته شي موجوده وي نو هم به د نارینه څخه زیاته برخه اخلي ،همدغه شان که د سکه ورور په ځای پلار شي ، یا پلارنۍ ورور،یا سکه تره ،یا د پلار تره وي نو هم ښځینه د نارینه ؤ څخه زیات میراث اخلي.

خلاصه دا چه ځوی والی د پلار والي او ورور والي څخه مخکې دی .

دغه شان که ښځه مړه شي یو مېړه ،لور ، سکه خور ، پلارنۍ خور ترې ورثه پاتې شول.

د څلورو برخو څخه یوه برخه د مېړه رسیږي ،د لور دوه سهمونه رسیږي ،د سکه خور یو سهم او پلارنۍ خورد سکه خورلامله محجوبه ده ، نو دلته مېړه د لور د برخې نیمایی برخه اخلي، همدغه شان که د لور په ځای د ځوی لور که هر څومره په درجه کې ښکته وي ، یا سکه خور ، یا پلارنی خور ،چه یواځې وي او د مړي اولاد نارینه وي یا ښځینه موجود نه وي ، د سکه تره ، یا د پلار تره ،سره یو ځای راشي ،نو په دې حال کې دوي د زوج او د تره څخه زیات میراث اخلي .

که یو ښځه مړه شي یو مېړه ،د ځوی دوه لونه ،د ځوی د ځوی ځوی ترینه ورثه پاتې شول .

د دولس سهمونو څخه د مېړه لپاره درې سهمونه شول ،د ځوی د لورګانو لپاره اته سهمونه، د هرې یوې لپاره څلور څلور، او باقي چه هغه یو سهم دی د ځوی د ځوی لپاره شول، نو د ځوی د لونو د هرې یوې برخه د مړي د ځوی د ځوی د ځوی څخه زیاته شوه ، دا ځکه چه دوي په درجه کې د هغوي څخه پورته دي ،او همدغه شان د متوفي د مېړه څخه هم د دوې برخه زیاته شوه .

**پنځم مطلب: هغه حالت چه ښځینه پکې میراث اخلي او نارینه ؤ ته نه ورکول کیږي**
داسې حالات چه ښځینه پکې میراث اخلي او نارینه ته نه ورکول کیږي .

او هغه داسې چه یو سړی مړشو یوه مور ،دوه لونه ،دوه پلارنی خویندی ،یومورنی ورور ترینه ورثه پاتې شول .

اصل مسئله / ۶ x۲=۱۲

مېته

| مور | دوه لونه | دوه پلارنۍ خویندې | یومورنی ورور |
|---|---|---|---|
| ۲ | ۸ | ۲ | په لونو سره محجوب دی |

تولو ښځینه ؤ میراث واخیست فقط یواځې مورني ورور ته میراث ونرسیده .

* همدغه رنګه دذوي الفروضو اوعصبه ؤ ښځینه ؤ په شتون کې ذوي الارحامو نارینه ؤ ته میراث نه رسیږي .

* داعلاوه د هغه حالاتو څخه دی چه ښځینه پکي د میراث مستحقي دي او نارینه پکي د میراث څخه محروم دي اګر چه ذوي الفرض یا عصبه وي ،او هغه داسي چه نارینه ته پکي د میراث دموانعو څخه یو مانع موجود شي ،لکه قتل عمد یا مرتد کېدل .

حاصل داشو چه : مونږ چه کوم مثالونه تاسو ته تقدیم کړل د دې لپاره چه په قاطع دلیل سره ثابته شي چه د الله جل جلاله په شریعت کي په یو جنس هم ظلم نه شوي اونه به وشي، بلکه دا هغه عدالت دی چه د الله جل جلاله له طرفه د انسانانو سره شوي چه دا د حق او منطق سره برابر دی.

او مستشرقین چه کوم اعتراضات د مېراث په مورد کوي هغه بی ځایه او باطل اعتراضات دی.

## شپږم مطلب : د ښځو په هکله د نبي صلی الله علیه وسلم توصیات اوتینګار

د هجرت په لسم کال چه کله د حجة الوداع موقع وه او نبي صلی الله علیه وسلم د عرفات په مېدان په قصواء اوښه باندې ولاړ وو، او په خپله خطبه کې یی د نورو ډېرو احکامو په څنګ کي د ښځو په حقوقو باندې هم ربنا واچوله، او ویی فرمایل :(فَاتَّقُوا الله في النِّسَاءِ، فَإِنكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِةِ الله، وَاسْتَحْلَلْتُم فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ الله، وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُم أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ، فَإِنْ فَعَلْنَ ذَلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَربًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ، وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ)([1]).

ژباړه : دښځو په هکله د الله جل جلاله څخه وویرېږئ ،تاسي هغوي لره د الله جل جلاله په امانت اخستې دي،او د هغوي ځانونه مو ځان ته د الله جل جلاله په کلمه حلال ګرځولې دي په (نکاح یا د شهادت په کلمه) باندې،ستاسي پر هغوي دا حق دی چه هغوي باید ستاسي په بستره داسي چا ته ځای ور نکړي چه هغه ستاسي خوښ نه وي(یعني کور ته اجنبی څوک پری نږدي)،او که دغه کار یی انجام کړو نو بیایی ووهئ،داسي وهل چه زخم یی ښکاره نشي،او تاسي باندې دهغوي رزق او جامه په شرعي طریقه باندې حق دی.

[1] : النسابوري, مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: 261هـ) صحيح مسلم ,جلد 2ص889 , محقق: محمد ناصر الدين الألباني,ناشر: المكتب الإسلامي، بيروت – لبنان ،طبعة: شپږم، 1407 هـ عدد أجزاء: 2 .

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنَهُمْ خُلُقًا، وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ»([1]).

ژباړه : په مؤمنانو کې د هغه چا ایمان ډیر کامل دی چه د هغه اخلاق ښائسته وي،او د خپل اهل(ښځې)سره ښه چلند کوي.

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ»([2]).

ژباړه : په مؤمنانو کې د هغه چا ایمان ډیر کامل دی چه د هغه اخلاق ښائسته وي،په تاسي کې بهترین هغه دی چه د ښځو سره ښه وي.

عن عائشة قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "خيركم خيركم لأهله وأنا خيركم لأهلي، وإذا مات صاحبكم فدعوه"([3]).

ژباړه : په تاسي غوره هغه دی چه هغه د کورنۍ لپاره غوره وي،او زه له تاسي ټولو څخه د کورنۍ لپاره غوره یم،او کله مو چه ملګری مړ شو، نو د هغه نیکي یادوئ.

عَنْ عَائِشَةَ ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ : دَخَلَ الْحَبَشَةُ الْمَسْجِدَ يَلْعَبُونَ فَقَالَ لِي : يَا حُمَيْرَاءُ أَتُحِبِّينَ أَنْ تَنْظُرِي إِلَيْهِمْ فَقُلْتُ : " نَعَمْ ، فَقَامَ بِالْبَابِ وَجِئْتُهُ فَوَضَعْتُ ذَقَنِي عَلَى عَاتِقَهُ فَأَسْنَدْتُ وَجْهِي إِلَى خَدِّهِ " قَالَتْ : " وَمِنْ قَوْلِهِمْ يَوْمَئِذٍ أَبَا الْقَاسِمِ طَيِّبًا " فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " حَسْبُكِ " فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ لَا تَعْجَلْ ، فَقَامَ لِي ثُمَّ قَالَ : " حَسْبُكِ " فَقُلْتُ : " لَا تَعْجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ " قَالَتْ : " وَمَا لِي حُبُّ النَّظَرِ إِلَيْهِمْ ، وَلَكِنِّي أَحْبَبْتُ أَنْ يَبْلُغَ النِّسَاءَ مَقَامُهُ لِي وَمَكَانِي مِنْهُ "

ژباړه : عائشه رضي الله عنها وایی : حبشیان جومات ته راغلل او لوبی یی کولی،نبی صلی الله علیه وسلم ما ته وویل: سورککی (حمیراء) ته غواړی چه سیال یی وکړی؟ نو ما وویل: بلی غواړم یی ،نو هغه صلی الله علیه وسلم په دروازه کې ودریده،نو ما خپله زنه د هغه په اوږه باندې کیښوده،او خپل مخ مې د هغه د اننګی(مخ) سره ولګولو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: بس دی، نو ما وویل : یا رسوالله صلی الله علیه وسلم عجله مکوئ،نو هغه پورته شو بیا یی ما ته وویل: بس دی، نو ما وویل: : یا رسوالله صلی الله علیه وسلم عجله

---

[1] :النسائي, أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي (المتوفى: 303هـ) سنن كبري نسائي ,ج8ص256,حديث نمبر(9109). ناشر: – بيروت ,طبعة: أول، 1421 هـ -عدد أجزاء: (10.حكم : صحيح.

[2] : تّالِرْمِذِيُّ,ج3ص466,حديث نمبر(1162) حكم: حَسَنٌ صَحِيحٌ.

[3] : ابن حبان , محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفى: 354هـ) صحيح ابن حبان,ج9ص484,حديث نمبر(4177) ناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت,طبعة: الأولى، 1408 هـ - 1988 م,عدد أجزاء: 18

مکوئ،هغه وایی : ما هغوي ته د کتلو څخه خوند نه اخسته، ما خو غوښتل چه ښځې خپل هغه مقام ته ورسیږی کوم ته چه زه رسیدلی یم، او دا چه د هغه صلى الله عليه وسلم سره زما څومره قدر او قیمت دی.

قال عبد الملك [بن حبيب] : وبلغني أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: (من يصبر على سوء خلق امرأته فله بكل يومٍ وليلةٍ مثل أجر الشهيد)) ([1]).

ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلی دی: که څوک د خپلې ښځې په بد اخلاقو صبر وکړي نو هغه ته به د هرې ورځې او شپې په بدل کې د شهید اجر ورکړای شي.

عن ابن مسعود أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ((إذا استقر الماء في رحم المرأة كان لها مثل أجر الصائم القائم، المخبت، المجاهد في سبيل الله. فإذا ضربها الطلق ثم لا تعلم نفس ما أخفي لها من الأجر. فإذا وضعت حملها كان لها مثل أجر الشهيد([2])

ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلی دی: کله چه د کومې ښځې اولاد په نص شي نو هغې ته الله جل جلاله د ورځې د روژې نیولو او د شپې د قیام، د تواضع کونکي د الله جل جلاله په لاره کې د مجاهد اجر ورکوي، بیا چه کله د ولادت دردونه ور باندې راشي ،بیا هیڅ نفس نه پوهیږي چه ده ته به کوم اجر پټ ساتلی وي، بیا چه کله ماشوم وزیږوي نو الله جل جلاله به ورته د شهید اجر ورکړی.

و عن أسماء بنت يزيد الأنصارية من بني عبد الأشهل أنها أتت النبي صلى الله عليه و سلم و هو بين أصحابه فقال : بأبي أنت و أمي إني وافدة النساء إليك و أعلم نفسي لك الفداء أما إنه ما من امرأة كائنة في شرق و لا غرب سمعت بمخرجي هذا أو لم تسمع إلا و هي على مثل رأى أن الله بعثك الحق إلى الرجال و النساء فآمنا بك و بالإهك الذي أرسلك و إنا معشر النساء محصورات مقصورات قواعد بيوتكم و مقضى شهواتكم و حاملات أولادكم و إنكم معاشر الرجال فضلتم علينا بالجمعة و الجماعات و عيادة المرضى و شهود الجنائز و الحج بعد الحج و أفضل من ذلك الجهاد في سبيل الله و إن الرجل منكم إذا أخرج حاجا أو معتمرا و مرابطا حفظنا لكم أموالكم و غزلنا لكم أثوابا و ربينا لكم أولادكم فما نشارككم في الأجر يا رسول الله ؟ قال : فالتفت النبي صلى الله عليه و سلم إلى أصحابه بوجهه كله ثم قال : هل سمعتم مقالة امرأة قط أحسن من مسألتها في أمر دينها من هذه ؟ فقالوا : يا رسول الله ما ظننا أن المرأة تهتدي ألى مثل هذا فالتفت النبي صلى الله عليه و سلم إليها ثم قال لها : انصرفي أيتها المرأة و أعلمي من

[1] : ادب النساء لعبدالملك بن حبيب ج1 ص253 حديث نمبر (186).

[2] : ادب النساء لعبدالملك بن حبيب ج1 ص269 حديث نمبر (213).

خلفك من النساء أن حسن تبعل إحداكن لزوجها و طلبها مرضاته و اتباعها موافقته تعدل ذلك كله قال : فأدبرت المرأة و هي تهلل و تكبر استبشارا ،([1]).

ژباړه : اسماء د يزيد لور روايت کوي چه هغه نبي ﷺ ته راغله،او هغه ﷺ د صحابه کرامو په مينځ کې وو، نو ما وويل: زما پلار او مور دی په تا قربان شي،د ښځو له طرفه استازې راغلې يم،زما ځان دی پر تا قربان شي،څومره ښځې چه دي که په لمر خاته کې دي که په لمر پريواته کې دی،زما د راتګ څخه پوهه دي يا نه دي پوهه، خو مونږ ټولې په يوه نظر يو، چه اللهﷻ خو ته د نارين ؤ او ښځينه ؤ ټولو ته را استولی يی،نو مونږ په تا او ستا په هغه رب چه ته يی مونږ ته را ليږلی يی ايمان راوړی دی، مونږ ښځې په کورونو کې بندې ناستې يو،ستاسو خواهشات پوره کوو، او ستاسې اولادونه دنيا ته راولو، او تاسې نارينه ؤ ته په مونږ فضيلت درکول شوی دی. د جمعی او د جماعت لمونځونه، د مريضانو پوښتنه،جنازې او د حجونو پسې حجونه کوئ،او د دې ټولو څخه غوره کار د اللهﷻ په لاره کې جهاد کوئ، او کله چه په تاسې کې يو نارينه حج عمرې يا جهاد ته لاړ شي، نو مونږ ستاسې مالونه ساتو،تاسې ته وړئ وريشو او جامې دره جوړه وو،او ستاسې د اولادونو تربيت کوو،نو آيا مونږ تاسې سره په دې اجرونو کې شريکې نه يو يارسول الله؟ وايی: نبی ﷺ صحابه کرامو ته پوره مخ را وګرځولو او ويی فرمايل: تاسې په ښځو کې د دې څخه ښايسته مقاله او ريدلې ده چه د دين په هکله يی پوښتنه وکړه؟ صحابه کرامو وويل: يا رسول الله ﷺ مونږ خو ګمان نه کولو چه ښځه دې داسې کار وکړايشي، نو نبي ﷺ هغې ته مخ واړولو او ويی فرمايل: ای ښځې لاړه شه او تا چه کومې ښځې وروسته پاتې دي هغوی ته ووايه: کومه ښځه چه د ميړه سره ښه ژوند او اخلاق وکړي،او د هغه رضاء او خوشالي حاصله کړي،او د ميړه د وينا سره سم موافق عمل وکړي،د دې ټولو عملونو سره په اجر کې برابره ده، وايي: ښځه روانه شوه،او هغې د زيري په طور تکبيرونه او تهليلونه ويل.

نو د ښځو په هکله نبی صلی الله عليه وسلم ډير تينګار کړی دی او د هغوي لپاره يی ډير اجرونه بيان کړی دی، او د ټولو څخه مهمه خو داده چه نبی صلی الله عليه وسلم به په ځپله په خپل کور کې د خپلو بيبيانو سره د کور په کارونو کې هم برخه اخستله ، او دی کار ته به يی ډير ترغيب هم ورکولو.

[1] : البيهقي شعب الايمان جلد6ص420 حديث نمبر(8743).

## نتيجه: د اسلامي شريعت د ټولنيزو حقونو او ښځو د کرامت تثبيت

ولله الحمد اولاً و آخراً

اسلامي شريعت د انسانانو د کرامت، مساوات، او ټولنيزو حقونو يو جامع او متوازن نظام وړاندې کوي. د نصوصو او فقهي اصولو پر اساس، هر انسان لاندې حقونه لري:

١ .انساني کرامت او مساوات:
اسلام ټولو انسانانو ته عزت او کرامت ورکړی دی، پرته له جنس، قوم يا نسل څخه:

- { وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ } ([1]).

د آدم اولاد ته عزت ورکړل شوی.

- { إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ }([2]).

تر ټولو عزتمند د الله په نظر هغه دی چې تر ټولو ډېر تقوا ولري.

- (( لا فضل لعربي على أعجمي، ولا أبيض على أسود إلا بالتقوى ))

د فضيلت اساس يوازې تقوا ده.

- (( النساء شقائق الرجال )) ښځې د نارينه و خويندې دي.

٢ .کورنۍ، ټولنه او مسؤليتونه:
اسلام د انساني اړيکو او ټولنيز عدالت ارزښت په ګوته کوي:

- (( الخلق كلهم عيال الله، وأحبهم إليه أنفعهم لعياله )) ټول مخلوق الله جل جلاله ته محتاج دي ، او تر ټولو ګټور هغه دی چې د الله جل جلاله مخلوق ته ګټه رسوي.
- د کورنيو حدود رعايت، لکه { لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ ... }([3])
- د چا کورونو ته د کور د خاوند له اجازې پرته مه ننوزئ.

---

[1] : سورة الاسراء اية نمبر (70).

[2] : سورة الحجرات اية (13).

[3] :سورة النور اية (27).

- د وبائي ناروغيو په وخت کې قرنطين رعايت (حديث: ((إذا سمعتم بالطاعون بأرض فلا تدخلوا عليها...)([1]) د ټولنې د حفاظت لپاره.

۳ .د ښځو حقوق او اقتصادي استقلاليت:

- د میراث حقونه د عدالت او ضرورت پر اساس تخصیص شوي.
- د واده په تصرفاتو کې د ښځې رضا او مشوره تضمین شوې: (( آمروا النساء في بناتكم )([2])، (( البكر تستأذن ... والثيب أحق بنفسها )([3]).
- د ښځو او نارینه ترمنځ اهلیت او مسؤلیتونه د جنسیت له امله توپیر نه لري.
- د اقتصادي استقلال او د انفاق مسؤولیت د نارینه په غاړه دی: ( الغنم بالغرم ).

۴ .انساني آزادی او عقیده:

- { لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ } په دین کې اکراه نشته.
- { أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ ... } خلک مجبور نه دي چې ایمان راوړل شي.

۵ .ټولنیز عدالت او فقهی اصول:

- میراث، قوامیت، او مسؤلیتونه د قرآني نصوصو او فقهی قاعدو مطابق دي.
- د ښځو او نارینه ترمنځ توپیرونه یوازې د ضرورت، عدالت، او مسؤلیت د اصولو له مخې دي.

۶ .تاریخي پرتله:

- د جاهلیت، رومي او اروپایي قوانینو په پرتله، اسلام ښځو ته بشپړ کرامت، حقونه، او اقتصادي او ټولنیز استقلال ورکړی.
- د اسلامي تاریخ مثالونه لکه عایشه رضی الله عنها، حفصه رضی الله عنها او بلاذري روایتونه څرګندوي چې ښځې تعلیم، مشوره، او خپل ځان په تصمیم کې حق لري.

---

[1] : الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم ج3ص257.

[2] : مصنف ابن عبدالرزاق ج6 ص148 حديث نمبر10310

[3] : صحيح البخاري ج 6ص2556حديث نمبر6570.

## پایله:

اسلام د انسانانو د ټولنیزو حقونو، ښځو د کرامت، او ټولنیز عدالت یو جامع نظام وړاندې کړی دی. هر فرد په کورنۍ او ټولنه کې د کرامت، مسؤلیت، او حقوقو سره سم ژوند کوي، او د عدالت او مساوات اصول د نصوصو او فقهي قواعدو په رڼا کې تضمین شوي دي.

## وړانديز:

**الحمد لله،** په افغانستان کې اسلامي امارت حاکم دی، د دين د خپرولو او تبليغ زمينه ښه مساعده ده، که هغه د درس او تدريس د لارې وي، که د وعظ او تبليغ د لارې وي، که د ارشاد او تنوير د لارې وي، د مدرسې، مکتب، پوهنتون، يا د تصوف او عرفان د لارې وي، که د تحرير، ميډيا او کنفرانسونو د لارې وي، دا چې د ميراث علم د عقيدې د علم وروسته په لومړيو کې شرف او عزت لري، د خلکو ضرورت ورته ډير زيات دی؛ ځکه چې نصف العلم دی، او بالخصوص د ښځو ميراث د ډير زيات اهميت څخه برخوردار دی.

د اسلام دښمنان د خلکو د کمي خبرتيا څخه په استفادې د مقدس دين په اړه اعتراضات کوي، او هڅه کوي چې د مسلمانانو په زړونو کې شکونه او شبهات پيدا کړي.

په همدې اساس، وړانديز دادی چې د اسلامي امارت واکمني مراجع بايد:

- متعلمين، محصلين، د مدارسو شاګردان په هره سويه کې د ميراث د علم سره اشنا کړي.
- په پورته صنفونو کې د ميراث علم د اصلي او لازمي مضمون په توګه حتمي او ضروري ولولي.
- عامو مسلمانانو ته روښانه کړي چې ښځې ستاسې خويندې، ميندې او لوڼه دي، ستاسې سره په ميراث کې شريکې دي، او د کمونستانو د عقيدې په شان چې وايي: "که ښځو ته ميراث ورکړل شي نو سرمايه به وپاشل شي"، حقيقت داسې نه دی.

د مثال په توګه، که هر ورور خپلې خور ته ميراث ورکړي او خور يې هم قبض او خپل کور ته انتقال کړي، نو د ورور کور ته هم يوه ښځه د کور ودانې په توګه راتلونکې ده. نو په دې کې د سرمايې پاشل متصور نه دی، او د هيچا تاوان نه کيږي.

په دې توګه، که ښځو ته د ميراث ورکړه عملي شي، يو طرفته به د الله ﷻ حکم پرځای او عملي شوی وي، او د بل طرف څخه به د ښځو حقوق ادا شوي وي.

که د امر بالمعروف او نهی عن المنکر، ارشاد، حج او اوقاف، د اطلاعاتو او کلتور، د لوړو زده کړو او معارف وزارتونه او ستره محکمه په دې کار کې په اخلاص سره همکاري وکړي، نو مسئله به په ډيره ښه توګه حل شي.په خورا درنښت،

خليل الرحمن صديقی
د سلام پوهنتون، د فقه او قانون
ماستري پروګرام محصل

## ملخص البحث

يتناول هذا البحث موضوع ميراث المرأة ومقاصد الشريعة الإسلامية فيه، وقد تم إعداد هذا البحث وإكماله تحت إشراف الأستاذ الفاضل المشفق الدكتور وزير محمد (السعيدي).

وخلاصة هذا البحث فيما يلي:

1. اشتمل البحث على التعريف بالميراث ومقاصد الشريعة، وبيان أهميتهما وضرورتهما بصورة تفصيلية.
2. تناول البحث أركان الميراث، وشروطه، وأسبابه، وأدلته، وموضوعه، وغايته، وفضله، ومكانته، وامتيازات نظام الميراث في الشريعة الإسلامية مقارنةً بغيرها من الأنظمة، مع بيان مصادره، وأهم مصطلحاته، والتاريخ التشريعي للميراث.
3. أجاب البحث عن السؤال المهم: لماذا جعل الإسلام في بعض الحالات نصيب المرأة نصف نصيب الرجل في الميراث، مع بيان الحكم والمقاصد الشرعية من ذلك.
4. كما بيّن البحث منهجية الكتابة، والصعوبات التي واجهت الباحث، وحالات الميراث، ومقاصد الشريعة في ميراث المرأة، مع عرض آراء المستشرقين واعتراضاتهم والرد عليها بالتفصيل، ثم ختم البحث بالنتائج والتوصيات.

# دقرآنی ایتونو فهرست



| گڼه | آیت | سورة | صفحه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ﴿كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ﴾ | سورة الحشر | ۱۹ |
| ۲ | (وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ | سورة النساء | ۳۸ |
| ۳ | (وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ | سورة النساء | ۶۱ |
| ۴ | لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا...﴾([1]). | سورة النساء | 2۷ |
| ۵ | آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا | سورة النساء | ۳۴ |
| 6 | وْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَاتَّبَعُوكَ | سوؤة التوبة | ۴۳ |
| 7 | مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ | سورة البقره | ۴۷ |
| 8 | ﴿وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ﴾([2]). | سورة النساء | ۳۵ |
| 9 | ﴿وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ﴾ | سورة النحل | ۴۲ |
| 10 | ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا﴾ | سورة الاسراء | ۵۰ |
| 11 | وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ | سورة النور | ۵۲ |
| 12 | ﴿وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا﴾ | سورة الفجر | ۵۱ |
| 13 | يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ | سورة النساء | ۳۸ |
| 14 | وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ | سورة النساء | ۳۸ |
| 15 | وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ | سورة النساء | ۶۱ |
| 16 | وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ | سورة النساء | ۶۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 17 | فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ | سورة ال عمران | ٦٥ |
| 18 | مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ | سورة النحل | ٦٥ |
| 19 | إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ | سورة الاحؤاب | ٦٦ |
| 20 | وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ | سورة التوبة | ٦٦ |
| 21 | يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا | سورة الحجرات | ٦٦ |
| 22 | وَإِنْ كَانُوا إِخْوَةً رِجَالًا وَنِسَاءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ | سورة النساء | ٣٨ |
| 23 | لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ | سورة النساء | ٧١ |
| 24 | { وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ } | سورة الاسراء | ٩٣ |
| 25 | { لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ ... } | سورة النور | ٩٤ |
| 26 | { لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ } | سورة البقرة | ٩٤ |
| 27 | أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ | | |

## د نبوي احاديثو فهرست



| صفحه | حديث | ګڼه |
|---|---|---|
| ۲ | «وأفرضهم زيد بن ثابت | ۱ |
| ۲۱ | مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ | ۲ |
| ۴۲ | القصد القصد تبلغوا | ۳ |
| ۴۸ | »لَا يَرِثُ المُسْلِمُ الكَافِرَ، وَلَا الكَافِرُ المُسْلِمَ | 4 |
| ۴۹ | »لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ | 5 |
| ۵۲ | ليس للقاتل شيء وإن لم يكن له وارث | 6 |
| ۵۸ | (الغرم بالغنم) | 7 |
| ۵۸ | إِنَّكَ أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً | 8 |
| ۵۸ | لِلْابْنَةِ النِّصْفُ وَلِابْنَةِ الِابْنِ السُّدُسُ وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ | 9 |
| ۹۰ | (فَاتَّقُوا الله في النِّسَاءِ، فَإِنكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِة الله، | 10 |
| ۹۰ | «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنَهُمْ خُلُقًا، وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ» | 11 |
| ۹۰ | وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ | 12 |
| ۹۰ | خيركم خيركم لأهله وأنا خيركم لأهلي | 13 |
| ۹۰ | يَا حُمَيْرَاءُ أَتُحِبِّينَ أَنْ تَنْظُرِي إِلَيْهِمْ | 14 |
| ۹۱ | من يصبر على سوء خلق امرأته فله بكل يومٍ وليلةٍ | 15 |
| ۹۱ | إذا استقر الماء في رحم المرأة كان لها مثل أجر الصائم القائم | 16 |
| ۹۱ | و إنا معشر النساء محصورات مقصورات قواعد بيوتكم و مقضى شهواتكم | 17 |
| ۹۳ | لا فضل لعربي على أعجمي، ولا أبيض على أسود إلا بالتقوى | 18 |
| ۹۳ | النساء شقائق الرجال | 18 |
| ۹۳ | الخلق كلهم عيال الله، وأحبهم إليه أنفعهم لعياله | ۱۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ٢٠ | ((إذا سمعتم بالطاعون بأرض فلا تدخلوا عليها...)) | ٩٣ |
| ٢١ | آمروا النساء في بناتكم | ٩٣ |
| ٢٢ | ( البكر تستأذن ... والثيب أحق بنفسها ) | ٩٣ |

## د اعلامو فهرست


| گڼه | اعلام | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم | ۱ |
| ۲ | حضرت ابوبکر صدیق | ۲ |
| ۳ | حضرت عمر فاروق رضي الله عنه | ۲ |
| ۴ | زید بن ثابت رضي الله عنه | ۲ |
| ۵ | حضرت انس رضي الله عنه | ۲ |
| ۶ | حضرت علي بن ابي طالب رضی الله عنه | ۲ |
| ۷ | عبدالله بن عباس رضی الله عنه | ۲ |
| ۸ | عبدالله بن مسعود رضی الله عنه | ۳۹ |
| ۹ | سراج الدین محمد بن عبد الرشید السجاوندي | ۴ |
| ۱۰ | میر سید الشریف علي بن محمد جرجاني | ۴ |
| ۱۱ | شیخ عبدالعزیز بن عبدالله بن باز رحمه الله | ۴ |
| ۱۲ | شیخ سعد بن ترکي الخثلان | ۵ |
| ۱۳ | دکتورصالح بن فوزان عبدالله الفوزان | ۵ |
| ۱۴ | علامه شاطبي رحمه الله | ۵ |
| ۱۵ | علامه ابن عاشور رحمه الله | ۵ |
| ۱۶ | عز بن عبد السلام رحمه الله | ۵ |
| ۱۷ | ابن قدامه رحمه الله | ۱۵ |
| ۱۸ | الامام القرطبی رحمه الله | ۱۵ |
| ۱۹ | إبراهیم علیه الصلاة والسلام | ۱۶ |
| ۲۰ | ابن تیمیه | ۴۴ |
| ۲۱ | علامه آمدي | ۴۳ |
| ۲۲ | امام شاطبي | ۱۹ |
| ۲۳ | امام طاهر ابن عاشور | ۴۵ |
| ۲۴ | علامه سید ابوالحسن علي ندوي رحمه الله | ۶۳ |
| ۲۵ | ناپلیون | ۶۳ |
| ۲۶ | حمورابی | ۶۴ |
| ۲۷ | استاذ (N .L. Coulsen) | ۶۸ |

# مصادر او مراجع


1. القرآن الكريم.
2. الآمدي، أبو الحسن علي بن أبي علي الثعلبي (ت 631هـ)، *الإحكام في أصول الأحكام*.
3. أحمد بن حنبل، *مسند أحمد*، القاهرة، ط1، 1416هـ.
4. أحمد نكري، قاضي عبد النبي، *جامع العلوم في اصطلاحات الفنون*، بيروت، 1421هـ.
5. ابن الأثير، *النهاية في غريب الحديث* )إن وُجد ضمن استعمالك.(
6. ابن المنذر، *الإجماع*، دار المسلم، 1425هـ.
7. ابن جبرين، عبد الله، *شرح عمدة الأحكام* )دروس صوتية.(
8. ابن حبان، *صحيح ابن حبان*، مؤسسة الرسالة، 1408هـ.
9. ابن حزم (إن استعملته).
10. ابن رشد الحفيد، *بداية المجتهد ونهاية المقتصد*، القاهرة، 1425هـ.
11. ابن رشد، *البيان والتحصيل*، بيروت، 1408هـ.
12. ابن سيده المرسي، *المخصص*، بيروت، 1417هـ.
13. ابن عاشور، *مقاصد الشريعة الإسلامية*، تونس، 1984م.
14. ابن عبد الرزاق الصنعاني، *المصنف*، القاهرة.
15. ابن عابدين، *رد المحتار على الدر المختار*، بيروت، 1412هـ.
16. ابن عرفة الرصاع، *شرح حدود ابن عرفة*.
17. ابن قدامة، *المغني*، القاهرة.
18. ابن ماجه، *سنن ابن ماجه*، بيروت.
19. ابن منظور، *لسان العرب*، بيروت، 1414هـ.
20. ابن تيمية، *مجموع الفتاوى*.

**ب**

21. البغوي، *مشكاة المصابيح*، بيروت، 1985م.
22. البسام، عبد الله، *توضيح الأحكام من بلوغ المرام*، مكة.
23. بدائع الصنائع، الكاساني، بيروت.

**ت**

24. الترمذي، *سنن الترمذي*، مصر.
25. التهانوي، *كشاف اصطلاحات الفنون*.
26. التويجري، *موسوعة الفقه الإسلامي*.

**ج**

27. الجرجاني، *التعريفات*، بيروت.

**ح**

28. الحصني، *كفاية الأخيار*، دمشق.
29. الحلبي (ابن الشحنة)، *لسان الحكام*.

**د**

30. الدارمي، *سنن الدارمي*.
31. الدرداكة، ياسين أحمد، *الميراث في الشريعة الإسلامية*.
32. الدسوقي، *حاشية الدسوقي*.
33. الديب، عبد العظيم، *فريضة الله في الميراث*.

**ر**

34. الرملي، *نهاية المحتاج*.

**ز**

35. الزحيلي، وهبة، *الفقه الإسلامي وأدلته*.
36. الزرقاني، *شرح مختصر خليل*.
37. الزيلعي، *تبيين الحقائق*.

**س**

38. السرخسي، *المبسوط*.
39. السباعي، مصطفى، *شرح قانون الأحوال الشخصية*.
40. السيد سابق، *فقه السنة*.

**ش**

41. الشاطبي، *الموافقات* و *الاعتصام*.
42. الشافعي، *مسند الإمام الشافعي*.
43. الشعراوي، *مكانة المرأة في الإسلام*.

**ص**

44. الصابوني، *المواريث في الشريعة الإسلامية*.

**ع**

45. عبد السلام، عز الدين، *قواعد الأحكام في مصالح الأنام*.
46. عبد العاطي، *المقاصد الشرعية وأثرها في الفقه الإسلامي*.
47. عبد الباقي، مصباح الله، *مذكرة في مقاصد الشريعة*.
48. عمارة، محمد، *التحرير الإسلامي للمرأة*.

**ف**

49. الفرغاني (المرغيناني)، *الهداية*.

**ق**

50. القزويني، *سنن ابن ماجه*.
51. قونوي، *أنيس الفقهاء*.

**ك**

52. الكاساني، *بدائع الصنائع*.

**م**

53. الماوردي، *الحاوي الكبير*.
54. مسلم، *صحيح مسلم*.
55. المرسي (ابن سيده)، *المخصص*.
56. المعجم الوسيط، مجمع اللغة العربية.

**ن**

57. النسائي، *السنن الكبرى*.
58. النسفي، *تفسير النسفي*.
59. النووي، *روضة الطالبين*.

**هـ**

60. الهداية، المرغيناني.

**و**

61. عورتاني، ورود عادل، *أحكام ميراث المرأة*.

**ي / نور**

62. ندوي، أبو الحسن علي، *مكانة المرأة في الإسلام*.

**انترنېتي ماخذونه:**

63. Mark Cartwright, *Women in Ancient Greece*, World History Encyclopedia.
64. صابر أحمد طه، نظام الأسرة في اليهودية والنصرانية والإسلام (انترنت)

# Summary of the Research

This research has been conducted on the topic of *women's inheritance and the objectives of Islamic law (Maqāṣid al-Sharīʿah) therein*. It was completed under the supervision and guidance of the respected and compassionate supervisor, Professor Wazir Muhammad (Saʻeedi).

The summary of this research is as follows:

1. This study provides a detailed introduction to the concept of inheritance and the objectives of Islamic law, highlighting their significance, importance, and necessity.
2. The research thoroughly discusses the pillars, conditions, causes, evidences, subject matter, purpose, virtues, and distinctions of the Islamic law of inheritance compared to other legal systems. It also elaborates on the primary sources, key terminologies, and the historical development of inheritance law in Islam.
3. One of the central questions addressed in this research is why Islam, in certain cases, grants women half the share of men in inheritance, and the wisdom and objectives behind this ruling.
4. Furthermore, the study explains the research methodology, challenges faced during the writing process, the various cases of inheritance, and the objectives of Sharīʿah in women's inheritance. It also examines the views and objections of Orientalists and provides detailed responses. The research concludes with findings and practical recommendations.

Salam University
Faculty of Sharia
Master Program in Jurisprudence & Law

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# The Objectives of Shariah in Women's Inheritance

(Master's Thesis)

Student: Khalil Ur Rahman "Siddiqi"
Supervisor: Prof. Wazir Mohammad "Saeedi"

Year: 2026

Salam University
Faculty of Sharia
Master Program in Jurisprudence & Law

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# The Objectives of Shariah in Women's Inheritance

(Master's Thesis)

Student: Khalil Ur Rahman "Siddiqi"
Supervisor: Prof. Wazir Mohammad "Saeedi"

Year: 2026